بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** د تجارت حقوق

**څانګه:** اداره او منجمنټ، بانکداري او د تجارت اقتصاد

**راټولونکی:** عبدالحی ناصري

**ژباړن:** محمد اشرف وحدت

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزایي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د علمي تصحیح کمېټه:**

- عبدالجمیل ممتاز
- نورالله حقمل

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** عبدالله شاهي

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۹۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**د ISBN کډ:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۸۳-۵



Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان

په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پېغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلي دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغېزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همدارز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکي | سرليکونه | مخ |
|---|---|---|
| **لومړی** | کليات | ۱ |
| **دويم** | د تجارت د حقوقو تاريخي سير | ۹ |
| **درېيم** | د تجارت د حقوقو منابع | ۱۵ |
| څلورم | تجارتي معاملات | ۲۳ |
| پنځم | سوداگر (تاجر) | ۳۵ |
| شپږم | تجارتي قراردادونه | ۵۵ |
| اووم | سوداگريز اسناد | ۶۹ |
| اتم | ديوالي کېدل (افلاس) | ۷۹ |
| نهم | بانکوالي | ۹۱ |
| لسم | د سوداگريزو شخړو حل | ۹۹ |
| سرچينې او اخځليکونه | | ۱۰۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د حقوقــو د علم د هــرې څانګې مطالعه علاوه پر دې چې د شــخص علمي وړتیا لوړوي، له اجتماعي، حقوقي، اقتصادي سیاسي او قضايي مسايلو په اړه یې د سالم درک او استنباط ځواک هم زياتوي، او طبعاً له دې لارې حقوقي او اجتماعي ستونزې راکموي او حقوقو ته د اجتماعي عدالت د تأمينوونکو په سترګه ګوري.

حقوقــي قواعــدو د جرايمو او ارتباطاتو په زياتېــدو سره پراختيا موندلې چې په نتيجه کې په مختلفو څانګو وېشــل شــوې ده چې يوه له دغو څانګو څخه د تجارت حقوق دي، دغه څانګه په مختلفو هېوادونو کې په بيلابيلو نومونو سره يادېږي.

تجــارت د هېوادونو په ســوکالۍ کې اســاسي ونډه لــري، له همدې امله د تجــارت حقوق د خصوصي حقوقو يوه له مهمو څانګو څخه ده، که د ماشينرۍ، ترانسپورټي، مخابراتي او نور معاصر اقتصــادي تحولات وڅيړل شي، نو ليدل کيږي چې د يادو شــويو اجتماعــي او اقتصادي عواملو په نتيجه کې تر پخوا زيات پراخ شــوي او وده کوي، دغه وده او انکشــاف غوښتنه کوي څو د بشري ټولنــې د مختلفو اقتصادي فعاليتونو د تنظيم لپاره يو لــړ قوانين او مقررات رامنځ ته شي، چې د تجارت حقوق همدغه دنده په غاړه لري.

نــن ورځ په زياتره هيوادونو کې، مدني حقوقو د خصوصي حقوقو يوه برخه تشــکيل کړې ده چې د تجارت د حقوقو، بحري حقوقو او فضايي حقوقو په څير نورې څانګې يې په مســتقل ډول تر خپلو خاصو مقرراتو لاندې عمل کوي.

د تجارت د حقوقو د اړونده مقرراتو په هکله پوهاوی د اداري او حســابدارۍ د انستيتيوتونو د محلصينــو لپاره خــورا زيات اهميت لري، ځکه د تجارت حقوق لکــه چې و به يې لولو د مدني حقوقو د يوې مستقلې څانګې په توګه د حقوقي اعمالو يوه معينه ساحه تظيموي، له بله پلوه د محاکمو او خاصو تجارتي قوانينو موجوديت د دې غوښتنه کوي، څو د دغو مقرراتو د ځانګړتياوو په برخه کې په جلا توګه تحقيق وشي، تر څو په يوه مدني او تجارتي قضيه کې د تطبيق کېدونکي قانون په تعيين کې د اشــتباه له ارتکاب څه مخنيوی وشي او په دې توګه اجتماعي عدالت په ښــه توګه عملي شي.

د تجارت حقوق د خصوصي حقوقو له څانګو څخه ده، او د دغې څانګې خاصو اړتياوو ته په کتنې سره دغه څانګه له مدني حقوقو څخه په مستقل ډول تجارتي اعمال تنظيموي.

دې ته مو بايد پام وي چې له مدني حقوقو څخه د دغو حقوقو جلا والی نسبي دی نه مطلق، ځکه مدني حقوقو ته په پام سره د تجارت د حقوقو ساحه کوچنۍ ده او مدني حقوق د افرادو تر منځ ټولو خصوصي روابطو لکه پير او پلور، رهن، کرايه، وديعت، طلاق، واده، مهر، نفقه او داســې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور ته شامل دي، په داسې حال کې چې د تجارت حقوق تر یوې خاصې ډلې اشخاصو (تاجران او تجارتي شرکتونه) او خاصو تجارتي معاملاتو پورې اړوند قواعد او دشاتیر دي.

لکه چې مخکې یادونه وشوه د مدني حقوقو ساحه د تجارت د حقوقو ساحې ته په کتنې سره پراخــه ده، نــو له دې امله که چیرې د تجارت په حقوقو کــې د کومې موضوع وړاندوینه نه وي شــوې په دې صورت کې د موضوع د حل لپاره باید مدني حقوقو ته مراجعه وشي او موضوع حل او فصل کړای شي.

په دغه کتاب کې لاندې مطالب شامل دی:

د تجارت د حقوقو تعریف، د تجارت د حقوقو منابع، د تجارت د حقوقو د مقرراتو د انکشاف تاریخــي بهیر، تجارتي معاملات، تاجر، د تاجر حقوق او مکلفیتونه، تر دیوالیتوب (ورشکســتګۍ) پورې اړوند مقررات، تجارتي اسناد، بانکداري، د تجارتي منازعاتو حل لارې او دېته ورته نور حقوقي موضوعات

**په درناوی**

**عبدالحي ناصري**

## د کتاب ټولیزه موخه:

په تجارتي مسائلو کې د محصیلنو لازمې وړتیاوې پیدا کول، د تجارتي او مدني چارو تفکیک او دغه راز د تجارت او نورو قوانینو د ارزښت، تطبیق او پیژندنې په برخه کې د هغوی وړتیا لوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## کلیات

**ټولیزه موخه:**

د تجارت د حقوقو په اړه معلومات، په حقوقي پوهه کې یې ځای او له مدني حقوقو څخه یې د نسبي استقلال دلایل.

**د زده کړې موخې:** د دغه فصل له لوستلو وروسته به محصلین و توانیږي چې:

- د تجارت د حقوقو په اړه عمومي پوهه حاصله کړي.
- په نورو علمي حوزو کې د حقوقو ځای وپېژني.
- په تجارتي معاملو کې د عمل د سرعت قاعده توضیح کړای شي.
- د تجارت په ساحه کې خاص اسناد بیان کړای شي.
- په تجارت کې د دولت په ونډه و پوهیږي.

تجــارت د هیوادونو په وده او اقتصاد کې لویه ونــډه لري، له همدې امله د تجارت حقوق د خصوصي حقوقو له مهمو څانګو څخه ګڼل کیږي، که اقتصادي تحولات او د ماشــین آلاتو توســعه وځېړل شي، نو لیدل کیږي، چې د دغو علتونو له کبله د خلکو اجتماعي روابط زیات شوي دي او له کبله یې، له انګلســتان، هالنډ، ایتالیا او ســویس پرته، د نړۍ په زیات شمېر هیوادونو کې مدني حقــوق د خصوصي حقوقو یوه برخه ګرځېدلې ده، چې د تجارت، بحري او فضایي حقوقو په څېر څانګې یې د خپلو مقرراتو تر سیوري لاندې په مستقله توګه عمل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تجارت د حقوقو تعریف

تجــارت لــه اقتصادي پلوه هغو عملیاتــو ته ویل کېږي شي چې د ثروت تــر توزیع او د هغه ترکارولو او جریان پورې منحصر وي، خو د تجارت د حقوقو د علم دایره پراخه ده اوصنعت اړوند عملیات هم په بر کې نیسي او یوازې تر منقولو اموالو پورې اړونده چارې، هغه هم د یو شــمېر هیوادونو د قوانینو په موجب، ورڅخه مستثنی شوې دي.

د تجارت حقوق، د هغو قواعدو او اصولو ټولګه (مجموعه) ده چې د سوداګرو او سوداګریزو چــارو ترمنځ حقیقي روابط او معاملات تعریف او تنظیموي، خو دغه موضوع په کلي ډول نه ده حل شــوې چې آیا د تجارت حقوق، تر ســوداګر (تاجر) پورې مربوط دي او که تر تجارتي اعمالو پورې، په دې برخه کې دوه متفاوت سیستمونه موجود دي چې دا دي دلته یې لولو.

## د آفاقي یا موضوعي سیستم په اساس د تجارت د حقوقو تعریف

د دغه سیســتم په اساس لومړی تجارتي معاملات توصیف شــوي او وروسته د تاجر او تجارتي شرکتونو اوصاف تعیین شوي دي، په بل عبارت په دغه سیستم کې تجارتي معاملات اساس او هدف دي او هر شخص چې دغه معاملات ترسره کوي، تاجر (سوداګر) ګڼل کیږي.

د دغه سیستم له مخې چې د فرانسې د تجارت له حقوقو څخه سرچینه اخلي، د تجارت حقوق تر تجارتي معاملاتو پورې له اړوندو قواعدو څخه عبارت دي، په دې معنی چې په دغه سیستم کې لومړی تجارتي معاملات د قانون په واسطه تعیین او تشخیص کیږي او وروسته بیا تاجر یا سوداګر، بنــاءً هر هغه څوک چې دغه اعمال ترسره کوي، تجارتي اعمال بلل کیږي او څرنګه چې شــخص د عمل تابع دی، نو تاجر بلل کیږي.

## د انفسي یا شخصي سیستم په اساس د تجارت د حقوقو تعریف

په دغه سیستم کې د مخکني سیستم په خلاف لومړی تاجر تعریف شوی او تجارتي شخصیتونه یــې معین کړي دي او وروســته ټول هغه معاملات چې د هغــه د تجارتي چارو د پرمخ بیولو لپاره وي، چې په حقیقت کې تجارتي معاملات د اشــخاصو تابع دي. د دغه سیســتم په اســاس چې د آلمان د تجارت د حقوقو له سیســتم څخه سرچینه اخلي، د تجارت حقوق د تاجر له حقوقو څخه عبارت دي.

د افغانســتان د تجارت د حقوقو اســاس که څه هم چې له دواړو یادو شویو سیستمونو څخه متأثر دی، خو زیاتره د آفاقي سیستم ښکارندويي کوي، په لنډه توګه ویلی شو چې د تجارت حقوق هغو ځانګړو خصوصیاتو ته په پام سره چې لري یې، هم تر ځانګړو اعمالو یعنې تجارتي معاملاتو پورې او هم تر معینو اشــخاصو یعنې تاجر او تجــارتي شرکتونو پورې مربوط دي، خو څرنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه ننــۍ نړۍ کې دولتونه د افرادو، تولید او د ثــروت پر توزیع باندې لړ او ډېره څارنه او نظارت کوي، نو تجارتي اشخاص مؤظف دي چې د عمومي حقوقو له مقرراتو څخه هم متابعت وکړي.

د تجــارت حقــوق چې له پیل څخه د خصــوصي حقوقو برخه ګڼل کېدل، لــه نن ورځ یې له عمومي حقوقو سره دوامداره روابط حاصل کړي دي.

د یادونې وړ ده چې مدني حقوق د ټولو افرادو حقوقي روابطو ته شــامل دي، په داســې حال کې چې د تجارت حقوق له هغو خاصو قواعدو څخه عبارت دي چې د ســوداګرو او ســوداګریزو چارو لپاره په پام کې نیول شــوي دي، په هغو مواردو کې چې د تجارت حقوقو د کومې موضوع پــه اړه د صریحو قواعدو وړاندوینه نه وي کــړې، مدني حقوقو ته مراجعه کیږي، په عمومي ډول د تجــارت د حقوقو او مدني حقوقو تر منځ کلي تفاوت شــته چې پــه خپله د تجارت د حقوقو د استقلال او جلا والي ښکارندویي کوي.

## د نورو علومو او حقوقو په منځ کې د تجارت د حقوقو ځای

د تجارت حقوق اساساً د خصوصي حقوقو له څانګو څخه دي او تر ډېره وخته د مدني حقوقو د یوې برخې په توګه پېژندل کېده، اقتصادي تحولات، د معاملاتي عمل سرعت او تجارتي فعالیتونه باعث شول څو دغه څانګه د خصوصي حقوقو د یوې مستقلې څانګې په توګه د تجارت د حقوق تر نامه لاندې را منځ ته شي، هغه علتونه چې د حقوقو دغه څانګه یې د خصوصي حقوقو له نورو څانګو څخه جلا کړې ده په لاندې ډول دي:

## په تجارتي معاملو کې د عمل د سرعت اصل

مدني ژوند د ثبات او اســتقرار خاصیت لري، د قانون موخه د دغه ثبات او اســتقرار ساتنه ده چې دا یو ډول مدني قانون دی، ځکه د هغه هدف هم د ثبات او اســتقرار تحقق دی، خو تجارتي ژوند داســې نه دی او داســې ملحوظات پرې واکمن دي چې په نتیجه کې یې له مدني ژوند سره توپیــر پیــدا کوي، دا ځکه چې د تجارت هدف د مفاد کســب او لاس تــه راوړل دي او د مفاد د حصول وسیله د ثروت اړول را اړول او مکررې تجارتي معاملې ترسره کول دي، بناءً د عمل سرعت او چټکتیا د تجارت مهم رکن ګڼل کیږي، دا معقول کار نه دی چې ســوداګر د هر کار لیکلو ته اړ ایســتل شي، ځکه دا کار زیات وخت نیسي او لــه امله یې چارې له ځنډ سره مخ کیږي، له همدې کبله په مدني قانون کې ګڼ شــمیر قواعد او مقررات لکه: د حوالې له نورو اجراآتو پرته په مجرد ظهــر لیکنــې سره د تجارتي اوراقو د تداول د اثبات د آزادۍ اصل او یا د تجارت په اصول نامه کې د دې خبرې منل چې» تجارتي دفاتر د هغو د خاوندانو لپاره حجت (دلیل) دی«.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادونې وړ ده چې تجارتي عقود او د هغوی اجراء سرعت ته اړتیا لري او په هره اندازه سره چې شـتمنۍ چټک دوران کـوي، په هماغه اندازه د شرکتونو فعالیتونـه او تجارتي خدمات فعاله کیـږي، لـه همدې کبله د تعهداتو د تحقق لپاره د تجارت په حقوقو کې د عمل آزادي زیاته ده او په عمومي توګه د تجارتي قراردادونو انعقاد، د تشریفاتو او دلیل د وړاندې کولو له لحاظه په لیکنه باندې متکي نه دی او تاجر کولای شي په شفاهي ډول یا هم له ارتباطي وسائلو څخه په استفادې سره قرارداد منعقد کړي.

د تجارت د اصول نامې ۶۰۸ ماده په دې اړه داسې وایي: د تجارتي عقودو لپاره د طرفینو رضا او موافقت کافي دی، د قرارداد تنظیم او یا د نورو مراسمو پرځای کول لازمي نه دي.

## د تجارت د حقوقو په ساحه کې اعتبار او اعتماد

دا موضـوع له دې املـه ضروري بلل کیږي چې د سرعت عنصر په یـوازې توګه ډېرې تجارتي معاملې نشي ترسره کولی، ځکه نقدي اموالو ته د پیسـو د اړتیا احتمال وجود لري او له هغو پرته تجارتي معاملات نشي ترسره کیدلی، بناءً د تجارتي معاملاتو له اساساتو څخه یو هم اعتبار او اعتماد دی، ځکه تجارتي اشخاص خپلې ډېرى معاملې د قرض او اعتماد په اساس سره کوي او د تجارت په سـاحه کې د اعتبار د نه موجودیت په صورت کې دا ضرورت احساسـیږي چې د تجارتي معاملاتو د انجام لپاره یو لړ تشریفات او خاص شـکلیات په نظر کې ونیول شي او په هغه صورت کې چې سوداګر په مطلق ډول سره په خپل تعهد باندې عمل ونه کړي، عام له دې که دغه تعهد له دائنینو سره وي یا په عمومي ډول له معامله لرونکو سره، نو د سوداګر اعتبار تر پوښتنې لاندې راځي، له همدې امله اعتبار او اعتماد دوهم او د سرعت د عنصر تکمیلوونکی عنصر دی.

## د تجارت په ساحه کې د خاصو اسنادو موجودیت

د تجارت په حقوقو کې هغه تجارتي اسناد چې د مطالباتو، ملکیتونو او تجارتي توکو ښکارندوی دی، له سـاده تشریفاتو څخه بلل کیږي، دغه اسـناد عبارت دي له: برات، چک، د قرضې اسناد، تر تجارتي ګدامونو پورې اړوند اسناد او داسې نور...

دغـه خصوصیت د دې غوښـتنه کوي چې د تجارتي اختصـاصي محاکمو د اجراآتو سرعت یا لا اقل د تجارتي چارو شعبات د هغو خاوند ته لازیات تأمینات و رکړي، ځکه د دا ډول اسنادو خاوند کولای شي د خپل تجارت په دیوان کې په هماغه ټاکل شـوي مهلت کې له مدیون څخه خپل دین وغواړي او دا هم پرته له دې چې مدیون د هغه د دین د اداء کولو لپاره د اضافي مهلت او وخت غوښتنه مطرح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په تجارتي چارو کې د دولت مداخله

پــه تجارتي چارو کې د تعهداتو پوره کول د عمل شــدت ته اړتيا لــري، د دې ترڅنګ د خلکو او دائنينــو د اعتماد لپاره په مختلفو هيوادونو کې د تجــارتي امورو د کنټرول لپاره دولتي يا نيمه دولتي تشــکيلات تأسيس شوي دي، ترڅو دائن د اعتماد له مخې د پانګونې اقدام وکړي او په دې توګه د هيواد اقتصادي ژوند ته تحرک او بهبود ور وبخښي، مګر په مدني حقوقو کې د دائنينو له حقوقو لږ حمايت شوی دی، په بل عبارت مدني حقوق د اخيرو اشخاصو په برخه کې ډېر محتاط او د مديونينو په برخه کې ډېر ســخت ګير نه وي، د دغه مطلب د ښــه وضاحت لپاره ويلی شــو چې د تجارت په حقوقو کې که چيرې يو تاجر و نشي کړلای خپل قرضونه اداء کړي، نو د افلاس يا ورشکستګۍ تر مقرراتو لاندې راځي.

ننن‍ۍ اقتصادي جامعه د عمل د چټکتيا او په اعتبار باندې د متکي تجارت تابع ده او د مدني قانون وچ او کلک قواعد د معاملې د طرفينو د تعهداتو د وړاندې کولو لپاره د چارو د رکود باعث ګرځــي، لــه دې امله د تعهداتو د اثبات او د تجارت تر حقوقو پورې د اړوندو دلائلو لپاره د زياتې آزادۍ او ځانګړو اصولو وړاندوينه شــوې ده، لکــه تجارتي دفاتر چې کولی شي د دائنينو په پلوۍ سره د استناد وړ وګرځي.

د تجــارت په حقوقو کې د مدني حقوقو په خلاف د تعهداتو د اثبات لپاره د عمل زياته آزادي شــتون لــري، په عمومي توګه د تجارتي قراردادونو انعقــاد، د تشريفاتو او دليل د وړاندې کولو له لحاظــه په ليکنه باندې متکي نه دی، تاجر کولی شي خپل قرارداد په شــفاهي يا هم تيلفوني ډول منعقد کړي او په  مختلفو لارو (تجارتي دفاترو، مکاتباتو، مشــهودو عواملو (فاکتورونو) او قرائنو) سره يې ثابت کړي.

د تجارت حقوق د اقتصادي سياست تابع دي او له هغو سره په يو وخت تحول مومي، دولت نن ورځ له ناسالم رقابت څخه د مخنيوي، له کارګرانو او دغه راز له سپموونکو او هغو مصرفوونکو څخه د حمايت او يا هم د عمومي منافعو د ســاتنې لپاره د ناســالم رقابت پر ځای يو ډول خوښې لرونکی اقتصاد قايم مقام ګرځولی دی، په داسې حال کې چې مدني حقوق د کورنۍ او سازمان د حقوقو پر مبنا ولاړ او له آرام تحول څخه برخمن دي.

د تجــارت حقــوق د مدني حقوقو په خلاف د عمومي حقوقو تــر تأثير او د دولت تر مداخلې لانــدې راځي، د حمــل او نقل کنټرول، په خرڅوونو کې د مخنيوي لپاره د ځانګړو جزايي مجازاتو اعمال، په عامو ســهامي شرکتونو کې د تجارت شــغل ته په ورګډيدو باندې محدوديت، د جزايي محکومينو او مفلسانو منع کول، د قبول وړ اداء د مجوز ترلاسه کول، د حمل او نقل په شرکتونو کې د مقرراتو وضع کول، بيمه او داسې نور په تجارتي چارو کې د دولت د مداخلې ښکارندويي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې کیدلی شي دې ټکي ته اشاره وشي چې د ملي ګټو له ساتلو سره د دولتونو له علاقې سره سره، زیاتره وخت د تجارت حقوق د نړیوال تجارت د اړتیاوو د فشــار په نتیجه کې د یووالي لور ته میلان لري او په دې برخه کې د هیوادونو ترمنځ مختلف قراردادونه منعقد شوي دي، لکه په ۱۸۹۰ کال کې د اورګاډي د پټلۍ له لارې د حمل او نقل قرارداد، د هوایي حمل او نقل په اړه د بروکســل قرارداد، د تجارتي اســنادو د برات او حجت په اړه د جینوا د ۱۹۳۰-۱۹۳۱ کلونو بین المللي کنوانســیون او د صنعتي، تجارتي، ادبي او هنري مالکیت په اړه د پاریس او برن (ســویس) د ۱۹۷۹ کال د اکتوبر د ۲۰ قرارداد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي لنډيز

د تجارت حقوق د هغو قواعدو او اصولو ټولګه ده چې د سوداګرو او سوداګريزو چارو ترمنځ معاملات تعريف او تنظيموی.

د تجارت حقوق د فرانسې د آفاقي سيستم په اساس تر تجارتي معاملاتو پورې اړوند حقوق دي، يعني شخص د عمل تابع دی.

د تجارت حقوق د آلمان د انفسي سيستم په اساس د تجار له حقوقو څخه عبارت دي، يعنې په دغه سيستم کې د تاجر حقوق معيار دی، او معاملات د تاجر تابع دي.

د نورو حقوقي علومو په منځ کې د تجارت حقوق د خصوصي حقوقو يوه څانګه ده او تر ډېر وخت د مدني حقوقو يوه برخه ګڼل کيده، اقتصادي تحولات، د تجارتي فعاليتونو او معاملاتو سرعت، په تجارت کې د اعتبار او اعتماد اهميت او په تجارتي چارو کې قرض ونډه هغه علتونه دي، چې دغه څانګه يې د خصوصي حقوقو د يوې مستقلې څانګې په توګه د تجارت د حقوقو تر نامه لاندې د خصوصي حقوقو له نورو څانګو څخه جلا کړه.

بايد وويل شي چې افغانستان له دواړو حقوقي سيستمونو يعنې هم د فرانسې له آفاقي سيستم څخه او هم د آلمان له انفسي سيستم څخه استفاده کړې ده او منځنۍ لاره يې غوره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- د تجارت حقوق کوم دي؟

۲- د نورو حقوقي علومو په منځ کې د تجارت د حقوقو ځای څه دی؟

۳- د تجارت حقوق له کومو مسایلو څخه بحث کوي؟

۴- له مدني حقوقو څخه د تجارت د حقوقو د استقلال ضرورت څه دی؟

۵- د تجارتي اعمالو ځانګړتیاوې څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د تجارت د حقوقو تاریخي سیر

**ټولیزه موخه:**

د تاریخ په اوږدو کې د تجارت د حقوقو تحولات.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلین وتوانیږي چې:

- په پخوانیو زمانو کې د تجارت د حقوقو په وضعیت پوه شي.
- په منځنیو پیړیو کې د تجارت د حقوقو په اهمیت پوه شي.
- په نوې او معاصره اداره کې د تجارت د حقوقو د تحولاتو په بهیر پوه شي.

### د تجارت د حقوقو تاریخي بهیر

د تجارت حقوق د مختلفو اقوامو تر منځ د متداولو رسومو او عاداتو نتیجه ده. د دغې ځانګې مطالعه د هغې د تکاملي بهیر ښوودنه کوي، ځکه د هرې دورې د اړتیاوو په را برسېره کېدو سره د یــو لــړ خاصو اصولو او قواعدو پیروي ضرور بلل کیږي، د دغو اصولو او قواعدو مطالعه چې په اصل کې د تجارتي عرف او عاداتو تابع دي، ســتونزمنه ده، ځکه د تجارت د حقوقو اصول د مدني حقوقو د اصولو په څیر ښکاره او واضح نه دي او د بېلابېلو آثارو او لیکنو له منځه باید د هغوی کیفیت معلوم کړل شي، دغه تحولات دلته په مختصره توګه تر بحث او څیړنې لاندې نیسو.

### پخوانۍ زمانې

په پخواني مصر کې د تجارت له حقوقو څخه کوم مستقل اثر نه ترسترګو کیږي. د پخواني مصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصـــاد پـــه زراعت ولاړ وو او هغه وړوکی تجارت چې ترسره کيدو د بهرنيانو لکه يهودانو او يا د بابل د اوسيدونکو په لاس کې و، خو په بابل کې تر ميلاد ۲۰ پېړۍ وړاندې د پيسو د سود، تجارتي شرکت، د تجارتي اموالو د ساتنې او کاري حق په اړه ځينې قواعد ليدل کيږي، هغو کسانو چې په شرقي مديترانه کې يې بحري تجارت کاوه له هغو قواعدو څخه يې پيروي کوله چې په وروســتيو پيړيو کې هم له دغو قواعدو څخه پيروۍ ادامه درلوده.

يونانيانو چې له ميلاد څخه ۷ پېړۍ وړاندې يې د مديترانې بحري تجارت په لاس کې اخيستی و، د تجارت په اړه قواعد يې نه دي ترلاســه شــوي او داسې ښکاري چې د تجارت د حقوقو اصول او قواعــد يې عادي مقررات او مدني حقوق وو. د يونانيانو د زمانې يوازې ځينې رســوم پاتې دي، لکه د کښــتۍ په وســيله تجارانو ته د هغوی د اموالو د حمل لپاره په دې شرط قرض ورکول چې که تجارتي اموال مقصد ته ورسيدل نو قرض ورکوونکي ته به د پام وړ ګټه ورکوي، له دې پرته قرض اخيستونکی د قرض يا دين د اداء مسؤل نه و، په همدې توګه د حوالې او برات په اړه هم له يونانيانو څخه ځينې آثار تر سترګو کيږي، لنډه دا چې  د يونانيانو تر منځ تجارتي کړو وړو يو منظم شکل درلود.

## منځنۍ پيړۍ

پــه اروپا کې د ۵ قرن له حملو او ګډوډيو وروســته تــر ۱۰ ميلادي پيړۍ پورې تجارت کومه د پام وړ وده نه درلوده، تجارت له يوولســمې ميلادي پيړۍ څخه تر پنځلسمې هغې پورې ښه وده وکړه چې دغه دوره د تجارت د ښــېرازۍ دوره ده او ويلی شــو چې د تجارت د نړيوال کېدو دوره هم ده، د دغې وضعې د منځته راتګ عوامل له سياسي، مذهبي او صنفي عواملو څخه عبارت دي.

يادو شــويو عواملو ته په پام سره دغه مرحله د ګڼ شــمير حقوقي تأسيساتو د ايجاد دوره ده چې نن ورځ هم د تجارت په حقوقو کې موجود دی، لنډه دا هغه څه چې نن د تجارت د حقوقو په نامه ياديږي په ديارلسمه او څوارلسمه پيړۍ کې خپلې لوړې مرتبې ته رسيدلي وو.

له دغه تاريخ وروسته په ځانګړي ډول له شپاړسمې پيړۍ را پدېخوا د تجارت حقوق خپل نزولي ســير پيلوي او داســې يوه دوره پيل کيږي چې د تجارت د حقوقو د ملي کيدو عصر يې بللی شــو او دولتونــه د دغــو حقوقو په تدوين کې دخالت کوي، دغې دورې د وروســتۍ پيړۍ تر پايه يعنې تر هغه وخت ادامه پيدا کړه چې د تجارت د حقوقو د نړيوال کيدو لپاره د هيوادونو علاقې تبارز وکړ.

## نوې دوره

دغه دوره له پنځلســمې پيړۍ څخه پيليږي، د دغې دورې د تجارت حقوق د منځنيو پيړيو د تجــارت لــه حقوقو سره توپير لري، په دغه دوره کــې د تجارت حقوق چې په منځنيو پيړيو کې د ســوداګرو د عمل د آزادي محصول ګڼل کيدل او په تجارتي چارو کې د ښــکېلو اشخاصو د اړتياوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اســاس جوړ شــوي وو، دولتي کيږي، چې د تجارت د حقوقو د دولتي کيدو په نتيجه کې يې د نړيــوال کيدو خصوصيت هم له منځه ځي او د تجــارتي قواعدو په تکوين کې د دولت دخالت د تجارت د حقوقو د آزاد تحول لپاره په يوه له حد او مرز پرته آزاده فضاء کې ځای نه پريږدي.

د تجارت حقوق په دغه دوره کې په انګلســتان کې خپل وجودي اســتقلال له لاسه ورکوي او کاملاً منحل کيږي.

په فرانســه کې د تجارانو لخوا جوړ شــوي او رامنځ ته شــوي د تجارت حقوق د پاچا تر نظم لاندې راځي، چې په پايله کې په ۱۸۰۷ کال کې د فرانســې د دولت له لوري تر يوه قانون لاندې د تجارتي عرف او عاداتو د راوســتلو لپاره هڅې زور نيسي او دغه هڅې د تجارت د لومړنۍ اصول نامې د منځته راتګ ســبب کيږي، چې بالآخره د فرانســې د لوی انقلاب په بريالیتوب سره تجارت او صنعت آزاد شــو او طبقاتي نظام چې انقلابيانو ورته په ښــه سترګه نه کتل له منځه يوړل شو، د تجارت حقوق يا د تجارانو حقوق د تجارتي اعمالو په حقوقو واوښتل، البته تجارتي محاکم په خپل ځای پاتې شول چې غړي به يې د تجارانو لخوا انتخابېدل.

پــه ۱۸مــه پيړۍ کې له نوې دنيا سره د تجارتي روابطو پراختيا، د صنعت ترقي، د حمل او نقل پراختيا او هغه نور تغييرات چې په ترځ کې يې د پيسو ارزښت رامنځ ته شو له يوه لوري، د بانکي او صرافي چارو پراختيا او د نويو دولتونو تشکيل له بل لوري د دې باعث کيږي چې هر هيواد خپل ملي قواعد او اصول په ملي چوکاټ کې جوړ کړي او له نړيوال توب څخه يې را وباسي.

## معاصره دوره

صنعتــي انقــلاب او د حمل او نقل پراختيا په اقتصاد او تجارت کې د لوی تحول باعث شــول، په پيل کې د بيروکراتانو د عقايدو تر نفوذ لاندې زياتره دولتونو له آزاد رژيم څخه پيروي وکړه او تجارت د عرضې او تقاضا او کاملې آزادۍ د اصولو تابع و. دولتونو هڅه کوله چې د تجارت اصول او قواعد تر خاصو قوانينو لاندې منظور کړي، په دې ترتيب په زياتره هغو کې د ورځې اړتياوو ته په پام سره تجارتي قوانين تدوين شــول چې د وخت په تېرېدو سره په هغو کې تغييرات راغلل او حتی هغو دولتونو چې جلا تجارتي مقررات يې نه درلودل مجبور شول تر څو په خپلو قوانينو کې د تجارت تر حقوقو پورې اړوند قواعد ځای کړي، حتی په انګلســتان کې د ځينو تجارتي چارو لکه شرکتونو او ديواليتوب (ورشکستګي) په اړه قوانين وضع شول.

په دغه دوره کې بانکي کاروبار، بيمې، بورس او حمل او نقل زياته پراختيا ومونده. د ۱۹ پيړۍ پــه پــای کې په خاصه توګه په ۲۰ پيړۍ کې د تجارت د آزادۍ په اصولو باندې يو لړ محدوديتونه ولګېدل، څکه يو شمېر دولتونو هڅه کوله چې اصلي صنايع ملي کړي او د ټولو چارو په برخه کې خپل نظارت او څارنه تقويه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانســتان کې هغه لوايح او اصول نامې چې مخکې د تجارت د حقوقو په برخه کې تدوين شــوې وې، عمدتاً يې په ډېر ابتدايي شــکل سره د تجارت د حقوقو موضوعات تر څېړنې لاندې نيول، چې د دلالۍ له لايحې، د شرکتونو د ثبت له لايحې، د تجارتي اسنادو او علايمو د ثبت له اصول نامې، د تجارتي دفاترو له لايحې او د افلاس او ورشکستګۍ له اصولنامې څخه د مثال په توګه يادونه کولای شو.

په ۱۳۲۴ ل کال کې د تجارت د اصول نامې په نوم د افغانســتان د تجارت د حقوقو په برخه کې يو تر ټولو نســبتاً کامل قانون تدوين شــو، چې د دغې اصول نامې په انفاذ سره پخوانۍ اصول نامې او لوايح منسوخ شول او دغه قانون له هماغه وخت څخه تر اوسه پورې د افغانستان تجارتي اړتياوو او غوښتنو ته تقريباً ځواب وايي. دغې اصولنامې په څلورو بابونو او ۹۴۰ مادو کې تجارت، تجارتي اهليت، تجارتي معاملاتو، د تجارت د ثبت، تجارتي عنوان، د تجارتي دفاترو، د ناقانونه سيالي، د تجارانو د اســتازو، د ګرځنده تجارتي استازو، د خرڅلاو د مامورانو، په تجارت کې د دلالي، برات، حجت، چک، د تجارتي اســنادو د ضياع، تجارتي عقودو، تجارتي بيعې، تجارتي قرض، تجارتي رهن او دغه راز د بيمې د انتقالاتو او کميشن کارۍ او تجارتي شرکتونو په اړه بحث کړی دی.

سربېــره پــه دې د وخت او زمان اړتياوو ته په کتنې سره يو لړ نور قوانين هم په پام کې نيول شــوي دي چې له دې جملې څخه د کوپراتيفونو، تصديو، د بانکونو د بيمې او بهرنۍ پانګونې له قوانينو او دغه راز د تجارتي محاکماتو له اصولو څخه يادونه کولای شو.

د تجــارتي شرکتونــو، تضامنــي شرکتونــو، تضامنــي مختلفــو شرکتونــو، ســهامي شرکتونو او محدودالمســؤليت يا لميټيډ شرکتونو چارې د نوي قانــون له مخې چې د جمهور رييس په تقنييني فرمان باندې وضع شوی دی، تنظيم شوې دي، د دغه بحث په پای کې د دغې خبرې يادونه لازمه ده چــې نن ورځ د ډېری هيوادونو تــر تجارتي چارو پورې اړوند قوانين يو له بل سره اختلاف لري چې دغه هيوادونه لاندې دريو ځانګو ته ويشلی شو:

۱- هغه هيوادونه چې د تجارت مســتقل حقوق نه لري، په دغو هيوادونو کې د مدني حقوقو په ترڅ کې د تجارت د حقوقو او د هغو اصولو او قواعدو ورانديينه شــوې ده او د تجارتي چارو لپاره ځانګړي قانون وجود نه لري، لکه ايټاليا، انګلستان او د امريکا متحده ايالات.

۲- لاتيــن هيوادونه چــې لږ او ډېر د فرانســې د تجارت د حقوقو له اصولــو او قواعدو څخه استفاده کوي، له بلجيم، هسپانيې او د جنوبي همکارۍ متحده دولتونه، دغه هيوادونه د تجارت مستقل حقوق نه لري او په زياتره هغو کې د تجارتي چارو د پرمخ بيولو لپاره ځانګړي محاکم موجود دي.

۳- د امــن د ډلې هيوادونه، دغه هيوادونه هم د تجارت مســتقل حقــوق نه لري او د آلمان د تجارت د حقوقو له قواعدو او اصولو څخه پېروي کوي، لکه د اسکنديناوي هيوادونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي لنډيز

۱- **پخوانۍ زماني:** په پخواني مصر کې د تجارت له حقوقو څخه کوم مســتقل اثر نه ترســترګو کيــږي، د پخــواني مصر اقتصاد په زراعت ولاړ و او هغه وړوکی تجارت چې ترسره کيدو د بهرنيانو لکه يهودانو او يا د بابل د اوســيدونکو په لاس کې و، خو په بابل کې تر ميلاد ۲۰ پېړۍ وړاندې د پيسو د سود، تجارتي شرکت، د تجارتي اموالو د ساتنې او کاري حق په اړه ځينې قواعد ليدل کيږي. يونانيانو چې له ميلاد څخه ۷ پېړۍ وړاندې يې د مديترانې د بحري تجارت په لاس کې اخيســتی و، د هغې زمانې يوازې ځينې رسوم پاتې دي لکه د کښتۍ په وسيله تجارانو ته د هغوی د اموالو د حمل لپاره په دې شرط قرض ورکول چې که تجارتي اموال مقصد ته ورسيدل نو قرض ورکوونکي ته به د پام وړ ګټه ورکوي.

۲- **منځنۍ پېړۍ:** په اروپا کې تر لســمې ميلادي پېړۍ پورې تجارت چنداني د پراختيا په حال کې نه و؛ خو له يوولســمې پېړۍ څخه تر ۱۵ پېړۍ پورې تجارت ښــه پراختيا ومونده او لنډه دا چې هغه څه چې نن د تجارت د حقوقو په نامه يادېږي په ديارلســمه او څوارلســمه پېړۍ کې خپلې لوړې مرتبې ته ورســيدل او په څوارلسمه پېړۍ کې تجارت نزولي سير درلود چې دغه دوره د تجــارت د حقوقو د ملي کېدو او د دغــو حقوقو په تدوين کې د دولت د مداخلې په دوره سره يادېږي.

۳- **نوې دوره:** دغه دوره له ۱۵ ميلادي پېړۍ څخه پيليږي، په دغه دوره کې په انګلســتان کې د تجارت حقوق هماغه د منځنيو پېړيو د تجارت حقوق وو، په دغه دوره کې په انګلســتان کې د تجارت حقوق خپل اســتقلال له لاســه ورکوي او په مدني حقوقو کې منحل کيږي. په فرانسه کې د دولت د بې دريغه هڅو په نتيجه کې د تجارت لومړنۍ اصولنامه منځ ته راځي.

۴- **معــاصره دوره:** صنعتي انقلاب او د حمل او نقل توســعه په اقتصــاد او تجارت کې د لوی بدلون او تحول باعث شول او زياتره هيوادونو له آزاد رژيم څخه پېروي وکړه او تجارت د عرضې او تقاضا او کاملې آزادۍ د اصولو تابع شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱- آیا د تجارت ننني حقوقو په آني او تصادفي ډول دغه بڼه خپله کړې ده؟

۲- په پخوانیو زمانو کې د تجارت کوم حقوق موجود وو؟

۳- په منځنیو پیړیو کې د تجارت د حقوقو وده څه ډول وه؟

۴- د تجارت د حقوقو په برخه کې د نوې دورې پرمختګونه کوم دي؟

۵- په معاصره نړۍ کې د تجارت حقوق په څه ډول رامنځته کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریيم څپرکی

# د تجارت د حقوقو منابع

**ټوليزه موخه:**

د تجارت د حقوقو د منابعو درک او پېژندنه او د تجارتي منازعاتو د حل و فصل په وخت کې د هغوی رجحان.

**د زدکړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلين په دې پوه شي چې:

- د تجارت د حقوقو منابع کومې دي.
- د حقوقو له نورو څانګو سره د تجارت د حقوقو د منابعو د مراتبو د سلسلې توپير څه دی.
- د تجــارتي قضايــاوو د حل و فصل په برخه کې د تجارت د حقوقــو کومو منابعو ته ترجيح ورکول کيږي.

د حقوقــو هره څانګــه د خپلو منابعو درلودونکې ده، دغه منابع د هرې څانګې د خصوصيت په اساس يو له بل سره تفاوت لري، کله چې د تجارت د حقوقو له منبع او منشأ څخه خبره کيږي مقصد دا دی چې د تجارت د حقوقو دســاتير له کومې منبع څخه سرچينه اخلي او آيا دغه منابع يو پر بل باندې برتري لري او کنه.

د تجارت حقوق مختلفې منابع لري چې په عمومي ډول دغه منابع له قانون، تجارتي مقاولاتو، تجارتي عرف او عاداتو، قضايي رويې او دکتورين څخه عبارت دي.

### قانون

قانــون لــه هغه صريح او معقول تجويز څخه عبارت دی چــې د واکمن هيئت لخوا د فرد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې د تنظيم په موخه وضعه شــوی وي او تطبيق يې له اجبار سره مل وي. په دې اســاس قانون د مراتبو د سلسلې په لحاظ په دوو څانګو ويشل کيږي.

اساسي قانون او عادي قوانين چې البته عادي قوانين او نور تقنيني اسناد له اساسي قانون سره په ټکر کې نشي واقع کيدلای، واقع شي، د افغانستان اساسي قانون د تجارتي فعاليتونو د مشروعيت تضميــن کــړي دی، د دغه قانون ۱۱ ماده داســې صراحت کوي: تر داخــلي او بهرني تجارت پورې اړوندې چارې د هيواد او د خلکو له غوښتنو سره سم د قانون له لارې تنظيميږي.

په افغانستان کې اقتصادي تجارتي فعاليتونه د بازار د اقتصاد په نظام باندې ولاړ دي، د اساسي قانون لســمه ماده په دې اړه داســې وايي: دولت د قانون له احکامو سره مطابق د بازار د اقتصاد پر نظام باندې بناء، خصوصي سرمايه ګذارۍ او تشبثات تشويق او حمايت کوي او مصؤنيت يې تضمينوي.

د افغانســتان د اســاسي قانون صراحت ته په پام سره لاندې قوانين د افغانســتان د تجارت د حقوقو له منابعو څخه شمېرل کيږي:

د افغانســتان د تجــارت اصول نامــه د انفــاذ کال ۱۳۴۳ د ۹۴۵ مادو درلودونکــې، د تجارتي محاکماتــو د اصولو قانــون، د ۳۲۴ مادو لرونکي، د انفاذ کال ۱۳۴۳ د حوت مياشــت، د افلاس او ورشکســتګۍ اصولنامه د ۱۰۱ مادو لرونکې، د انفاذ کال ۱۳۲۱ قوس، د بانکدارۍ قانون د ۱۰۱ مــادو درلودنکی، د انفاذ کال ۱۳۸۲ د دلوې ۳۰ مه، د تجارتي علايمو د ثبت اصولنامه، د خصوصي سرمايه ګذارۍ قانون د ۳۳ مادو لرونکی، د انفاذ کال ۱۳۸۴ د عقرب ۳۰مه.

## تجارتي مقاولات

تجارتي مقاولات يا قراردادونه د تجارت د حقوقو په برخه کې له لومړنيو او اساسي منابعو څخه شمېرل کيږي، دغه کار د حقوقو د نورو څانګو بالعکس د تجارتي اعمالو له هغه خصوصيت څخه سرچينه اخلي چې د معاملاتو طرفين په ټوله اراده او غوښتنه سره هغو ته په اهميت باندې قائل شــوي دي څو په دې توګه د هغوی د شــخړو او دعواوو د حل او فصل لپاره لومړنۍ مرجع وي. همدغه ټکي ته په پام سره د افغانستان د تجارت اصولنامه په خپله دوهمه ماده کې د تجارت د حقوقو د منبع په توګه د مقاولاتو د اهميت او قدرت په اړه داســې صراحت کوي: تجارتي مســائل د معتــبرو قانــوني مقاولاتو په ذريعه حل او فصل کيږي او که دا ډول مقاولات نه وي موجود نو د قانون په موجب او صراحت سره حل او فصل کيږي.

لکه چې د دوهمې مادې له متن څخه معلوميږي، د افغانســتان د تجارت اصولنامې مقاولات د تجــارتي موضوعاتو د حل او فصل لپــاره د لومړنۍ منبع په توګه پيژندلي دي، مقاولات عمدتاً په دوه ډوله دي. الف- داخلي مقاولات ب- نړيوال مقاولات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف- داخلي مقاولات**

د دغــو مقاولاتــو مفهــوم دا دی چې د یوه هیواد د افرادو او اشــخاصو تر منځ د یوې تجارتي موضوع په اړه یو قرارداد منعقد کیږي او د قرارداد په متن کې یو داسې تفاهم کیږي چې د شخړې د رامنــځ تــه کیدو یا د عقد د یوه لوري لخــوا د وجیبې د نه پوره کېدو په صورت کې به قضیه په هغــه ډول حــل او فصل کیږي چې دوی یې وړاندوینه کړې ده او یا دا چې په دغه صورت کې به فلاني قانون د تطبیق وړ وي.

دغــه موضوع د دې ســبب کیږي چې په محاکمو کې د قضایــاوو ګڼه ګونه او تراکم راکم شي او موضوعات په هماغه لومړنۍ مرحله کې د طرفینو په خوښــه حل او فصل شي، په دې اســاس مقاولات د تجارت د حقوقو د دوهمې منبع په توګه د اهمیت درلودنکي دي.

**ب- بین المللي مقاولات**

دغه نوعه مقاولات هم په خپل وار سره په دوه ډوله دي:

**۱- هغه نړیوال مقاولات چې د ذیعلاقه اشخاصو تر منځ منعقد کیږي:**

په دغه ډول مقاولاتو کې ســوداګر او ســوداګریز شرکتونه د خپلو پام وړ موضوعاتو په اړه را ټولیږي او نړیوال کنفرانســونه دایروي او داســې پرېکړه کوي چې هر یــوه چې په دغه کنفرانس کې برخه اخیســتې ده، خپل مقاولات به د فیصله شوې نمونې په بڼه ترتیبوي، د موافقت نامې له تصویب او لاسلیک وروسته سوداګر او د هیوادونو سوداګریز شرکتونه مکلف دي چې له هغو سره سم عمل وکړي.

ځینې ســوداګر او د مختلفو هیوادونو سوداګریز شخصیتونه د یوه واحد اقتصادي سیاست د غوراوي لپاره را ټولیږي او د یوه مشــترک کاري پلان او واحدې ســتراتیژۍ د غوره کولو په اســاس تفاهــم کوي چې که په راتلونکي کې د دغو اشــخاصو تر منځ کــوم اختلاف راځي؛ نو د حــل او فصــل لپاره بــه یې درېیمې مرجــع یا حتی په ځینــو مواردو کې نړیــوال حکمیت (International Arbitration) ته مراجعه کیږي.

**۲- نړیوال دولتي مقاولات:**

دا هغه مقاولات دي چې ذیعلاقه دولتونه د یوه متحدالشــکل تجارتي قانون د رامنځ ته کولو یا د تجارت په برخه کې د تجارتي موضوعاتو د حل او فصل لپاره د مقرراتو په رامنځ ته کولو یا د تجارت په برخه کې د قوانینو د تنازع د له منځه وړلو په موخه په مقاولاتو او بین المللي قراردادونو لاس پــورې کــوي او ګډون کوونکي هیوادونه له هغه قانون څخه پیروي کوي. د مثال په توګه په د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوايي حمل او نقل په اړه ۱۹۲۹م کال کې د اسـلو کنفرانس، د تجارتي اسـنادو په هکله په ۱۹۳۰م کـې د جینـووا نړیوال میثاق، د اورګاډي د پټلۍ لـه لارې د اموالو د انتقال په اړه په ۱۸۹۰م کال کـې د برلیـن معاهده او دغه راز د قوانینو د تنـازع د حل او فصل په برخه کې په ۱۹۳۱ کال کې یو میثاق تدوین شو چې له مخې یې هیوادونه کولی شي خپل تجارتي اختلافات حل او فصل کړي.

پـه همدې ترتیب نړیوال کنفرانسـونه او سـمینارونه هم کیدلی شي چې پـه نړیواله کچه د بېلابېلو هیوادونو تر منځ د تجارتي همغږۍ او توحید په برخه کې ګټور پرېوځي.

**نړیوال معاهدات:** نړیوال معاهدات له هغو قراردادونو څخه عبارت دي چې یو دولت له هغو سره الحاق کولی شي او د تجارتي حقوقو د منبع په توګه پېژندل کیږي.

## تجارتي عرف

لـه حقوقي پلوه تجـارتي عرف او عادات له هغو قواعدو او دسـاتیرو څخه عبارت دي چې د خلکو د اجتماعي ژوند په نتیجه کې رامنځ ته شـوي وي او د هغوی د مکرر اسـتعمال او قبول له املـه واجب التعمیل ګرځېدلي وي، په بل عبارت تجارتي عرف او عادات له هغو تعاملي قواعدو او رسومو څخه عبارت دي چې د سوداګرو په منځ کې معمول وي او عمل ورباندې کیږي.

د افغانسـتان د تجارت د اصولنامې په خپله دوهمه ماده کې د تجارتي عرف په هکله داسـې لیکلي دي:

کله چې تجارتي مسایل د تجارتي قوانینو په ذریعه حل او فصل نه شي نو تجارتي عرف او عاداتو تـه مراجعه کیږي، د عرف او عاداتو د نه موجودیت په صورت کې د هغو قوانینو احکام وربانديې تطبیق کیږي چې اسـتناد پرې کیږي، په عمومي عـرف او عاداتو باندې د محلي عرف او عاداتو د ترجیح وجه دا ده چې هر ځای د خپلې محلي حوزې د عرف او تعاملاتو تابع دی نه د نورو سیمو د عرف او عاداتو، کله چې په یوه سـیمه کې داسـې عرف او عادات نه وي موجود چې د تجارتي معاملاتو په حل او فصل کې اغیزمن واقع شي، نو د نژدې سـیمې په عرف او عاداتو باندې اسـتناد کیدلی شي.

د عـرف او عاداتو ثبوت د مدعي دنـده ده، یعنې مدعي دنده لري چې که عرف وجود ولري هغـه د محکمې په وړاندې ثابت کړي او محکمه هم باید د حکم له اصدار وړاندې له دې خبرې څخـه ځـان ډاډه کړي چې آیا دغې موضوع هغه بڼه خپله کـړې ده کومه چې د عرف او عاداتو لـه مخې حل او فصل کیـږي، محکمه کولی شي د دغې موضوع په اړه په تجارتي مسـایلو کې له اهل خبره اشـخاصو یا هم د تجارت او صنایعو له اتاقونو څخه پوښـتنه وکړي او په دې توګه ځان باوري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــه کلي توګــه تجارتي عرف او عادات د منحصره یا تکمیلي  قواعدو له جملې څخه دي چې په موجب سره يې ښــکېل اشــخاص کولای شي د یوه او بل په وړاندې رضایت وښيي، څکه عرفي حل لارې د معامله کوونکو د ګټو د ساتنې لپاره دي، که د عقد طرفین یاد شوي مقررات په صریح ډول فسخه نه کړي؛ نو اټکل په دې دی چې موجود عرف او عادت يې منلي دي.

د تجارت د حقوقو په برخه کې په عرف او عاداتو سربېره یوه بله اصطلاح او مفهوم هم تر یوه حده کارول کېږي چې هغه له رسومو څخه عبارت ده، رسوم له هغې رویې څخه عبارت دي چې د تجارت تر یوې نوعې یا یوه محل پورې محدود وي او کله چې د عقد طرفینو په خپله مقاوله کې د کوم قانون د تطبیق یادونه نه وي کړې، داسې انګیرل کېږي چې په رسومو باندې تکیه شوې ده، په دې ترتیب سره رسوم د مقاولې د طرفینو په اراده باندې بناء دي، د افغانستان د تجارت اصولنامې رسوم د عرف او عاداتو په نامه سره یاد کړي دي، خو هغه يې په جلا توګه نه دي څېړلي، په هغو هیوادونو کې چې تجارتي محاکم انتخابي وي، د رســومو ثبوت د هغه قاضي له لوري تر سره کیږي چې پخپله تاجر وي، که د محاکمو د اعضاوو تر منځ د کوم رسم په اړه اختلاف رامخې ته شي؛ نو د تصدیق مرجع يې د تجارت اتاقونه، اهل خبره او تجارتي اصناف دي.

**قضايي رویه:** قضایي رویه د محاکمو ټولې هغه پرېکړې دي چې د تجارت د حقوقو په ساحو کــې د یوې معینــې قضیې په باره کې د الزامي اعتبار درلودونکــې وي. له دې امله چې د تجارت حقوق له مدني حقوقو سره نیږدې رابطه لري، بناءً کله چې په کومه تجارتي ساحه کې قضایي رویه وجــود و نه لري، معمولاً په مدني ســاحه کې موجودې قضایي رویــې ته مراجعه کیږي. باید هیره نــه شي چې د قضــاء رویه د تجارت د حقوقو د منبع په توګه د حقوقو د دغې څانګې په وده کې اساسي ونډه لري او په عمل کې هغه ټولې خلاوې چې د تجارت په ساحه کې په قوانینو کې شتون لري د قضائي رویې په واسطه تکمیلیږي.

**دکتوریــن :** دکتورین یا د حقوقپوهانو نظریات د تجارت د حقوقو یوه بله منبع ګڼل کیږي. د حقوقو په تدوین او تحول کې د حقوقپوهانو د نظریاتو له اغیز څخه انکار نه شي کیدلی، هغوی هم قوانین او هم موضوعه مقررات تفســیروي او هم کولای شي د قوانینو د اصلاح لپاره وړاندیز وکړي، البته دا خبره نشو کولای چې د هغوی عقاید د حقوقو مستقیمه منبع ده، بلکې غیر الزامي او مشورتي بڼه لري او تر همدې حده پورې په حقوقو باندې په غیر مستقیمه توګه اغیز پرې باسي.

هغــه څــه مو چې وویل د تجــارت د حقوقو په برخه کې هم صدق کــوي، یعنې د حقوقو د علماوو او حقوقپوهانو نظریات الزامي نه دي؛ خو داسې ښکاري چې د تجارت نړیوال حقوق او د اروپایي هیوادونو د تجارت حقوق د حقوقو د استاذانو له نظریاتو څخه استفاده کوي او د هغوی په نظریاتو تاکید کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېيم څپرکي لنډيز

کله چې د تجارت د حقوقو له منبع او منشأ څخه خبره کيږي. مقصد دا دی چې دغه دساتير د تجارت د حقوقو له کومو منابعو څخه سرچينه اخلي او آيا دغه منابع په يوه او بل باندې کومه برتري لري او کنه؟ په عمومي توګه د تجارت د حقوقو منابع په لاندې ډول دي:

۱- قانون.
۲- تجارتي مقاولات.
۳- تجارتي عرف او عادات.
۴- د تجارتي قضاء رويه.
۵- دکتورين.

تجارتي مقاولات يا قراردادونه د تجارت د حقوقو په برخه کې له لومړنيو او اساسي منابعو څخه شمېرل کيږي، دغه کار د تجارتي اعمالو له هغه خصوصيت څخه سرچينه اخلي چې د معاملاتو دواړه لوري په ټوله اراده او غوښتنه سره هغو ته په اهميت باندې قايل شوي دي، څو د هغوی د دعواوو په حل او فصل کې لومړنۍ مرجع وي.

تجارتي عرف او عادات هغه تعاملي قواعد او رسوم دي چې د سوداګرو په منځ کې معمول وي، هر کله چې تجارتي مسايل د مقاولاتو او قانون په ذريعه حل او فصل نه شي، تجارتي عرف او عاداتو ته مراجعه کيږي.

قضايي رويه د محاکمو د هغو پرېکړو مجموعه ده چې د يوې معينې قضيې په باره کې شوې وي او د نهايي محکمې د تاييد وړ ګرځېدلې وي، قضايي رويه د تجارتي مسايلو د حل لپاره ځلورمه منبع ده.

دکتورين د تجارتي مسايلو د حل او فصل پنځمه منبع ده، دکتورين يا د حقوقو د علماوو نظريات د تجارت د حقوقو په تحول او تدوين کې د پام وړ نقش لري.

## د درېيم څپرکي پوښتنې

۱- د تجارت د حقوقو منابع او مصادر څه مفهوم رسوي؟
۲- د تجارت د حقوقو منابع کوم دي او د حقوقو د نورو څانګو له منابعو سره څه توپير لري؟
۳- په عمل او تيورۍ کې د دغو منابعو د رجحان درجې ته په کتنې سره څه ډول ترتيب لري؟
۴- د دې خبرې دليل په څه کې دی چې د تجارتي مسايلو د حل او فصل لپاره له قانون وروسته له مقاولاتو څخه استفاده کيږي؟
۵- د تجارت د حقوقو د منبع په توګه د دکتورين ونډه څه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## تجارتي معاملات

**تولیزه موخه:**

د تجارتي معاملاتو پېژندنه، له غیر تجارتي معاملاتو څخه جلاوالی او د هغو د وېش دلایل.

**د زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلین وتوانیږي چې:

- تجارتي معاملات و پېژني.
- د تجارتي معاملاتو انواع او ډولونه و پېژني.
- تجارتي معاملات له غیر تجارتي معاملاتو څخه بېل کړای شي.

لکه چې مخکې مو یادونه وکړه، تجارتي معاملات د حقوقي سیســتمونو له نظره په متفاوت ډول تعریف شــوي دي، لکه په انفسي یا شــخصي سیســتم کې چې تجارتي شــخصیتونه معیار دي په داســې حال کې چې په آفاقي سیســتم کې تجارتي معاملات معیار ګرځېدلي دي، تجارتي قوانینو تجــارتي عملیــات په تفصیل سره بیان کــړي دي، څرنګه چې تجارتي فعالیتونــه په عمومي ډول د توســعې او تحول په حال کې دي او همېشــه داســې نوي تجارتي عملیات رامنځ ته کیږي چې د تجــارتي قوانینــو د تدوین پرمهال یې د وړاندوینې امکان و، بنــاءً د تجارت د حقوقو پوهان د دې لپــاره چــې د تجارتي عملیاتو د تشــخیص لپاره دلیل راوړي، هڅه کړې تر څــو د تجارتي معاملاتو یــو کلي تعریف وړاندې کړي. د دغې موضوع د ښــه درک لپاره لازمه ده چې تجارتي معاملات له جزئیاتو سره وپېژنو تر څو د هغوی په رڼا کې وکولای شو د تجارتي معاملاتو او نا تجارتي معاملاتو تفکیک وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تجارتي معاملاتو تعريف

د افغانســتان د تجارت اصولنامې په خپلو ۱۴ او ۱۵ موادو کې تجارتي معاملات داسې تعريف کړي دي:

ســوداګر يا غير سوداګر اشــخاص چې منقول اموال د خرڅلاو يا اجارې ورکولو په مقصد سره د نــورو لپــاره رانيسي او هغه منقول اموال په اصلي يا کوم بــل حالت باندې اړوي او خرڅوي يې يا يې په اجاره ورکوي نو دغه ډول خرڅلاو او اجاره له تجارتي معاملاتو څخه شــمېرل کيږي، يا دا چې تاجر يا غير تاجر اشخاص چې بل چا ته د اجارې ورکولو په نيت يو شی په اجاره واخلي؛ نو د داسې اموالو په اجاره اخيستل او ورکول له تجارتي معاملاتو څخه ګڼل کيږي.

سربېــره په دې د تجارتي اموالو د پير او پلور د مقررې دوهمې فقرې تجارتي معاملات داســې تعريف کړي دي «تجارتي معاملات د عادلانه منفعت د لاس ته راوړلو په موخه په عمده او پرچون ډول د تجارتي اموالو د پير او پلور عمل ته ويل کيږي».

له پورتنيو تعريفونو څخه داســې اســتنباط کيږي چې تجارتي معامــلات په خاصه معنی سره عبارت دي: د منفعت او ګټې د ترلاســه کولو په موخه د منقولو اموالو شــيانو له پير او پلور څخه او يا هم د اشياوو له اجاره اخيستو او اجاره ورکولو څخه.

## د توکو د پېر (رانيولو) شرط

د افغانســتان د تجارت د اصولنامې د ۱۴ مادې سره ســم د دې لپاره چې يوه معامله تجارتي وګڼل شي؛ نو هغه منقول شــی چې پلورل کيږي مخکې بايد رانيول شــوي وي، له هغې څخه پرته تجارتي معامله نشي ګڼل کيدای، په همدې اســاس د افغانســتان د تجارت د اصولنامې د ۱۸ مادې په اســاس که د ځمکې خاوند يا بزګر خپلو زراعتي محصولاتو ته د يوې صنعتي دستګاه په وسيله شــکلي تغييــر ورکړي او يا يــو صنعت کار خپله او يا هم د خپلو مســتخدمينو په واســطه خپل صنعتي توکي خرڅ کړي دغه ډول فعاليتونه، دغه ټول عادي امور بلل کيږي، ځکه شــی مخکې نه دی خريداري شوی، بلکې پخپله (د مال يا توکو خاوند) هغه توليد کړي دي، خو که دغه عمل په دوامداره توګه د يوې مؤسســې په دننه کې خپل شــغل او کسب وګرځوي په دغه صورت کې ياد شوي اعمال تجارتي بلل کيږي.

## د توکو د خرڅلاو شرط

د دې لپاره چې يوه معامله تجارتي وګڼل شي، رانيول شــوی شــی بايد له وړاندې نه د خرڅلاو لپاره تيار شوی وي، د تجارتي معاملې په منځ کې بايد نه وي او که داسې وي نو ياده شوې معامله بــه يوه مــدني معامله وي او د مدني قانون د احکامو په رڼا کې به څېړل کيږي، د مثال په توګه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفر یوه اندازه غنم د خپلې کورنۍ لپاره رانيسي، خو وروســته د ور پېښو اقتصادي ستونزو له امله رانيــول شــوي غنم پلوري، دغــه ډول معامله تجارتي معامله نه بلل کيــږي، ځکه د دغو غنمو له رانيولو څخه موخه په راتلونکې کې د هغوی پلورل نه دي، بلکې د اخيســتلو پر مهال يې هدف د خپل ځان او فاميل د اړتياوو پوره کول وو، که څه هم چې يوه اندازه غنم بيا وروسته پلوري.

پــه هــر صورت د دې لپاره چې يوه معامله تجارتي وګڼل شي نو بايد چې د رانيولو پر مهال يې لــه شــخص سره د خرڅلاو قصد وي، البته دغه دوه شرطونه يعنې د پيــر او پلور شرطونه تر ډېره د تابع تجارتي اعمالو په برخه کې صدق کوي، نه اصلي تجارتي معامله، ځکه لکه وروســته به چې وليدل شي اصلي تجارتي اعمال د شــخص تابع نه دي بلکې دغه اعمال ذاتاً تجارتي وي، که له عامل سره د خريد او فروش قصد شتون ولري يا يې ونه لري، د پلورلو لپاره د پيرلو (رانيولو) شرط د دې موجب کيږي چې زياتره فعاليتونه له تجارتي قلمرو څخه خارج شي، لکه د کروندګرو په واسطه د زراعتي محصولاتو خرڅلاو، کروندګر توليدوونکي دي نه اخيســتونکي او تر ځمکه لاندې نور مواد او يا د فکري ابداعاتو حاصل لکه د مخترع د اختراع حق او داسې نور.

## د ګټې تر لاسه کولو شرط

له تجارتي قوانينو سره ســم په يو زيات شــمير هيوادونو خصوصاً فرانسه کې، پير( رانيول) او پلور (خرڅول) بايد د منفعت د کسب په موخه ترسره شي. دلته هدف ګټه او تاوان دواړه دي نه يوازې ګټه، بناءً که څوک يو شــی را ونيسي او هغه شــی کاملاً فاســد کيږي او يا دغه رانيول شوی شی د ګټې په ځای د تاوان سبب کيږي، په دې ټولو حالاتو کې تر سره شوې معامله بيا هم تجارتي ده، ځکــه د خريدارۍ پر مهال هدف دا و، چــې له هغه شي څخه منفعت حاصل کړای شي او په عيــن حــال کې يې د تاوان خطر هم منلی دی؛ خو د دې په عکس که د منقولو اشــياوو د رانيولو پــر مهــال د منفعت لاس ته راوړل او د زيان قبول نه وي، سره له دې چې وروســته هغه شــيان د مختلفو اهدافو لپاره خرڅ شي او له دغه خرڅلاو څخه زياته ګټه ترلاسه شي دغه معامله تجارتي نه ده، ځکه د فرانسې د تجارت له قانون سره سم هغه معاملات چې هدف او منظور يې د منفعت ترلاســه کول نه دي لکه د تجارتي اســتهلاکي کوپراتيفونو معاملات، دا ډول معاملات تجارتي نه بلل کيــږي، خــو د افغانســتان د تجارت د قانون له مخې د منفعت کســب شرط نــه دی او د تجارتي استهلاکي شرکتونو معاملات تجارتي بلل کيږي.

## د توکو د لېږدېدو شرط

د افغانســتان د تجارت د اصولنامې له ۱۴ مادې سره ســم، د شيانو لېږديدل د تجارتي معاملاتو لــه شروطــو څخه ګڼل کيږي. په دې ترتيب سره د غير منقولو اموالو پير او پلور که څه هم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفعت د کسب په مقصد ترسره کېږي بیا هم تجارتي نشي بلل کیدای، ځکه په تجارتي معاملاتو کې شرط دا دی چې په منقولو اموالو کې ترسره شي، لکه چې پورته یادونه وشــوه یو له هغو مواردو څخــه چې تجارتي معاملات له غیــر تجارتي معاملاتو څخه بېلوي هغه د شــیانو منقول والی دی، بناءً د منفعت د کســب په موخه پیر او پلور هغــه مهال تجارت بلل کېږي چې مبیعه د منقولاتو لــه جملې څخه وي، خو د یو شــمېر هیوادونو د قوانینو په اســاس غیــر منقول اموال هم تجارتي معاملاتو ته شاملېدلی شي، د مثال په توګه  که په هسپانیا او آلمان کې یو شخص غیر منقول اموال واخلي یا یې خرڅ کړي او له دې لارې منفعت تر لاسه کړي نو دغه معامله تجارتي ده او د تجارت د اصولنامې تابع بلل کېږي.

## په معاملاتو کې تداوم او استمرار

د تجارتي معاملاتو بل شرط په دغو معاملاتو کې تداوم او اســتمرار دی، ځکه د هغه شــخص لپاره چې د تجار عنوان خپلوي یو له خصوصیاتو څخه په تجارتي معاملاتو کې د تداوم خصوصیت دی، چــې باید پــه تکراري توګه ترسره شي، پــه همدغه اصل باندې په اســتناد سره چې د تصدیو معاملاتو د تداوم او تکرار د مشخصې درلودونکی وي، تجارتي بلل کېږی، بناءً که یو څوک د کسب د منفعت په هدف منقول شی را ونیسي او وروسته یې په تصادفي ډول خرڅ کړي، څرنګه چې په دغه معامله کې د تکرار او تداوم مشخصه شتون نه لري، نو دغه معامله تجارتي نه ګڼل کیږي.

پاتــې دې نــه وي چې د تکرار او تداوم په خصوصیت سربېــره د یوې معاملې لپاره ځینې نور شــکلیات هم ضروري بلل کیږي، دغه شــکلیات عبارت دي له: د تجارتي جواز اخیســتل، په دولتي ادارو کې د تجارتي اسنادو ثبت او یو لړ نور هغه مقررات چې د افغانستان د تجارت په اصولنامه کې یې وړاندوینه شوې ده.

## د تجارتي معاملو د تمیز اهمیت

له نا تجارتي معاملاتو سره د تجارتي معاملاتو  تمیز (جلاوالی) لاندې اهمیتونه لري:

۱- د تجــارتي معاملاتو دعوې د تجارتي محاکمو صلاحیــت دی، پرته له دې چې ترسره کوونکی یې تاجر او که غیر تاجر دی.

۲- د تجــارتي معاملاتــو په اثبات کې کتابــت شرط نه دی، تاجر د خاصــو تعهداتو او التزاماتو درلودونکی دی.

۳- که چیرته په تجارتي تعهداتو کې بل ډول تفاهم نه وی شوی، تاجران په متضامن شکل سره مسـؤول دي، په داسې حال کې چې په مدني تعهداتو کې تضمین له کوم صراحت او موافقې پرته امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د دېوالیتــوب ( ورشکســتګی) قواعد یــوازې په ســوداګرو او ســوداګریزو شرکتونو باندې تطبیقیږي.

**د تجارتي معاملو انواع:** په عمومي توګه تجارتي معاملات په لاندې دریو برخو وېشل کیږي:

۱- اصلي یا ذاتي تجارتي معاملات.

۲- تبعي تجارتي معاملات.

۳- مختلط تجارتي معاملات.

## اصلی تجارتي معاملات

دغــه معامــلات لکه چې له نامه څخه یې معلومیږي په خپل اصل او ذات کې تجارتي دي او د تاجر یا ترسره کوونکي تر عمل پورې نه دي محدود. دغه معاملات چې د هر شــخص لخوا ترسره شي تجــارتي ګڼل کیــږي، دغه معاملات د هغې ځانګړتیا له مخې چې لري یې له واســطې پرته په قوانینو کې پیشبیني کیږي او پرته له دې چې فاعلین یې په نظر کې ونیول شي تجارتي ګڼل کیږي.

د افغانستان د تجارت اصولنامې په خپلو ۱۴ ، ۱۵ ، ۱۶ ، ۱۸ ،۱۹ موادو کې د دا ډول معاملاتو په اړه یادونې کړې دي.

د ۱۴ او ۱۵ مادو په اړه چې د منقولو او غیر منقولو اموالو د پیدا او پلور یابل چا ته د اجارې ورکولو په اســاس د تاجر او غیر تاجر اشــخاصو د فعالیتونو په اړه وي، په مخکنیو مباحثو کې په تفصیــل سره خبرې کــړې دي، په دې سربېره په ۱۶ ماده کې یې تأکیــد کړی دی، چې هغه څوک (تاجر یا غیر تاجر) چې بل چا ته د اجارې ورکولو په مقصد مســتخدم نیسي، د هغه مســتخدم د کار په اجاره ورکول هم تجارتي معاملات بلل کیږي، چې د همدغه هدف لپاره استخدام شوی دی.

د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۸ ماده د تجارتي معاملاتو په هکله داسې وایي.

۱- د منقولو اموالو هر ډول تهیه او تعهد او د هر ډول اعمالو په غاړه اخیستل.

۲- د تیاتر، ســینما، نندارتونونو پرانیستل او د عمومي ځایونو لکه هوټلونو، سرایونو، مطعمونو او داسې نورو خلاصول او د کارګرانو د تهیې دفتر او لیلام خونې.

۳- په وچه، انهارو او هوا کې د مسافرینو، حیواناتو او نورو شیانو انتقالات.

۴- د اوبو، ګاز او برش توزیع او د تیلفوني شبکو تأسیس.

د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۹مه ماده دغه راز د تجارتي معاملاتو په اړه داسې وایي:

« لاندې معاملات د طرفینو له رضایت پرته تجارتي نشي ګڼل کیدای».

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- کمیشن کاري.

۲- دلالي.

۳- د برات، حجت او چک معاملات.

۴- د صرافۍ معاملات.

۵- د جاري حساب معاملات او تر هغو پورې اړوند مقاولات.

۶- د خصوصي او دولتي بانکونو معاملات.

۷- د ګروۍ او رسیداتو د هغو اسنادو اړوند معاملات چې د موضوعه اموالو په بدل کې په عمومیه تجارتي ګدامونو کې موجود شوي وي.

۸- د اسهامو (ونډو) د پیر او پلور او تجارتي شرکتونو تشکیل.

۹- د مخاطراتو په مقابل کې د هر ډول بیمې عقد که هغه په اجرت سره عقد شي یا د متقابلو شرایطو په بدل کې.

## تبعي تجارتي معاملات

دا ډول معاملات لکه چې له نوم څخه یې معلومیږي په خپل ذات کې تجارتي نه دي، خو که د تاجر له لوري د تجارتي چارو د پرمخ بیولو په منظور تر سره شي تجارتي ګڼل کیږی. لکه چې مخکې توضیح شوه اصلي یا بالذات تجارتي معاملات هغه دي چې د فاعل د وصف (تاجر) له په پام کې نیولو پرته تجارتي ګڼل کیږي، خو د دې بالعکس تبعي تجارتي معاملات اساساً تجارتي نه وي، خو که د تاجر لخوا د تجارتي امورو د پرمخ بیولو لپاره ترسره شي تجارتي ګڼل کیږي او که داسې نه وی نو عادي معاملات بلل کیږي.

په دا ډول معاملاتو کې د (معاملې اجراء) د فاعل (تاجر) تابع ده، د افغانستان د تجارت په اصولنامه کې له تبعي تجارتي معاملاتو څخه یادونه نه ده شوې، مګر د دغې اصولنامې ۲۰ ماده ټینګار کوي چې د یوه تاجر ټول معاملات د تجارتي معاملاتو په توګه دي، مګر دا چې ثابته شي چې دغه یا هغه معامله عادي وه.

په دې ترتیب سره که د تجارت د اصولنامې ۲۰ ماده و څېړل شي داسې استنباط کیږي چې دغه معاملات د تابعیت د مفکورې په اساس ولاړ دي، خو ځینې وخت له دې ستونزې سره مخ کیږو چې څرنګه کولای شو تابع معاملات تجارتي ونوموو. لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه چې د تجارت د اصولنامې له مخې د یوه تاجر معاملات تجارتي دي مګر دا چې خپله تاجر ثابته کړي چې معامله یې تجارتي نه ده، په دې ترتیب که په محکمه کې کومه موضوع مطرح کیږي او معلومه نه وي چې آیا دغه معامله د تجارتي امورو د پرمخ بیولو لپاره ترسره شوې او کنه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانســتان د تجارت د اصولنامې ۲۰ ماده په پیل کې داســې فرض کوي چې یاده شوې معامله د تجارتي امورو د پرمخ بیولو لپاره ترسره شوې ده، مګر دا چې ثابته شي چې معامله د تجارتي امورو لپاره نه ده، بلکې د هغه د شخصي یا خصوصي امورو لپاره ترسره شوې ده، په نتیجه کې د تجارت د حقوقو په برخه کې ځینې معاملات شتون لري چې ذاتاً مدني وي، خو که د تجارتي اشخاصو لخوا د تجارتي امورو د پرمخ بیولو لپاره ترسره شــوي وي، تجارتي بلل کیږي. دلته چې کوم ســوال مطرح کیږي دا دی چې څه ډول ثابتولای شو چې معاملات د تجارتي امورو د پرمخ بیولو لپاره ترسره شوي دي یا بالعکس د مدني چارو لپاره، په ځواب کې باید وویل شي چې د تجارت له اصولنامې سره سم د یــوه تاجــر ټول معاملات په لومړۍ مرحله کې تجارتي ګڼل کیــږي، نو دا د تاجر وظیفه ده چې ثابته کړي چې د هغه معامله تجارتي وه او که مدني، له هغې پرته د تجارت د اصولنامې احکام په ټولو هغو معاملاتو باندې چې پورته ذکر شــوي که څه هم چې ذاتاً تجارتي نه وي خو له دې کبله چې یاد شوي معاملات د تجارتي چارو د پرمخ بیولو لپاره ترسره کیږي، د تجارت د حقوقو تابع دي.

## مختلط تجارتي معاملات

کلــه یــوه معامله د دواړو لوریو لپاره تجارتي ګڼل کیږي یا په بل عبارت د معاملې دواړه لوري تجارتي شخصیتونه تشکیلوي، په داسې حالت کې د هغې منازعې د حل او فصل لپاره چې د دواړو لوریــو ترمنــځ رامنځ ته کیږي د تجارت د اصولنامې د تطبیق له امله له هیڅ ســتونزې سره نه مخ کیږو، ځکه د معاملې دواړه لوري د یوه قانون تابع دي، خو همېشــه داســې نه وي او ممکنه ده چې یو لوری تاجر او بل لوری غیر تاجر شخص وي چې په دغه صورت کې موږ له مختلفو تجارتي معاملاتــو سره مخ کیږو، بناءً مختلط تجارتي معاملات هغو معاملاتو ته ویل کیدلی شي چې د یوه لــوري لپــاره تجارتي او د بل لپاره غیر تجارتي وي، یا دا چې مختلط تجارتي معاملات هغو معاملاتو ته ویل کیږي چې د معاملې دواړه لوري په یو وخت سره تجارتي اشــخاص نه وي، بلکې یو د دوو لوریو عادي فرد وي او د مدني حقوقو د مقرراتو تابع وي، نه تجارتي مقرراتو او بل لوری د تجارتي شــخصیت درلودونکی وي. فرض کوو چې یو تاجر له بزګــر څخه زراعتي محصولات رانیسي، دلته لیــدل کیــږي چې د بزګر لپاره چــې خرڅوونکی دی دغه معامله مدني ده، خــو د تاجر لپاره چې محصولات یې د خرڅلاو او منفعت د کسب په موخه رانیولي دي تجارتي ده.

د فرانســې د تجارت د حقوقو په اســاس د محاکمو اصولو او صلاحیتونو ته په پام سره په دې برخه کې ځانګړي تدابیر په پام کې نیول شــوي دي، یعنې دا چې که دواړه لوري مدعي او مدعی علیــه وګرځي په دغه صورت کې تاجر چې مدعــي دی، کولای شي په مدني محاکمو کې هم خپله دعــوا تعقیــب کړي، خو د دې بالعکس بزګر تــه د محکمې د انتخاب حق ورکــول کیږي، په دې معنی چې د مدعي لپاره د محکمې د انتخاب حق محفوظ دی او مدعي کولای شي په خپله مورد

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظــر محکمه کې اقامه د دعــوې وکړي، په هر ترتيب که دعوه مدني محاکمو ته راجع شي د مدني محاکماتو اصول په دې برخه کې مرعي الاجراء ګرځي.

د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۲۱ مادې په اساس د فرانسې د تجارت د حقوقو په خلاف بزګر ته د محکمې د انتخاب حق نه دی ورکړل شوی، بلکې دا ډول دعواوې په تجارتي محاکمو کې حل او فصل کيږي، پورتنۍ ماده صراحت کوي چې که عقد يوازې د يوه لوري لپاره تجارتي وي او د تجارت په اصولنامه کې د هغه په خلاف صراحت وجود ولري، په دغه صورت کې له ياد شــوي عقد څخه د راټوکيدلې دعوې په برخه کې د تجارت د اصولنامې احکام تطبيقيږي.

## د اصلي تجارتي معاملاتو څو بېلګې

**د کميشــن کارۍ معامــلات:** د افغانســتان د تجــارت د اصولنامې د ۱۹ مــادې لومړۍ فقرې کميشــن کاري هم نه تجارتي معاملاتو څخه بللې ده، هغه هم د طرفينو د نيت له رعايتولو پرته، د تجارت د اصولنامې ۷۸۳ مادې کميشــن کاري داســې تعريف کــړې ده: هغه څوک چې تجارتي معاملات په خپل نوم او د نورو په حساب يا د معاملې د صاحب (آمر) په نامه سره د مفاد د کسب په موخه د يوې معلومې اجرې په بدل کې ترسره کوي، کميشن کار بلل کيږي.

بناءً کميشــن کاري د معينې اجرې په مقابل کې په خپل نوم سره د نورو په حســاب باندې د يوې معاملې اجراء کولو ته ويل کيږي، په دې اساس هر کله چې د معاملې اصلي خاوند په صراحت سره په خپل نوم سره د معاملې د اجراء کولو شرط ايښی وي، په دغه صورت کې دغه عقد کميشن کاري نه ده، بلکې يو تجارتي وکالت دی او ضرور ده چې کميشن کار د معاملې د خاوند (آمر) له ارادې سره ســم رفتار وکړي او هر کله چې د کار او معاملې په جريان کې له کوم داســې مانع او خنډ سره مخ کيږي، چې د کميشــن کار او معاملې د خاوند تر منځ د شــوې مقاولې خلاف وي؛ نو ژر تر ژره يې بايد د معاملې خاوند ته ابلاغ کړي.

له دې امله کميشــن کار له قانون سره ســم يو لړ وجايب په غاړه لري، له هغې جملې څخه کميشــن کار مکلف دی چې ورســپارل شــوې دندې په ښه توګه سرته ورســوي، لکه څرنګه چې د افغانســتان د تجارت د اصولنامې ۷۸۶ ماده په دې اړه ليکي: کميشــن کار چې له قانوني اســنادو پرته ورســپارل شــوې چارې نه تر سره کوي مجبور دی چې د آمر ( د معاملې د خاوند) خســارات جبران کړي.

دغــه راز کميشــن کار مکلــف دی څو د هغو معاملاتــو په اجراء کې چې تعهــد يې کوي له داســې لازم دقت او بصيرت څخه کار واخلي لکه په خپلو شخصي چارو کې يې چې ورڅخه اخلي. د معاملــې د خاوند د ګټو ســاتنه، د هغه اوامرو پرځــای کول، په خپل وخت او زمان سره آمر ته د مقتضي مطالبو په اړه اطلاع ورکول، د اســنادو ســپارل او يا له ځنډ څخه پرته هغه ته د ترلاســه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي مفاد ور استول د کمیشن کار له اصلي او لویو دندو څخه شمېرل کیږي، بناءً که کمیشن کار منقــول اموال له معین قیمت څخه په کمه بیه و پلوري او یا یې له معین قیمت څخه لوړ واخلي او د معامــلې خاوند دغه معامله قبوله نه کــړي. په دغه صورت کې آمر مکلف دی چې د خبر له ترلاســه کولو سره ســم خپل قبول یا رد ځواب کمیشن کار ته ابلاغ کړی او که د خبر له ترلاسه کولو سره سره بیاهم په داسې کار باندې اقدام و نه کړي، داسې ګڼل کیږي چې ګواکې د معاملې خاوند دغه معامله قبوله کړې ده، او که د کمیشــن کار د خرڅلاو موضوع قبوله نه کړي او له دې لارې زیانمن شي په دغه صورت کې آمر کولای شي له کمیشن کار څخه د رامنځ ته شوې خسارې د جبران یا معاملې د عدم اعتبار مطالبه وکړي.

کمیشــن کار مکلــف دی څو په خپل نامه سره یو شــخصي دفتر ولــري او هر کله چې معامله کوي په خپل ورځني دفتر کې یې ثبت کړي او هر کله چې د معاملې خاوند غوښــتي وي، کولای شي یاد شــوی دفتر مطالعه کړي او له خپل دفتر سره مطابقت ورکړي او که د کمیشــن کار د دفتر په برخه کې له کومې اشــتباه یا عدم مصؤنیت څخه خبریږي، کولی شي دغه موضوع له کمیشــن کار څخه وپوښتي.

هر کله چې یو کمیشن کار د معاملې خاوند ته د حقیقت په خلاف د حساب کومه پاڼه ورکړې وي او په دغه پاڼه کې د شیانو نرخ او د منعقد شویو مقاولاتو شرایط په مصؤنیت سره تغییر کړي او د غیــر واقعــي مصارف او یا تر حقیقي مقدار زیات مخارج پکې قید کړي، د اجرت د حق مطالبه یې ساقطیږي او د ترسره شویو معاملاتو د نتایجو په وړاندې شخصي مسؤلیت لري.

د کمیشن کار د اجرت اندازه معمولاً په هغه مقاوله نامه کې تعیین کیږي چې د کمیشن کار او معاملې د خاوند تر منځ منعقده شوې وي، خو که په منعقده شوې مقاوله کې د اجرت اندازه نه وي تعیین شوې، د کمیشن کار اجرت د تجارتي محل د مروج عرف او عاداتو له مخې تعیینیږي.

## د دلالۍ معاملات

د افغانســتان د تجارت په ۹۹ ماده کې د دلالۍ د معاملاتو په اړه داســې ویل شوي دي: هغه شــخص چې د مقاولې په اســاس د معاملــې د هیڅ لوري خاص اجیر نــه وي او د مروجو تجارتي مقاولاتو په عقد کې یوازې د اجرت په مقابل کې د عاقدینو تر مابین منځګړي توب کوي او په دې توګه یې د تجارتي معاملاتو د عقودو آسانه کول خپل کسب ګرځولی وي، دلال بلل کیږي. دلال یو لړ مکلفیتونه لري چې له هغې جملې څخه هغه باید د یوه مدبر او ریښــتوني تاجر په توګه عمل وکړي، له دې امله دلال د معاملې د طرفینو په وړاندې د ټولو هغو خســاراتو مســؤل دی، چې د هغه د غفلت په نتیجه کې رامنځ ته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بیمې مؤسسات

د افغانســتان د تجارت د اصولنامې د ۹ او ۱۹ مادې له مخې ټول هغه معاملات چې د بیمې د مؤسســې په واســطه ترسره کیږي، تجارتي ګڼل کیږی. که څه هم چې دغه چارې په اجرت سره عقد شي یا په متقابلو شرایطو سره. د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۸۶۶ مادې په اساس، بیمه هغه عقد دی، چې د بیمې مؤسسه د اجرت په مقابل کې د افرادو د هغو ضایعاتو او خساراتو د جبران تعهد کوي، چې د معینو حوادثو او مجبره اسبابو په نتیجه کې رامنځ ته شوي وي. په همدې توګه د بیمې د قانون د ۱۳۳۵ کال د نشر شــوې رســمي جریدې ۳۸ مادې د بیمې د دعواوو په اړه داســې ویلي دي: تر بیمې پــورې د اړوندو دعواوو څېړل د قــرارداد د مندرجاتو په رڼا کې څېړل کیږي او که په قرارداد کې کومه یادونه نه وي شوې؛ نو د دا ډول دعواوو څېړنه د دغه قانون او د تجارت د اصولنامې له مخې د هغې تجارتي محکمې صلاحیت دی، چې د بیمې نمایندګۍ یا شرکت پــه هغــه حوزه کې واقع دی. په محکمه کې د دعوا له اقامې د مخه طرفین کولای شي د حکمیت یــا منځګړیتوب له لارې خپل اختلاف حل کــړي، په هیواد کې دننه د حکمیت مرجع د تجارت او صنایعو اتاقونه دي.

## د بیمې د عقد څلور ګوني شرطونه

د بیمــې عقد له حقوقي اعمالو څخه شــمېرل کیــږی او حقوقي اعمال هغه دي چې حقوقي نتایجــو ته د رســیدلو پــه هدف د افرادو پــه اراده سره رامنځ ته شــوي وي. د بیمې عقد د نورو قراردادونــو په څېر د مــدني حقوقو د عمومي قواعدو تابع دی او لــه څلور ګونو شرایطو یعنې د طرفینــو د قصد او رضایت، د طرفینوله اهلیت، معیــن والي او د معاملې د صحت له مشروع والي څخه تشکیل شوي دي، د پوهانو په نظر بیمه هغه عقد دی چې په موجب سره یې یو لوری له بل لوري څخه د وجهې یا وجوهو د تأدیې په مقابل کې تعهد کوي، چې د حادثې د وقوع یا بروز په صورت کې هغه ته ور اوښــتې خســاره جبران کړي او یا معینه وجه ورکړي. متعهد شخص ته بیمه کوونکی، د تعهد طرف ته بیمه شــوی او هغه وجه چې بیمه کوونکی یې بیمه شــوي ته ورکوي د بیمې حق او هغه څه چې بیمه کیږي، هغې ته د بیمې موضوع ویل کیږي.

## د بیمې د عقد حقوقي ماهیت

بیمــه د یــوه احتمالي خطر په هکله هغه قرارداد دی چــې د طرفینو لپاره یې د ګټې او تاوان آثار تر هغې حادثې پورې تړاو لري، چې د وقوع د تاریخ وړاندوینه یې نشي کیدلی. بناءً کله چې د حادثــې د رامنځ تــه کېدو په اړه اطمنان وجود و نه لري، خطــر د بیمې وړ دی، بیمه د معینو عقودو له جملې څخه ده یعنې د قرارداد په کلي اصولو سربېره د ځانګړتیاوو درلودونکې هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځلورم څپرکي لنډیز

تجارتي معاملات په خاصه معنی سره د منفعت او ګټې د ترلاسه کولو په موخه د منقولو اموالو شیانو له پیر او پلور څخه او یا هم د اشیاوو له اجاره اخیستو او اجاره ورکولو څخه عبارت دي.

په عمومي توګه تجارتي معاملات په دریو برخو ویشل کیږي.

**۱- اصــلي تجــارتي معاملات:** هغه دي چې مخکې یې په قوانینو کې وړاندوینه شــوې ده او په خپــل اصل او ذات کې تجارتي دي، دغه معاملات چې د هر شــخص لخــوا ترسره شي، تجارتي ګڼل کیږي، لکه کمیشن کاري، دلالي، صرافي، بانکداري د تجارتي معاملاتو اسناد او نور.

**۲- تبعي تجارتي معاملات:** دا ډول معاملات په خپل ذات کې تجارتي نه دي، خو که د تاجر له لوري د تجارتي چارو د پرمخ بیولو په منظور تر سره شي تجارتي ګڼل کیږی، له هغې پرته به عادي معاملات وي لکه د تجارتي امورو د پرمخ بیولو لپاره د مدني معاملاتو اجراء کول.

**۳- مختلط تجارتي معاملات:** هغو معاملاتو ته ویل کیږي چې معامله یوه لوري ته تجارتي او بل لوري ته غیر تجارتي وي، یعنې د معاملې دواړه لوري په یو وخت سره تجارتي اشخاص نه وي بلکې یو د دوو لوریو عادي فرد وي، لکه د تاجر په واسطه له بزګر څخه د زراعتي محصولاتو اخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱- تجارتي معاملات څه دي او کوم شرایط ورته لازم دي؟

۲- د تجارتي معاملاتو نومونه واخلئ؟

۳- د اصلي او تبعي تجارتي معاملاتو فرق واضح کړئ؟

۴- کمیشن کاري کوم ډول تجارتي معامله ده، توضیح یې کړئ؟

۵- د تجارتي معاملاتو د شناخت او تمیز د اهمیت په هکله توضیحات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## سوداګر (تاجر)

**ټولیزه موخه:**

د تاجر پېژندل، د هغه حقوق او وجایب او دغه راز له عادي افرادو سره د تاجر توپیر.

**د زده کړې موخې:** محصلین به ددې څپرکې په پای کې وتوانیږي چې:

- د سوداګر کېدو شرایط درک کړي.
- د سوداګر حقوق او وجایب و پېژني.
- الزامي او اختیاري تجارتي دفاتر و پېژني.

وروسته له دې چې د تجارتي معاملاتو په هکله مو معلومات حاصل کړل، دلته لازمه ده څو د تجارتي شـخصیتونو، په ځانګړي ډول د حقیقي تجارتي شخصیتونو (سوداګرو) په اړه تفصیلي بحث وکړو او د هغوی په رڼا کې و کولای شـو تجارتي اهلیت، حقوقي شـخصیت او د هغوی حقوق او وجایب و پېژنو.

### د افغانستان د سوداګرۍ په اصولنامه کې د سوداګر تعریف

د افغانســتان د تجارت د اصولنامې ۸ مادې تاجر داســې تعریف کړی دی: هر شخص که هغه افــراد وي یــا شرکتونه خو په دې شرط چې د تجارتي اهلیت درلودونکي وي او په خپل نوم سره په یوه یا څو تجارتي معاملاتو باندې لاس پورې کړي او دغه شغل د خپل مفاد او ګټې اساس وګرځوي تاجر پېژندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز د یادې شوې مادې د نهمې مادې په اساس هغه شخص چې په تجارتي معاملاتو باندې د لګیا کېدو لپاره کوم ځای انتخاب کړي او د متحدالمال، جرایدو او دېته ورته وسـایلو له لارې یې د هغه ځای اوسـیدونکو ته اعلان وکړي، که تجارت د خپل ځان لپاره دایمي کسـب په توګه هم انتخاب نه کړي تاجر ګڼل کیږي. هغه شـخص چې په تصادفي توګه یوه تجارتي معامله ترسره کړي د تاجر صفت نه خپلوي، لیکن اجراء شوې معامله د تجارت د اصولنامې د احکامو تابع ګرځي. (د افغانستان د تجارت د اصولنامې لسمه ماده).

دولت او ښاروالۍ کولی شي تجارت وکړي، خو د تاجر صفت نشي خپلولی، خو تجارتي معاملات یې د تجارت د اصولنامې د احکامو تابع دي. (د افغانستان د تجارت اصولنامه یوولسمه ماده).

**کوچني سوداګر:** د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۲ ماده: کوچنی تجار هغه څوک دی چې لاندې دوې ځانګړتیاوې ولري.

۱- د سرمایې په تکوین (جوړولو) کې په بدني هڅه او کوښښ سره اعتماد کوي.

۲- د کار ثمـره یې دومره لږ وي چې یوازې د ژوند لپاره یې کفایت کوي، که هغه خوځنده وي او یا په یوه ثابت محل کې وي.

د تجارت د اصولنامې د ۱۳ مادې له مخې کوچني تاجران له خاصو امتیازاتو څخه برخمن دي، د مثال په توګه دغه سـوداګر د تجارتي آدرس په لرلو نه دي مکلف او دغه راز د تجارتي دفاترو او هغـو موضوعاتـو د ثبت په برخه کې چې د تجارت د قانون له مخې یې ثبت لازم بلل کیږي، عدم التزام، او د افلاس د قانون تر قواعدو لاندې نه راتلل هم له دغو امتیازاتو څخه دي.

## تجارتي اهلیت

د تجارتي اشخاصو په ځانګړي ډول د حقیقی شخصیتونو لپاره د تجارتي اهلیت درلودل حتمي او ضروري کار دی، ځکه د همدغه اهلیت په استناد سره هر شخص که هغه فرد وي یا شرکت، د تجـارتي معاملاتو د ترسره کولو صلاحیت لاس ته راوړي او د دغه اهلیت د نه شـتون یا فقدان په حالت کې د تجارتي چارو د پرمخ بیولو صلاحیت له لاسـه ورکوي، دلته وینو چې اشـخاص په څه ډول تجـارتي اهلیـت خپلوي، په کلي ډول تجارتي اهلیت د تجارتي عمل د اجراء لپاره د شـخص یا تجار له صلاحیت څخه عبارت دی.

## د افغانستان د تجارت د اصولنامې له مخې تجارتي اهلیت

د تجارت او تجارتي اهلیت په اړه د تجارت د اصولنامې دریځ په دوهم فصل او څلورمه ماده کـې داسـې دی: هر فرد چې د اتلس کلنۍ سـن یې تکمیل کړی وي، کولـی شي د خپلو حقوقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصرفاتو لپاره تجارت وکړي، يعنې شخص بايد اتلس کلنۍ ته رسيدلى وي.

له پورتنيو مطالبو څخه داســې معلوميږي چې ليونيان او نور عديم الاهليت اشــخاص تجارتي معاملات نشي ترسره کولى.

## د تاجر حقوق او وجايب

**۱- د تاجر حقوق:** لکه چې معلومه ده ســوداګر او سوداګريز شرکتونه د يو لړ داسې حقوقو او وجايبو درلودونکي دي، چې عادي اشخاص نه دي ترې برخمن. سوداګر کولاى شي له يو لړ ځانګړو امتيازاتو څخه استفاده وکړي. دغه حقوق عمدتاً په لاندې ډول دي:

## د تجارت خونې د تأسيس حق

تجــارت خونــه هغه ځاى دى چې تاجر خپل تجارتي فعاليتونو په هغه ځاى کې پرمخ بيايي او له ياد شوي ځاى څخه خپل تجارتي فعاليتونه اداره، رهبري او تنظيموي. دغه راز په ياد شوي ځاى کې د شرکت مامورين او کارکوونکي ورسپارل شوي کارونه ترسره کوي. بناءً تجارت خونه له مادي او غير مادي عناصرو څخه تشکيل شوې ده.

– **د تجــارت خونــې مادي عناصر:** مادي عناصر هغو ته ويل کيږي چې خارجي وجود ولري او دغــه عناصر له هغو مقولو شــيانو څخه عبارت دي، چې د تجارتي امــورو د پرمخ بيولو لپاره تهيه شــوي وي لکه د کار وسايل (هغه وســايل چې د هغو په واسطه د تجارت اموال جوړيږي)، اثاثيه (مېز، چوکۍ، الماري او نور)، مال التجاره (خام مواد، نيمه خام مواد، تکميل شــوي مواد، خرڅلاو ته وړاندې شوي توکي او داسې نور). د تجارت خونې مادي عناصر تر ډېره د تجارتي چارو په پرمخ بيولــو کــې ونډه لري او د دغه ماموول لاس ته راوړل د ســوداګرو لپاره د خورا اهميت درلودونکي دي او دغه عناصر د يوه تاجر يا تجارتي شرکت د معاملاتو اصلي محور تشکيلوي. يوه تجارت خونه نشي کولاى د دغو عناصرو له موجوديت پرته حقيقي وجود پيدا کړاى شي.

– **د تجارت خونې غير مادي عناصر:** دا ډول عناصر په تجارت خونه کې خارجي وجود نه لري خو ارزښــت يې زيات دى. د افغانســتان د تجارت د اصولنامې له ۱۲۰ مادې سره ســم غير مادي (معنوي) عناصر له نوم، تجارتي عنوان، د کرايې د تمديد له حق، د اختراع له حق، تجارتي نښې او ماډل او نورو هغو مواردو څخه عبارت دي، چې د صنعت او تجارت لپاره استفاده ترې کيږي. ذکر شــوې مادې دغــه موارد د تجارت خونې د عناصرو په توګه پېژنــدلي دي او د تجارت خونې مادي عنــاصرو ته يې اشــاره نه ده کړې، خــو دا په دې معنى نه ده چې ګواکي د افغانســتان د تجارت اصولنامې د تجارت خونې مادي عناصر نه پېژني، بلکې په يقين سره به په دې معنى وي چې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقننو هغه دومره ســاده ګڼلي دي چې د هغو یادونه یې لازمي نه ده ګڼلې، خو عملاً هم مادي عناصر او هم معنوي یا غیر مادي عناصر په تجارت خونه کې وجود لري، د دې لپاره چې غیر مادي عناصر مو په ښه او واضح ډول پېژندلي وي لازمه ده، چې دغه عناصر مطالعه کړو.

## د کرایې د تمدید حق

کله کله داسې واقع کیږي چې هغه عمارت او محل چې تاجر پکې تجارتي چارې پرمخ وړي د ده خپل نه وي او د بل چا ملکیت وي، خو تاجر له دغه محل څخه د استفادې په بدل کې د هغه مالک ته کرایه ورکوي، که چیرې تاجر په دغه ځای کې شــهرت تر لاســه کړي او دغه محل یې د توکو د خرڅلاو یا نور تجارتي کاروبار لپاره اهمیت پیدا کړي او نوموړی په دغه محل کې له خاص شــهرت او اعتبار څخه برخمن شــوی وي او ټول خلک یې په ښــه نامه سره پېژني او له هغه سره ډېرې معاملې کوي، په دغه صورت کې په یاد شــوي ځای کې د تاجر د حقوقو او اعتبار د ســاتنې لپاره قانون د کرایې د تمدید حق وضع کړی، چې د دغه حق په اساس د تعمیر او محل مالک نشي کــولای تاجــر له خپل دغه حق څخه چې د قانون په وســیله حمایه شــوی دی، محروم کړي او له دغه محل څخه یې وباسي او له محل څخه د خپل ځان یا دربیم شخص لپاره ګټه واخلي. لکه چې مخکې وویل شــول د کرایې د تمدید حق په زیاتره قوانینو کې حمایت شــوی دی. د مثال په توګه د فرانسې له حقوقو سره سم که چیرې د عمارت مالک له یوه تاجر سره په عقد کې شرط کیږدي چې تاجر د کرایې د تمدید حق نه لري، په دغه صورت کې عقد صحیح دی او شرط یې داسې ګڼل کیږي لکه له سره چې لیکل شوی نه وي، دغه راز د قرارداد د اختتام په صورت کې د عمارت خاوند نشي کولای هغه شــخص چې خپل محل یې په کرایه ورکړی له ودانۍ څخه وباسي؛ خو د خســارې د جبران غوښتنه ترې کولی شي. د افغانستان د تجارت اصولنامې د کرایې د تمدید حق په رسمیت پېژندلی دی او د دغې موضوع او نورو اړونده مســایلو فصل د صفایۍ د رویې غوښتنه کوي، څو د هغو په رڼا کې مالکان د تجارتي شــخصیتونو په وړاندې له خپلو وجایبو څخه خبر اوسي او هم ســوداګر له خپلو تضمین شــویو حقوقو څخه مطلع وي او په دې توګه د هغوی د حقوقو د تلف موجبات له منځه ولاړ شي.

## د تجارت خونې د عنوان درلودل

د تجارت خونې عنوان هم د تاجر له هغو حقوقو څخه شــمېرل کیږي چې په موجب سره یې کیدلی شي عنوان ته په پام سره خپل د پام وړ او مورد نظر شــخص انتخاب کړي. د افغانســتان د تجــارت د اصولنامې ۴۰ ماده تاجر ته حق ورکوي چې تــر خپلې تجارت خونې پورې اړوند اوراق او معاملات تر یوه عیني نوم لاندې چې عنوان بلل کیږي اجراء او لاسلیک کړي، دغه راز لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې وویل شول ۱۲۰ مادې د تجارت خونې عنوان د غیر مادي عنصر په توګه پېژندلې دي.

د تجارت خونې عنوان کیدلی شي خپله د تاجر له نامه یا له مستعار نامه څخه او یا هم معمولاً د تجارت له موضوعاتو څخه جوړ شي، چې د تجارت د اصولنامې د ۴۴ مادې په واسطه یې داسې حمایت شوی دی «په هغه صورت کې چې یو تاجر د خپل تجارت عنوان اصولاً په یوه محل کې ثبت کړی وي، بل تاجر که څه هم چې د داسې نوم درلودونکی وی چې همدغه عنوان تشکیل کړي تر څو چې په دغه نامه کې له ثبت شوي عنوان څخه د توپیر په موخه تزئیدات او تغییرات را نه ولي په هماغه محل کې نشي کولی چې هغه اسم د خپل تجارت د عنوان په توګه وکاروي او یا یې د یوه تجارتي مقصد په مقصد استعمال کړي»، دغه راز که یو تاجر یا تجارتي شرکت وغواړي له هغه ځای څخه د باندې چې د خپل تجارت عنوان یې هلته ثبت کړی دی، کومه بله څانګه پرانیزي؛ نو که په هغه محل کې کوم تاجر یا تجارتي شرکت تر هماغه عنوان لاندې په هماغه محل کې ثبت شوی وي او فعالیت کوي، د نوې څانګې مؤسسین مجبور دي چې په خپل تجارتي عنوان کې زیاتونې راولي ترڅو په دغه محل کې له ثبت شوي عنوان سره یې توپیر وشي.

دغه راز د تجارت د اصولنامې ۵۴ ماده په هغه تاجر باندې د دعوې په اړه چې د بل چا له تجارتي عنوان څخه ناقانونه استفاده کوي، داسې احکام مقرر کړی دي: «یو تجارتي عنوان چې په هر ډول سره د دغه فصل د مندرجو احکامو په خلاف استعمال شوی وي، علاقمندان کولای شي د هغوی د استعمال د منع کولو او که چیرته ثبت شوي وي، د ابطال تقاضاء وکړي» سربېره په دې که د دا ډول استعمال له امله که هغه سهواً وي یا قصداً، اشخاص متضرر شوي وي، د خسارې د جبران ادعا کولی شي، محکمه کولای شي د غوښتنې په صورت کې له اهل خبره څخه له نظر غوښتنې وروسته د حادثې احوال او کیفیت وڅېړي او د خسارې د مقدار په برخه کې له خپل قناعت سره سم حکم وکړي. علاوه پر دې که چیرې زیانمن شوی شخص خواهش وکړي، په رسمي جرائدو کې د حکم په نشر باندې هم اقدام کولی شي، په دې شرط چې مصارف یې په خپله غاړه واخلي.

## د اختراع حق

د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۱۲۰ مادې د اختراع حق د غیر مادي عناصرو له جملې څخه پیژندلی دی، خو باید پوه شو چې دغه حق له کومه ځایه نشأت کوي او قانون د هغه ملاتړ کړی دی.

په دې اړه باید وویل شي چې د اختراع د حق په واسطه هغه څوک چې نوې وسیله رامنځ ته کوي باید له خپل زحمت او زیار څخه منفعت ترلاسه کړي، خو اختراع باید د هغې په انحصاري شکل سره عمومیت ولري او که انحصار پیدا نه کړي، استفاده ورڅخه عمومیت پیدا کوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې صورت کې مخترع له خپل فکري زحمت څخه زياته ګټه نشي ترلاســه کولی، له بله پلوه د مخــترع لــه فکر څخه له کوم زحمت پرته به د نورو اســتفاده د مخترع په حق کې بې انصافي وي، په همدې اســاس د ډېرې پرمختللو هيوادونو په قوانينو کې له اختراع څخه د انحصاري اســتفادې وخت ۲۰ کاله معمول دی.

د دغه حق د ايجاد څرنګوالی داســې دی چې کيدای شي يو پوه شــخص نوې اختراع رامنځ ته کــړي او کــوم تاجر حاضر شي چې هغه د معين قيمت په بدل کــې را ونيسي او خپل توليدات له دغې اختراع سره ســم عيار کړی او وروســته يې بازار ته وړاندې کړي، په دغه صورت کې هر کله چې تاجر د کوم شخص اختراع د پيسو په بدل کې را ونيسي او د اختراعاتو په دفتر، د تجارتي ثبت په دفتر او يا يې هم د تجارت او صنايعو په اتاقونو کې ثبت کړي له هغې وروســته هيڅ بل تاجر حــق نــه لري چې دغه اختراع په زيات يا کم قيمت سره واخلي او وروســته د هغې له مخې خپل توليدات عيار کړي.

په همدې توګه فابريکې او نور شرکتونه نشي کولای چې د هغوی د شــکل او فورم سره ســم توليدات وکړي او که د کومې کمپنۍ يا شرکت له لوري داســې کار ترسره شي قانون د لومړني تجار د ادعاء او خسارې د جبران حق محفوظ کړی دی او نوموړی تاجر کولای شي محکمې ته مراجعه وکــړي. سربېره په دې چې د اختراع دوهم پيرودونکی (خريدار) د (بالمثل توليد) له فعاليت څخه منــع کــولای شي د هغه ضرر مطالبه هم کولی شي چې د ده له اجازې پرته د دوهم پېرودونکي د تجارتي اموالو د عرضې له امله ورسره مخ شوی دی.

## تجارتي نښه (مارک او موډل)

د دې لپــاره چــې د هرې تجارت خونې او توليدي شرکت تجــارتي محصولات او تجارتي مالونه مشــخص او معلوم وي، سوداګر او ســوداګريز شرکتونه معمولاً د خپلو اجناسو لپاره ځانګړې نښه غوره کوي او تر هغې لاندې خپل اجناس معرفي کوي، په دې توګه مشتري د هماغه نښې له موندلو سره سم پوهيږي چې دغه محصول په هغې تجارت خونې يا کار خونې سره تړاو لري چې د ده د علاقې او اعتماد وړ ده.

پورتنيو مراتبو ته په پام سره ليدل کيږي چې تجارتي (مارک او موډل) د تجارتي اموالو او اجناسو د پېژندګلوۍ په برخه کې خورا اهميت لري، بناءً بل څوک نشي کولی هغه مارک او موډل د خپلو محصولاتــو او تجــارتي مالونو لپــاره انتخاب کړي، چې مخکې کارول شــوی وي، ځکه په دې توګه امکان لري يو څوک خپل بې کيفيته محصولات او تجارتي اموال تر يوې پېژندل شوې معتبرې نښې لانــدې بــازار ته وړاندې کړي او د خپل ځان لپاره منفعــت جلب کړي او د پخوانۍ تجارت خونې لپــاره بــې اعتمادي پيدا کړي او د هغې اعتماد او حيثيت ته زيان ورســوي او د خلکو په منځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې شهرت راکم کړي.

تجارتي نښه هم لکه د اختراع حق، په اړوندو دفاترو کې ثبت کيږي، د مارک او موډل په برخه کې په نړيواله کچه دوه عمده کنوانسـيونونه ترسره شـوي دي، چې يـو يې په ۱۸۸۳م کال کې د پاريس نړيوال کنوانسيون او بل يې د مادريد د ۱۸۹۱ م کنوانسيون دی.

## د تجارت خونې رهن (ګروي)

تاجر کله کله د خپلو تجارتي اړتياوو د پوره کولو لپاره يوه اندازه پيسو ته اړتيا پيدا کوي، چې پـه دې صـورت کې بله چاره او علاج نه لري، مګـر داچې خپله تجارت خونه د داينينو د اعتماد د جلب لپاره په ګروۍ ورکړي او خپله د پيسـو اړتيا له دې لارې پوره کړي. د افغانسـتان د تجارت اصولنامــې د خپل دوهم فصل له ۶۹۷ څخه تــر ۷۰۴ پورې موادو کې د تجارت د رهن وړاندوينه کړې ده ۶۹۷ ماده د تجارتي رهن په اړه داسې ليکي «د دې لپاره چې رهن تجارتي وګڼل شي لازمه ده، چې د تجارت په مقصد ترسره شوې وي».

د تجارت خونې رهن له هغه رهن څخه عبارت دی چې د مالک (راهن) او ګرو اخيسـتونکی (مرتهــن) تــر منځ له انتقال او تصرف څخه پرته صورت ونيــسي او تجارت خونه په حقيقت کې د دينو تضمين وي، په دې اساس بايد تجارتي او غير تجارتي رهن يا ګروي سره يو شان ونه ګڼل شي. پــه همدې ترتيب رهن بايد له هيپوتيک څخه چې يــوازې د غير منقولو اموالو لپاره ترسره کيږي تفکيک کړای شي، ځکه په دواړو رهنونو (د تجارتخانې او هيپوتيک) د مالک د تصرف حق انتقال نه مومي او پخوانی مالک په هماغه ډول مرهونه شی په واک کې لري.

د تجارتخانې رهن له تجارتي مال څخه پرته د تجارتخانې د نورو ټولو عناصرو درلودونکی دی، د تجارتخونې په رهن کې د تحرير د سـند شـتون، رسـمي او يا عرفي وثيقه شرط دي، له بل لوري د دې لپاره چې دريم شـخص چې له تجارتخونې سره له معاملې خبر وي او هم ياد شـوی رهن له نورو رهنونو څخه تشخيص او معلوم شي بايد نشر او اعلان شي.

د تجارتي رهن پايله دا ده چې که څه هم چې په دغه رهن کې تصرف او انتقال نه ترسره کيږي خــو مرتهــن کولی شي د تجارتخونې روش او ټګلاره د خپــل دين تر حصول پورې معطل کړي او د مهلت د انقضاء او د تجارتخونې د مالک له لوري د دين (قرض) د نه اداء په صورت کې کولای شي د تفوق له حق څخه استفاده وکړي.

## د تفوق حق

د تفوق حق له هغه حق څخه عبارت دی چې هر کله مديون د مهلت له انقضاء وروسته خپله ديــن اداء نــه کړی، داين يا مرتهن کولای شي چې محکمې ته مراجعه وکړي او له محکمې څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجارتخونې د خرڅلاو غوښــتنه وکړي او په دې توګه د تجارتخونې له مالک څخه چې تجارتخونې يې تر رهن لاندې ده، خپل دين ترلاسه کړي.

يــا دا چــې خپله مالک د تجارتخونې په خرڅلاو لاس پورې کوي او له هغه وروســته مرتهن د هغو افرادو او اشخاصو له جملې څخه ګرځي چې په اول قدم کې د تجارتخونې له مالک او خاوند څخه خپلې پيسې اخلي او يا هم مرتهن د خپل هغه تفوقي حق په اساس چې په تجارتخونه باندې يې لري کولای شي د تجارتخونې له شريکانو نه تر اخيســتلو وروســته د معين قيمت په بدل کې تجارتخونه واخلي او خپلې پيسې د هغې په اخيستلو (خريد) کې مجرا کړي.

## د تاجر وجايب

**په تجارتي دايره کې ثبت:** د ســوداګر له وجايبو څخه يوه وجيبه هم په تجارتي دايره کې ثبت کيدل دی، دغه ثبت له دوو اړخونو څخه د اهميت وړ دی:

۱- دا چې په دغه دفتر کې د ثبت په واســطه دولتونه کولی شي ســوداګر تشــخيص کړي او د تجارتي وضعيت او په هغو پورې د نورو اړونده موضوعاتو په هکله دقيق اطلاعات لاس ته راوړي او په دې توګه له هغو څخه حمايت وکړای شي.

۲- که يو شــمير ذيعلاقه اشــخاصو غوښتي وي چې د ســوداګرو، د تجارت وړ موضوعاتو او د هغو د امکاناتو په اړه ځان خبر کړي، کولای شي د تجارتي ثبت دائرې ته مراجعه وکړي او ورځني معلومات ترلاسه کړي.

د افغانســتان د تجــارت اصولنامې په تجارتي دايره کې د ثبت موضــوع په خپله ۲۴ ماده کې بيان کړې او داســې تصريح يې کړې ده «د هغو محاکمو تر نظارت لاندې چې د تجارتي دعواوو د حــل او فصــل مکلفيت لري د تجارت د ثبت په نامه سره يــوه دايره موجوده ده» په همدې توګه ۲۵ مــاده پــه دې اړه وايي: «د تجارتی ثبت دايره د اړوندې محکمې د رييس تر نظارت لاندې يوه مسؤول او مکلف مامور ته ورسپارل کيږي» دغه راز ۲۶ ماده زياتوي «په يوه موضوع کې د تجارتي محاکمو د تعدد په صورت کې د تجارتي ثبت دايره د واکمن مقام په امر سره تر يوه د ذکر شويو محاکمو پورې مربوط کيږي».

## د ثبت د اجراآتو ځای

د تجــارتي ثبت دايره د هغو محاکمو تر نظر لاندې ترسره کيږي چې د تجارتي منازعاتو په حل او فصل مکلف وي. کوم مطالب چې ســوداګر او سوداګريز شرکتونه يې په ثبت باندې مکلف دي د تجــارت د اصولنامــې په ۲۸ ماده کې ذکر دي (د يادونې ده چې د نوي قانون له مخې کوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تجارتي شرکتونو په برخه کې د افغانســتان د جمهور رييس د تقنيني فرمان په اساس نافذ شوی د مرکزي ثبت يوه دايره ايجاد شي).

که د ثبت خواهش او غوښتنه که تر څو اشخاصو پورې اړه ولري او تسجيل يې د هغوی د يوه په خوښه ترسره شي نو دغه تسجيل د ټولو په خوښه بلل کيږي.

**ميعاد:** د تسجيل خواهش د هغه ميعاد او نيټې سره سم ترسره کيږي چې د قانون لخوا تعيين شــوې ده، که په قانون کې يې په يوه معلومه نيټه باندې تصريح نه وي شــوې، په دې صورت کې يې مدت د وثائقو له تکميل څخه وروسته يوه مياشت دی.

**د ثبــت نشر:** د افغانســتان د تجــارت د اصولنامې ۳۲ مادې د ثبت د نــشر په برخه کې چې د دغــې مادې په اســاس هغه ثبت چــې د اعلان وړ وي تر څو چې د قانــوني اعلاناتو لپاره کومه ځانګړې جريده نه ده تأســيس شــوې د ثبت د محل په رسمي يا خصوصي جرائدو کې نشر کيږي، مګــر نن تر تجارتي شرکتونو پورې اړوند اعلانات په هغه جريده کې خپريږي چې د عدليې وزارت لخوا خپريږي.

## د تجارتي دفاترو درلودل

د تجــارتي دفاتــرو درلودل د تاجــر د مکلفيتونو له جملې څخه يو بــل مکلفيت دی، تر دغو دفاترو پورې اړوند احکام د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۶۵-۸۴ موادو بيان کړی دي، په تجارتي دفتر کې د اشخاصو يا شرکتونو ثبت، د تجارت د اصولنامې د ۲۴-۳۹ په واسطه تنظيم شوی دی.

## د تجارتي دفاترو تعريف

تجارتي دفاترو له هغو مرقومو (نښانه شويو) پاڼو څخه عبارت دی چې تاجر يې د خپلې مالي شتمنۍ د توضيح لپاره د قانون له حکم سره سمې ساتي.

## د تجارتي دفاترو اهميت

تجارتي دفاتر له يوې خوا تاجر ته د خپلې مالي شتمنۍ په اړه د دقيقو معلوماتو په ورکولو کې مرسته کوي او له بل لوري د قانون له مخې دغه دفاتر يو ډول اثبات دی. نو له يادو شويو دفاترو څخــه معلومات درلول او د لزوم په صورت کــې د هغو وړاندې کول د اهميت وړ دي له همدې املــه د تاجــر لپاره دغه دفاتر ډېر مهم دي او هغه کــولای شي د دعوی په صورت کې خپل دفاتر پــه نورو تاجرانو يا غير تاجر افرادو بانــدې د دليل د اثبات په توګه وړاندې کړي، په همدې توګه تاجر کولی شي له افلاس سره د مخ کيدو په صورت کې د نيک نيتي د بيان او د ديونو په اداء کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فریب نه کولو لپاره له خپلو دفاترو څخه د مدرک په توګه کار واخلي.

## د غیر تاجر لپاره

تجارتي دفاتر د تاجر لپاره یوه بارزه قرینه او قوي دلیل دی چې نور خلک له هغه سره معاملې ته تشویقوي او د هغوی له ذهن څخه شک او تردید له منځه وړي، نور خلک کولی شي د منازعې او شــخړې په صورت کې له تجارتي دفاترو څخه په تاجر باندې د دلیل او ســند په توګه استفاده وکــړي ځکــه په هغو کې مندرج معلومات د تاجر د معاملاتو پــه وقوع باندې اقرار ګڼل کیږي، د افغانســتان د تجارت اصولنامه تاجر د تجارتي دفاترو په درلودلو باندې مکلفوي، د دغې اصولنامې ۷۳ ماده د تاجر او د هغه د خلف لپاره په دغو دفاتر کې د قید کیدونکو موضوعاتو د آخري قید له لومړۍ نیټې څخه تر ۱۵ کلونو پورې د حفظ او ساتنې حکم کوي.

د تجارتي دفاترو درلودل له څو اړخونو څخه د تجار او تجارتي شرکتونو لپاره د اهمیت وړ دي:

۱- تاجر د خپلو تجارتي دفاترو په اساس خپله ګټه او زیان ارزوي.

۲- تجارتي دفاتر په محاکمو کې د ثبوت ښــه وســیله ده، دغه موضوع د تجارت د اصولنامې په ۷۹ ماده کې داسې راغلې ده «په هغو اختلافاتو کې چې د سوداګرو تر منځ د تجارتي معاملاتو په اړه رامنــځ تــه کیږي، تجارتي قوانین کیدلی شي د هغو شرایطو په دایره کې چې په ۸۰ او ۸۴ مادو کې تعیین شوي، د ثبوت د وسائلو په توګه قبول کړای شي».

۳- د افــلاس او د یووالیتوب په برخه کې هم تجــارتي دفاتر د اهمیت وړ دي، په هغه صورت کې چې تجارتي دفاتر له قانون سره ســم تنظیم شوي وي، نو تر افلاس او ورشکستګۍ پورې اړوند اصول په عادی توګه تطبیق کیږي او که داسې نه وي جزائي بڼه خپلوي.

۴- تجارتي دفاتر دغه راز د دولتي مالیاتو د اخیستلو په برخه کې هم ونډه لري، یعنې د مالیاتو اخیستل د اصولی دفاترو له مخې ترسره کیږي، له هغې پرته به په تاجر باندې بیمه او نور مؤیدات تطبیقیږي.

۵- د دغو دفاترو درلودل له تاجر سره مرســته کــوي چې خپل ورځني معاملات په دغو دفاترو کې ثبت کړی او په نتیجه کې د خپلو معاملاتو د انجام له څرنګوالي څخه خبر شي او خپل بیلانس و پیژني.

## د تجارتي دفاترو ډولونه

د تجارتي معاملاتو لپاره دوه ډوله دفاتر وجود لري:

الف- اجباري تجارتي دفاتر ب- اختیاري تجارتي دفاتر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الــف- اجباری یا ضروري تجارتي دفاتر:** دغه دفاتر له هغو دفاترو څخه عبارت دي چې قانون تاجــر د هغو په درلودلو سره مجبورويي، لکه چې د افغانســتان د تجارت د اصولنامې ۶۰ ماده په دې اړه وايي:

هــر تاجر مکلف دی چــې دری ډوله دفاتر ولري، ورځنی دفتر، د دارایۍ او شــتمنۍ دفتر او لــوی دفتر، سربیره په دې تاجــر مکلف دی چې د ټولو صادرېدونکو او وارد کېدونکو مکتوبونو او تلګرافونو اصل او د تادیې پاڼې په منظم ډول له ځان سره وساتي.

**۱- ورځنــی دفتر:** له هغــه دفتر څخه عبارت دی چې تاجر پکې خپــل ټول ورځني معاملات د تاریخ په اســاس لیکي، پــه دغه صورت  کې کومې پاڼې چې په ورځنــي دفتر کې درج کېږي باید وساتلې شي، څکه تاجر په څو ورځو کې د خپلو ټولو معاملاتو ټولګه په ورځني دفتر کې قید کوي.

دافغانســتان د تجارت د اصولنامې ۷۰ ماده د ورځني دفتر د مندرجاتو په اړه داســې لیکي «د تجارت په پیل کې وروسته له دې چې د ۶۹ مادي په موجب سره د تاجر اصلي سرمایه تعیین کیږي او پــه ورځني دفتر کې قید شي، نو د راکړې ورکــړې ټول کلي او جزئي معاملاتؤ که هغه تر تجارتي معاملاتو پورې اړوند وي یا تر عادي معاملاتو پورې، په جلاجلا توګه د تاریخ په ترتیب سره معامله کیږی او دغه راز یې شخصي مصارف قید کیږي، په دغه صورت کې په ورځني دفتر کې د یوه تاجر ټول معاملات له هره اړخه چې وي درج کیږي او وروســته د همدغه دفتر له مخې تصنیف کیږي او هر صنف او ډله په خپل حساب سره معامله کیږی».

**۲- د شــتمنۍ دفــتر:** د هغو دفاترو لــه جملې څخه چې په اســاس یې تاجــر خپل معاملات تنظیمــوي یــو هم د دارایۍ دفــتر دی، تاجر مکلف دی چې د هر کال په پــای کې د خپلې ټولې شــتمنۍ موجودي، د دارایۍ په دفتر کې درج کړي او دغــه دفتر ته په مراجعې سره خپل بیلانس چې په حقیقت کې د همدغه دفتر نچوړ او خلاصه ګڼل کیږي په لاس راوړي او له مخې یې خپله ګټه او تاوان معلوم کړي.

د افغانســتان د تجارت د اصولنامې د ۶۹ مادې له حکم سره ســم د دارایۍ په دفتر کې لاندې چارې درج کیږي:

a. هغه نقود (پیســې) چې د منقولو او غیر منقولو اموالو له اټکلي قیمتونو سره یې د فعالیت د پیل په ورځ خپل تجارت ته ځانګړې کوي، د هغو اسهامو او اسنادو د نشر قیمتونه چې د هغو د جاري قیمت په اعتبار سره په دغه نېټه اخیستل کیږی یا پلورل کیږي او ټول هغه دیون (قرضونه) چې د حصول وړ وي، که هغه د اسنادو له مخې وي یا پرته له اسنادو څخه وي.

b. ټوله هغه دیون چې د بل چا په ذریعه او د هغوی له تعهداتو څخه لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

c. د خالصې دارایۍ له تعیین وروسته (چې د دیونو له وضعه کولو وروسته د دارایۍ له اندازې څخه عبارت ده)، تاجر مجبور دی چې د هر حسابي کال په پای کې یو داسې بیلانس ترتیب او په دغه دفتر کې یې درج کړي چې د هغه تر تجارت پورې د مخصوصې دارایۍ او دیونو اندازه پکې څرګنده شوې وي، بیلانس باید لږ تر لږه په کال کې یو وار ترتیب شي.

**۳- لوی دفتر (دفترکل):** د افغانستان د تجارت اصولنامې د لوی دفتر په برخه کې یوازې د هغه نوم ذکر کړی، خو د دغه دفتر د استفادې او ساتنې په اړه یې څه نه دي ویلی، په دې توګه ویلای شو چې عملاً دوه ډوله دفاتر چې مخکې یې یادونه وشوه وجود لري، ځکه هغه دفتر اجباري نشو بللای چې د استفادې څرنګوالی یې د افغانستان د تجارت په اصولنامه کې نه وي بیان شوي، خو د دغه دفتر محتویات له ټولو هغو معاملاتو څخه عبارت دي چې لومړی په ورځني دفتر کې ثبت شوي وي او وروسته په دغه دفتر کې درج کیږي، له دې امله ویلای شو چې په دغه دفتر کې ټول هغه معاملات موندل کېدلی شي چې د تاجر له لوري په یوه کال کې ترسره شوي دي.

**ب- اختیاري تجارتي دفاتر:**

په هغو تجارتي دفترونو سربېره چې د قانون له مخې سوداګر د هغه په لرلو مجبوريږي، تاجر او تجارتي شرکتونه کولی شي د خپلو معاملو د خاصو اړتیاوو او غوښتنو پر اساس د خپلې خوښې سره سم د اختیاري تجارتي دفترونو په تاسیس لاس پورې کړي، دغه دفترونه کېدای شي په مختلفو ډولونو او شکلونو رامنځته شي.

د اختیاري تجارتي دفترونو د ایجاد او تاسیس په اړه د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۶۶ ماده داسې وايي: «هر سوداګر د خپلې تجارتي معاملې د احتیاج او لزوم پر اساس کولای شي په یادو شویو دفترونو سربېره نور دفترونه هم ترتیب کړي، خو دغه دفترونه د مخکینیو دفترونو په برخه کې د ذکر شویو شرایطو تابع نه دي».

د اختیاري تجارتي دفترونو له ډلې څخه یو هم لوی دفتر دی چې پــه دغه دفتر کې تجارتي معاملې د سهم او ورځې په ډول نه درج کیږي، بلکې د هر مشتري لپاره ځانګړې پاڼې په پام کې نیول کیږي. په دغو پاڼو کې له یوه مشتري سره ټولې ترسره کېدونکې معاملې درج کیږي. دغه راز په دغو دفترونو کې پاڼې په مجلد ( د ټوک په بڼه) یا غیر مجلد ډول یعنې د کار په ډول ساتلی کیږي او هر کله چې له مشتري سره نوې معامله ترسره کیږي، کارتن ته نوې پاڼې ور اضافه کیږي.

د اجباري او اختیاري تجارتي دفاترو د ثبوت قدرت:

اجباري تجارتي دفاتر هغه مهال د ثبوت د ښې وسیلې په توګه کارول کیږي چې په هغو کې سولیدنه، قلم وهنه او نور شکمن آثار تر سترګو نه شي. خو له دې سره سره بیاهم محکمه کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي هغــه دفــتر چې اصولي نه وي د هغه په خاوند يعنې هغــه چا باندې چې په غلطه يې ترتيب کړی دی اســتعمال کړي او په دغه دفتر باندې تکيه وکړي، د افغانســتان د تجارت د اصولنامې ۸۰ ماده د تجارتي دفاترو د ثبوت دقدرت په اړه داسې ليکي:

۱- تجارتي دفاتر په غير تاجر باندې دليل نه شي کيدلی، مگر هغه اظهارات چې په يادو شــويو دفاترو کې ثبت شوي وي، د محکمې لپاره يو د طرفينو ته د قسم د متوجه کولو اساس کيدلی شي، هغه هم په هغو مواردو کې چې اثبات يې په شهادت سره جواز ولري.

۲- هغه تجارتي دفاتر چې په منظم ډول ترتيب شوي وي په تاجر باندې دليل کيدلی شي، هغه څوک چې په دغو دفاترو باندې تمســک کوي نشي کولای يوازې په هغه څه باندې اســتدلال وکړي چــې د هغــه گټه ثابته وي او هغه څه چې د ده دعوې له نقص سره مخامخ کوي هغه رد کړي، د افغانستان د تجارت په اصولنامه کې د تجارتي دفترونو د ثبوت د قدرت موضوع په صريح او واضح ډول نــه ده ذکر کړې، خو د افغانســتان د مدني قانــون د ۹۹۸ مادې د حکم له مخې په دغه ځای کې دوه حالته تر سترگو کيږي.

**لومــړی حالت:** که چيرتــه د دعوی داوړه لوري ســوداگر وي او د منازعې وړ موضوعات هم تــر تجارتي فعاليتونو پورې اړوند وي، په دغه صورت کــې تجارتي دفاتر د تاجر په گټه او دغه راز په هغه باندې د ثبوت د وســيلې په توگه اســتعماليدلی شي، څکه دواړه لوري د تجارتي دفاترو په درلودلو سره مکلف دي.

**دويم حالت:** هغه دعوی چې د يوه تاجر او بل غير تاجر تر منځ وي په دغه صورت کې دفتر په تاجر باندې د ثبوت د وســيلې په توگه اســتعماليدلی شي نه په غير تاجرباندې، څکه که داسې شي نو تاجر په خپلو دفاترو باندې عام او تام تسلط لري او هرکله يې چې غوښتي وي کيدلی شي خپل دفاتر په خپله گټه تغيير کړي په داســې حال کې چې مقابل لوري دا ډول لاس رســی نه لري، پــه هــر حال تجارتي دفاتــر د تجزيې وړ نه دي يعنې که يو غير تاجر فــرد په تاجر باندې د هغه تجارتي دفتر د ثبوت د وسيلې په توگه استعمال کړي، نو نشي ويلی چې يوه برخه يې چې ده اتکاءورباندې کړې ده او خپله گټه پکې ويني قبول او پاتې نور يې رد کړي.

د اختيــاري تجارتي دفاتــرو د قدرت د ثبوت په برخه کې بايد وويــل شي چې دا ډول دفاتر د ثبوت ښــه وســيله گڼل کيږي او يــوازې د يوې « حقوقی قرينې » په توگــه د ادعاء د صدق لپاره کارول کيدلی شي، البته دغه قرينه نســبي ده او تر هغه چې خلاف يې ثابت نه شي حقيقت گڼل کيږي. د افغانستان د تجارت اصولنامې د اختياري تجارتي دفاترو د ثبوت د قدرت په برخه کې کوم مشــخص حکم نه لري، خو د دغي اصولنامې د ۷۹ مادې له مطالعې څخه داســې اســتنباط کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اختياري تجارتي دفاتر اصلاً د ثبوت صلاحيت او قدرت نه لري، ځکه ياده شوې ماده وايي: « د هغو شرايطو په دايره کې چې په ۸۰ او ۸۴ مادو کې تعيين شــوي دي، قانوني تجارتي دفاتر کيدلی شي چې د ســوداګرو ترمنځ د تجارتي معاملاتو له امله په رامنځ ته کيدونکو اختلافاتو کې د ثبوت د وسائلو په توګه و منل شي».

نو ليدل کيږي چې په ياده شوې ماده کې يوازې له قانوني تجارتي دفاترو څخه يادونه شوې ده او له اختياري تجارتي دفاترو څخه هيڅ يادونه نه ده شوې، بناءً د تجارت د اصولنامې له نظره که څه هم له اختياري تجارتي دفاترو څخه يادونه نه ده شــوې خو دغه دفاتر د اهل خبره اشــخاصو لخوا يوازې د هغه دعوې په برخه کې مطالعه کيږي چې په اســاس يې دغه دعوه رامنځ ته شــوې ده او مقابــل لــوري ته په لاس نه ورکول کيږي، ځکه مقابل لوری چې د تاجر رقيب او ســيال دی کيدلی شي د هغه د دفاترو له مخې د هغه د تجارت ټول اسرار کشف کړي او د هغه تجارتي چارو ته صدمه ورسوي.

د همدغه دليل له امله تجارتي دفاتر په ډېرو اســتثنائي حالاتو کې مثلاً په هغو حالاتو کې چې تاجر له ديواليتوب سره مخ دی او يا يې د تجارت له شــغل څخه ځان ګوښــه کړی وی او د تجارتي راز پټول اهميت ورته و نه لري مقابل لوري (د تاجر سيال) ته په لاس ورکول کيږي.

تجارتي سيالۍ

د سوداګرو او سوداګريزو شرکتونو تر منځ د سياليو د رامنځ ته کولو، او د دې لپاره چې تجارتي مؤسســات و توانيږي په اقتصادی تبادلاتو کې خپله تنظيمووونکې ونډه اداء کړي نو ضرور ده چې لاندې غوښتنو ته ځواب ووايي:

- رقابت او سيالي بايد سالمه وي

- رقابت بايد آزاد وي، په دې معنی چې د سوداګرو لخوا بايد د سالم رقابت د اصولو د رعايت په برخه کې موانع ايجاد نه شي، ســالم تجارتي رقابتونه د افغانســتان د تجارت په اصولنامه کې هم بيان شــوي دي، د نړۍ د زياتره هيوادونو په قوانينو کې، د سالم رقابت تعريف نه تر سترګو کيږي خو د يو شمير هيوادونو په قوانينو کې سالم رقابت تعريف شوی دی چې په لاندې توګه يې ذکر کوو.

غير ســالم رقابت هغه دی چې له تجارتي عرف سره مطابق نه وي او په عمومي توګه د نا ســالمو طرزالعملونو زيږنده وی، دغه نا سالم طرزالعملونه په څلورو برخو ويشل شوي دي چې عبارت دي له:

۱- د بدګومانۍ يا سوء تفاهم په هدف د تاجر په خلاف تبليغات

۲- د رقيبانو او سيالانو د تجارتي شرکتونو د داخلي نظم ګډوډول

۳- تقليد

۴- د مشتريانو يا مستهلکينو په نزد ترديد رامنځ ته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلاف تبلیغات

د هغو نا سمو معلوماتو خپرول چې د رقیبانو او سیالانو د زیانمنیدو باعث و گرځي، د نا سالم رقابــت اســاس جوړوي، حتی که انتقادات په واقعیت هــم ولاړ وی تاجر حق نه لري چې د نورو پــه وړاندې خلاف تبلیغات وکړي او باید مســؤلو مقاماتو ته یې په اړه اطلاع ورکړل شي. د خلاف تبلیغاتو ممانعت د مقایسه وي(پرتله ایز) اشتهار مشروعیت مطرح کوي، ځکه مقایسه وي اشتهار د خلاف تبلیغاتو له وسائلو څخه گرځیدلی شي، د دې لپاره چې مقایسه وي اشتهار په سالم ډول او له فریب څخه خالي وي، لازمه ده چې د هماغه شي، یا هغو خدماتو په برخه کې ترسره شي چې د همدغو اړتیاوو پوره کوونکي وي، کومه مقایسه چې رامنځ ته کیږي په واقعیت ولاړه وي او هغه ځرگندونې چې کیږي د ارزونې وړ وي.

صداقت، حقیقت او واقعیت د قانوني مقایسوي اشتهار له عمده شرایطو څخه شمیرل کیږي.

## د رقیبانو د داخلي نظم گډوډول

د یــوه شرکــت یا یــوې تجارتي مؤسســې د داخلي نظم د گډوډولو یوه بــه بیلگــه د هغو د کارکوونکو استخدام دی، په دې معنی چې تاجر هغه شخص چې د هغه د سیال او رقیب له شرکت سره د قرارداد په اســاس په کار لگیا دی جلبوي، او په دې ترتیب سره هوډ لري چې د خپل ســیال شرکت یو مهم عنصر له هغه څخه جلا او دغه شرکت زیانمن کړي.

دغه راز تاجر چې دغه عمل ترسره کوي هدف یې دا دی چې په دې توگه د خپل رقیب تاجر په لاس کې شته معلومات تر لاسه کړي، د هغه مشتریان ځان ته راجلب کړي او یا د هغه له مسلکي تجاربو څخه استفاده وکړي.

دغــه راز د وســائلو هــر ډول تصاحب چې د هغه په ســیالو شرکتونو کې د فعالیتونو د ښــه پرمختگ لپاره کارول کیږي، د نا سالم رقابت یو عمل گڼل کیږی، د بیلگې په توگه صنعتی جاسوسي یا د سیالو شرکتونو د مشتریانو لیست ته لاس غځونه او یا هم د سیالو شرکتونو د نظم گډوډول.

## تقلید

تقلید هم د نا ســالم رقابت له وسائلو څخه شــمیرل کیږي، اوپه ډیرو زیاتو او مختلفو اعمالو کې شاملیږي، د مثال په توگه د رقیب له اشتهاري اسنادو څخه تقلید کول،یا د عطرو له هغه بوتل څخه استفاده چې د نوموړي د رقیب د عطرو له بوتلونو سره ورته والی لري، ځکه مشتري د دغو عطــرو د رانیولــو پرمهال نشي کولی ځو باوري شي چې دا هماغــه عطر دی چې مخکې یې کارول او کنه دا هغه عطر دی چې د تقلید او ناسالم رقابت په هدف تولید او بازار ته عرضه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مشتریانو یا کاروونکو په وړاندې تردید پیدا کول

دا ټولو هغو اعمالو ته وایي چې د مشتری په روحیه کې اختلال رامنځ ته کوي، او په دې توګه یې ځان ته جلبوي، باید ووایو چې د ناسالم رقابت پر هغو اعمالو سربیره چې یادونه یې وشوه، د دغه تعریف په اساس چې، د رقابت خلاف فعالیتونه له هغو فعالیتونو څخه عبارت دي چې د هغو په اساس تاجر نه غواړي آزاد رقابت ته ځای پریږدي، کیدلی شي ډېرو نورو اعمالو ته هم شامل شي.

د دا ډول اعمالو له ممنوع ګرځولو څخه د حقوقي قواعدو موخه دا ده څو د هغو کسانو کړنلارې چې د آزاد رقابت په لاره کې مانع ایجادوي مجازات کړي، ځکه د دغو فعالیتونو هدف د آزاد رقابت مختل کول او هغو ته صدمه رسول دي.

د آزاد رقابت خلاف فعالیتونه په دوو برخو ویشل شوي دي:

- پر بازار باندې د حاکمیت له موقف څخه ناوړه استفاده
- د ناوړه سیالۍ او رقابت لپاره د سوداګرو ترمنځ تفاهم

په لومړي حالت کې: یو یا څو تجارتي شرکتونه په ګډه د یوه داسې شرکت په توګه فعالیت کوي چې په بازار باندې حاکمیت لري او داسې عمل کوي چې له مخې یې و کولای شي د آزاد رقابت په خلاف کړنو سره خپل دغه حاکمیت دوامدار وساتي او یا هغه تقویه کړي.

**دویم حالت:** څو تجارتخونې یا شرکتونه موافقه کوي، څو رقابت په خپل منځ کې محدود کړي او یا یې په کلي توګه له منځه یوسي. په دغه حالت کې د رقابت خلاف فعالیتونه کیدلی شي تر یوه تجارتي شرکت یا څو خاصو هغو پورې منحصر وي.

## په تجارتخونې یا شرکت پورې اړوند، د رقابت خلاف فعالیتونه

کله چې یوه تجارتخانه پر بازار باندې قدرت ولري، د دې زمینه مساعده کیږي چې دغه تجارتخانه په بازار کې آزادانه کار وکړي چې پر بازار باندې دغه استقلال د تجارتخانې یا شرکت د واکمنۍ څرګندوی دی، دغه موقف د یوه استعماري قدرت په توګه راڅرګندیږي او د تجارتخانې لپاره د ازاد رقابت په لاره کې د خنډ پیدا کولو زمینه برابره وي، دغه راز تجارتخانه د خپلو سیالانو په مقابل کې له خپلو پراخو امکاناتو څخه استفاده کوي چې له دغو امکاناتو څخه د مشتریانو او کاروونکو په مقابل کې هم کار اخلي.

د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې حقوقي قواعدو دا ډول کړه وړه منع کړي دي، ځکه د دغو قواعدو هدف د لویو سوداګرو په مقابل کې له کوچنیو تجارتونو څخه دفاع ده، نو د دغه هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تأمیــن لپــاره یو له حقوقي قواعدو څخه په دې باندې بناء دي چې پر بازار باندې له واکمنۍ او حاکمیــت څخــه مخنیوی وکړي او لوی شرکتونه و نه توانیږی چې پر تجارتي بازارونو باندې عام او تام حاکمیت ترلاسه کړي.

## پر بازار باندې د حاکمیت د ارزونې معیارونه

پر بازار باندې حاکمیت اصولاً نا مشروع دی. او له دغه حاکمیت څخه ناوړه اســتفاده هم نا مشروع عمل دی، دغه ناوړه اســتفاده د هغو کسانو لخوا کیږي چې پر بازار باندې حاکمیت لری، په بازار باندې د حاکمیت د تشــخیص لپاره په لومړي قدم کې لازمه ده څو یو مورد نظر او د پام وړ بازار تشــخیص شي، په دوهمه مرحله کې باید هغه ســلنه او فیصدي اټکل شي چې یو تجارتي شرکــت یــې په دغه بازار کې لري، خو په دغه بازار کې دغه موجوده فیصدي د ناوړه اســتفادې د اتهام لپاره کافي نه ده، بلکې لازمه ده چې د نورو عناصرو په واسطه تقویه شوې وي او بیا په دې توګه په بازار باندې د حاکمیت له ناوړه استفادې څخه خبره وکړو.

کلــه چــې تجارتي شرکت د بازار یوه محدوده برخه په لاس کې لري، د مثال په توګه له شــپږو څخه تر لسو فیصدو پورې په یوه بازار باندې د شرکت له حاکمیت څخه نه شو ګڼلای، خو د دې پــه خــلاف کې د یوه بازار یوه مهمــه او لویه برخه، د مثال په توګه که ۵۰ په ســلکو کې برخه د یوه شرکت په لاس کې وي نو دلته په بازار باندې د حاکمیت موضوع مطرح او څیړل کیدلی شي.

## پر بازار باندې د حاکمیت مکمل معیارونه

پر بازار باندې د حاکمیت له مکملو معیارونو څخه یوهم بازار ته د ورننوتلو له موانعو څخه عبــارت دی، د مثال په توګه په بازار کې د د کوکاکولا ښــه شــهرت همدغه بــازار ته د نورو د ور داخلیدو یو مانع دی، له بل لوري د یوه مشهور مارک او نښانې درلودل هم بازار ته د ور داخلیدو یــو مانع جوړوي، دغه راز تخنیکي او تکنالوژیکي مخکې والی او ســبقت هم بازار ته د داخلیدو له موانعو څخه دي.

## د تجارتخونې (شرکت) طرزالعمل

دغه طرزالعمل یوازې د هغو تجارتخانو (شرکتونو) په برخه کې کارول کیږي چې پر بازار باندې حاکمیت لري، د مثال په توګه یو شرکت پرته له دې چې بل تجار یا تجارتي شرکت ورسره په رقابت کې وي د خښــتو بیه لوړه ســاتي. دغه راز په ډېر ټیټ نرخ سره د یوه جنس عرضه کول یوازې د هغــه شرکت لخوا ترسره کیدلی شي چې پــه بازار باندې حاکمیت ولري او په دې توګه د رقیبانو د امکاناتو د سلبولو باعث ګرځي. څکه هغوی له دا ډول امکاناتو څخه نه دي برخمن او نشي کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې همدغه اجناس په دومره ټيټ قيمت سره بازار ته وړاندې کړي.

### د سوداګرو او د توکو برابروونکو تر منځ په اړيکو کې د خپلواکۍ نه موجوديت

د خپلواکۍ نه موجوديت کيدلی شي دوه اړخيز وي، په دې معنی چې تاجر د توکو برابروونکي د مقرراتو تابع وي او يا بالعکس برابروونکی د تاجر د مقرراتو. د اقتصادي خپلواکۍ نه موجوديت هغــه مهال د آزاد رقابت په مخکې خنډ ګرځي چې له يوه لوري تاجر يا برابروونکی و نه توانيږي له بالمثله (ورته)لارې څخه استفاده وکړي او له بل لوري د تاجر يا توکو د برابروونکي طرزالعمل د آزاد رقابت په لاره کې مانع رامنځ ته کړي، بناءً حقوقي قواعد د يوه شرکت يا يوې ډلې ســوداګرو له لوري د هغو کسانو په برخه کې سوء استفاده ممنوع ګرځوي چې د دوی تر اقتصادي حاکميت لاندې وي.

### د څو شرکتونو لخوا ډله ايز اقدام

دا هغــه عمــل دی چې څو تجارتي شرکتونه د يوې موضوع پــه اړه موافقه کړې وي او په دې توګه په بازار کې د آزاد رقابت مانع ګرځي، په دغه حالت کې کولای شو پر بازار باندې له ډله ايز حاکميت څخه خبره وشي، په دغه صورت کې د دوو يا زياتو اقتصادي شرکتونو د ملګرۍ په نتيجه کــې پــه بازار باندې حاکميت رامنځ ته کيږي چې له حقوقي پلوه له يوه او بل څخه جلا دی، خو په ګډه کار کوي او يا را څرګند شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي لنډيز

د افغانستان د تجارت د اصولنامې د ۸ مادې له مخې تاجر داسې تعریف شوی دی:

– ټول اشخاص که هغه افراد وي او یا تجارتي شرکتونه خو چې تجارتي اهلیت ولري او په خپل نم سره په یوه یا څو تجارتي معاملاتو ځان مشغول کړي او دغه کار خپل دوامداره شغل وګرځوي.

– تجـارتي اهليـت: هر فرد چې د اتلس کلنۍ سـن یـې تکمیل کـړی وي او د خپلو حقوقي تصرفاتو لپاره یې د شـخصیت او تجارت د ډول له امله کوم قانوني موانع نه وي موجودې، کولای شي تجارت وکړي.

– تاجر د لاندې حقوقو درلودونکی دی.

۱- د تجارتي شرکت د تأسیس حق ۲- د کرایې د تمدید حق ۳- د تجارتي عنوان د درلودلو حق

۴- د اختراع حق ۵- د تجارتي نښې او موډل حق ۶- په ګروۍ کې د تجارتي شرکت د ایښودلو حق.

– تاجر لاندې وجائب لري:

۱- د تجارتي جواز اخيسـتل ۲- د تجارتي ثبت په دایره کې ثبتول ۳- د اجباري تجارتي دفاترو درلودل (ورځنی دفتر، د دارایۍ دفتر او لوی دفتر).

– تجارتي رقابت: تجارتي رقابت باید سـالم او آزاد وي، د زیاتره هیوادونه په قوانینو کې د سالم آزاد رقابت تعریف نه تر سـترګو کیږي، خو د یو شـمیر هیوادونو قوانین د نا سـالم رقابت په اړه داسې نظر لري:

– ناسـالم رقابت له هغه رقابت څخه عبارت دی چې له تجارتي عرف او عاداتو سره مطابق نه وي او په عمومي توګه د ناسـالم طرزالعمل زیږنده وي، دغه نا سـالم طرزالعمل په لاندې څلورو برخو وییشل شوی دی:

۱- د بدګومانۍ یا سوء تفاهم د پیدا کولو په هدف د تاجر خلاف تبلیغات

۲- د رقیبانو د تجارتي شرکتونو د داخلي نظم ګډوډول

۳- تقلید

۴- له مشتریانو او کاروونکو سره تردید او شک پیدا کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پنځم څپرکي پوښتنې

۱- تاجر څوک دی او یو فرد څه وخت د تاجر صفت خپلوي؟
۲- تاجر د کومو حقوقو درلودونکی دی؟
۳- د تاجر وجائب څه دي؟
۴- تاجر ته د اجباري او اختیاري دفاترو د درلودلو اړتیا څه ده؟
۵- د اجباري او اختیاري دفاترو د ثبوت قدرت توضیح کړئ؟
۶- تجارتي رقابت څه دی؟
۷- سالم او نا سالم رقابت څه ډول له یوه او بل سره جلا کولای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تجارتي قراردادونه

**ټولیزه موخه:**

د تجارتي قراردادونو پېژندل، د قراردادونو عمومي شرايط او د هغو ډولونه.

د

**زده کړې موخې:** د دغه څپرکي په پای کې به محصلین وکړای شي چې:

- د قراردادونو عمومي شرايط و پېژني.
- د تجارتي قراردادونو او نورو هغو تر منځ تفکیک وکړای شي.
- ملي او نړیوال قراردادونه و پېژني.
- د حمل و نقل، بیه او سرقفلي په قراردادونو پوه شي.

د تجارت په ساحه کې يوازې هغه قراردادونه مطرح کيږي او د تجارتي قراردادونو تر نامه لاندې مطالعه کيږي چې د قراردادونو د عمومي شرايطو په حفظ سره په مدني حقوقو کې ترې يادونه شوې وي.

**تعریف:** د افغانستان مدني قانون تر عقودو او قراردادونو پورې اړوند کلي اصول تعريف کړي او د تجارت په اصولنامه کې د قراردادونو تعريف شتون لري. د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۶۰۸ مادې د قراردادونو په تنظيم کې رضا او موافقت کافي بللی او داسې صراحت یې کړی دی: «د تجارتي عقودو لپاره د طرفینو رضا او موافقت کافي دی، د قرارداد د تنظیم او نورو مراسمو پرځای کول لازم نه دي».

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یاد شوي قانون ۶۰۹ ماده دغه راز په دې برخه کې وايي چې:

که د یوه عقد لپاره قانوناً د یوه مخصوص شـــکل رعایت په لیکلي ډول لازم وي او عقد یې تر ځینې مراسمو لکه مقاولې پورې موقوف کړی وي، نو تر هغه چې دغه شکل مراعات نه شي او یا ټاکل شوي مراسم اجراء نه شي عقد نه شي منعقد کیدلی.

په هغه صورت کې چې دواړو لوریو د قرارداد په تنظیم سره موافقه کړې وي، داسې بلل کیږي چې ګواکي د عقد تړون یې د قرارداد تر تمدید پورې تړلی دی، خو د یادې شوې مادې وروستي بند زیاته کړې ده چې «که قرارداد تنظیم شوی هم نه وي، خو ثابته شي چې دواړو لوریو عقد منعقد ګڼلی دی، د قرارداد نه تنظیم او ســمون د عقد د عدم انعقاد ســبب نه ګڼل کیږي، مثلاً مشتري یا (اخیستونکي) ته ټول مال یا د هغه یوه برخه تسلیم شوی او بایع (خرڅوونکي) د خرڅ شوي مال ټول قیمت یا یوه برخه ترلاســه کړې ده، په دغه صورت کې که څه هم چې قرارداد نه دی تنظیم شوی، مګر عقد منعقد شوی بلل کیږي.

د افغانســتان د تجارت په اصولنامه کې د ټولو تجارتي قراردادونو په برخه کې داســې احکام شتون لري چې په اساس یې د بیمې قرارداد، کاري حق العمل، د حمل او نقل قرارداد، دلالي، د بیه لرونکو بورسیو او پاڼو کاروبار، تجارتي رهن، تجارتي ضمان، بانکداري او دغه راز د سرقفلي قرارداد، خاص قراردادونه بلل کیږي.

که د نورو هیوادونو د تجارت حقوق مطالعه کړو نو لیدل کیږي چې د یو شمیر قراردادونه په اړه یې د ځانګړو قراردادونو په توګه بحث کړی دی، د مثال په توګه د فرانسې په مدني کود کې د تجارتي قراردادونو په ســاحه کې په ځانګړي ډول له تجارتي تبادلې څخه د تجارتي قرارداد په توګه یادونه شوې ده، د فرانسې د مدني کود ۱۷۰۲ ماده د تجارتي تبادلې په اړه وايي: تجارتي تبادله هغه قرارداد دی چې په اساس یې یو جنس د بل جنس په مقابل کې تبادله کیږي.

د فرانسې مدني کود تبادله د یوه تفاهمي قرارداد په توګه پیژندلې ده، له هغو ټولو خصوصیاتو سره سره چې تجارتي تبادله یې لري بیا هم د قراردادونو تر عمومي شرایطو لاندې راځي، خو دغه ټکــی باید له پامه و نه غورځول شي چې هیڅ کله نشــو کــولای قراردادونه په کلي ډول د تدوین شــویو او تجارتي قراردادونو تر نامه لاندې یو له بل سره تفکیک کړو. د هر قرارداد تجارتي یا مدني خصوصیت تر دې پورې تړلی دی چې د ســوداګرو اشــخاصو ترمنځ منعقد شــوی دی او که د غیر تاجــرو  اشــخاصو تر منځ خــو حالاتو ته په پام سره کیدلی شي مدني یــا تجارتي وګڼل شي، په هغه حالــت کې چــې قرارداد تجارتي وي نــو د اموالو او د تجارت د حقوقو ټــول هغه مقررات چې د محاکمــو د صلاحیــت، د ځیړنې د څرنګوالي، د اثباتو د دلائلو، تضامنــي ضمانت او نورو لپاره یې وړاندوینه شوې ده، د تطبیق وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړیوال تجارتي قراردادونه

پــه نړیوال تجارت کې ســازمانونه او بنســټونه زیاتــره وخت، لکه د لنــدن د غلاتو د تجارتي اتحادیــې(London Contrade Association) د قراردادونــو په څیــر د معاملاتو او غلاتو د پیر او پلور لپاره نمونه قراردادونه (Contracts Types) تهیه کوي. د ملګرو ملتونو ســازمان، د تجارت نړیواله مؤسسه او د اروپايي اتحادیې غړي دغه راز هڅه کوي چې متحدالشکل قراردادونه تهیه کړي.

په تجارتي قراردادونو کې تر ډېره داســې اصطلاحات کارول کیږي چې کیدای شي وروســته یې تفســیر او تعبیــر د اختــلاف وړ وګرځي لکه د F.O.B خرڅــلاو، د C.E.F، خرڅلاو او د C and F خرڅلاو، له همدې امله د تجارت نړیوال اتاق چې په ۱۹۱۹ م کال کې تأسیس شوی دی، د حقوقو د علــماؤو، ســوداګرو، بانکونو او پــه دې برخه کې له نورو دخیلــو او متخصصینو څخه د دا ډول اقتصادي تجارتي اصطلاحاتو د تعریف لپاره یو کمیسیون تشکیل کړی دی او په ۱۹۵۳ کال کې یې پــه دې برخــه کې د انکوټیرم (Incoterm) په نامه کتاب خپور کړ چې په نړیوال تجارت کې یې د عرف ځای خپل کړی او په هغو مواردو کې چې د پلورونکي او پیرودونکي تر منځ اختلاف رامنځ تــه کیږي دغه کتاب ته مراجعه کوي. په دغه ســاحه کې درې ډول خرڅــلاو ترسره کیږي چې له F.O.B او C.E.F او C and F څخه عبارت دی.

## FOB خرڅلاو

د دغه خرڅلاو لنډیز له (Free on Board) څخه اخیستل شوی چې معنی یې په بیړۍ باندې یــا د بیــړۍ له لارې ازاد تجارت دی، په دغه خرڅلاو (پلور) کې قیمت او بیه د ټولو هغو توکیو او اړونده مخارجو قیمت ته شامله ده چې د خرڅلاو له ځای څخه بیا تر بیړۍ پورېورباندې راځي، په دې معنی چې پلورونکی مؤظف دی پلورل شــوي توکي په خپل لګښت سره د خرڅلاو له ځای نه د بیړیو تر بندر پورې یوسي او په بیړۍ کې یې ځای پرځای کړي، له دې سره سم د بیړۍ بندر د توکیــو د حمــل مبدأ ګڼل کیږي او له هغه نیټې چې توکي بیړۍ ته ور باریږي تر اخیســتونکي (مشــتري) پورې تعلق پیدا کوي او د سمندري حمل، بیمې، له ګمرک څخه د تخلیې او ترخیص او دغــه راز تر خپله ځایه د رســولو ټول مصارف یې پــه هغه باندې دي، نو له همدې امله ټول هغه خسارات چې د بارېدو له نیټې څخه توکیو ته متوجه کیږي د اخیستونکي (مشتري) په غاړه دي.

## C&F خرڅلاو

د دغه خرڅلاو لنډیز له (Cost and Freight) څخه اخیستل شوی دی، یعنې بیه او د حمل کرایه.

دا هغه خرڅلاو دی چې له مخې یې پلورونکی د توکیو سمندري حمل او انتقال په غاړه اخلي او د خرڅلاو قیمت تر مقصود بندر پورې د توکیو ټولو اړونده لګښتونو او انتقال ته شامل وي، له همدې امله زیاتره وخت له C&F څخه وروسته د بندر نوم ذکر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ډول قراردادونه له ۱۹مې پیړۍ څخه را وروســته رواج شوي دي. د C&F په خرڅلاو کې اخیستونکی د توکیو او اجناسو له باریدو وروسته مالک ګڼل کیږي، بناءً ویلای شو کوم توکي چې تر اوسه ځای ته نه دي رسیدلي او په سمندر کې دي و پلورل شي او پلورونکي خپلي پیسې ترلاسه کړي نو هغه مشــکل چې په دې برخه کې رامنځ ته کیدلی شي دادی چې اخیســتونکي (مشتری) توکي له رانیولو وړاندې نه دي کتلي نو که چیرې د توکیو په تعیین شــوي مقدار کې کمبود راځي د پلورونکی او اخیســتونکي تر منځ د شــخړې د را پیدا کیدو ســبب کیږي، د دا ډول اختلافاتو د لــه منځه وړلــو لپاره د ۱۹مې پیړۍ په اواخرو کې په دا ډول قراردادونو کې یو لړ ځانګړي شرایط اضافه شــول چې د هغو له ماهیت سره یې تناقض درلود، مګر نن د (C&F) په خرڅلاو کې دوې موضوعګانې باید په پام کې و نیولې شي، یوه داچې د توکیو د تحویلۍ له ورځې د توکیو مالکیت اخیســتونکي (مشــتري) ته انتقال شوی او ټول هغه خطرات چې توکیو او اجناسو ته متوجه کیږي د اخیســتونکي په غاړه دي، دوهم دا چې پلورونکی (بایع) د توکیو او اجناســو د حمل او انتقال مسؤل دی او دغه مسؤلیت یې د قرارداد په اساس دی.

## CIF خرڅلاو

سي آی اف د (Cost insurance Freight) ترکیب لومړي توری دی، یعنی بیه، بیمه او د حمل او نقل کرایه.

د (CIF) خرڅلاو د C&F خرڅلاو د مقرراتو تابع دی، په دومره توپیر سره چې په دغه خرڅلاو کې تعیین شوې بیه، د توکیو په قیمت او د هغو د انتقال په کرایه سربیره د هغو د سمندري حمل او نقل بیمې ته هم شــامله ده، خو باید په پام کې ولرو چې د پلورونکي له لوري د توکیو بیمه کول هغه د بارولو په وخت کې د واردیدونکو خساراتو مسؤل نه ګرځوي، بلکې د بارولو له نیټې وروســته ټول هغه خطرات چې توکیو ته متوجه کیږي د اخیســتونکي په غاړه دي، له همدې امله کومه بیمه نامه چې تنظمیږي د انتقال وړ ده او د اخیستونکي په وجه کې ظهر نویسي کیږي، او یا هم اصولاً د حامل په وجه کې صادریږي.

پــه دې ترتیــب سره اخیســتونکی حق لري چې لــه بیمه کوونکــي څخه مســتقیماً د واردو شــویو خســاراتو په اندازه پیسې ترلاســه کړي او که بیمه کوونکی وارد شوي خسارات ور نه کړي اخیستونکی، پلورونکي ته د مراجعې حق نه لري.

## د داخلي تجارت قراردادونه

د افغانستان تجارت اصولنامې ته په کتنې سره، د هغو قراردادونو له جملې څخه چې د تجارت د حقوقو په ساحه کې ترسره کیږي یو هم د حمل او نقل قرارداد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حمل و نقل قرارداد

د تجارت د قانون په ۸۲۱مه ماده کې داسې ویل شوي دي« په وچه، اوبو یا فضاء کې د اجرت په مقابل کې د اموالو یا اشخاصو حمل او نقل د نقلیاتو د محاوله په نامه سره یادیږي»، د فرانسې د تجارت په حقوقو کې، د ځمکې یا اوبو له لارې د شــیانو د حمل په اړه له ۱۷۸۲ مادې څخه تر ۱۷۸۶ مادې پورې په مدني قانون کې یادونه شوې ده او د تجارت په اصولنامه کې یې له ۸۲۴ څخه تر ۸۵۵ مادې پورې وړاندوینه شوې ده.

د هوایــی حمل او نقل لپاره جلا مقررات تدوین شــوي دي او پــه څنګ کې ورسره په لاندې شرحه نړیوال کنوانسیونونه هم د مختلفو دولتونو تر منځ لاسلیک شوي دي:

۱- د اورګاډي د پټلۍ له لارې د حمل او نقل په برخه کې د سویس (Brene) نړیوال کنوانسیون.

۲- د ۱۸۹۳کال د C.I.M توکیو د حمل او نقل کنوانســیون، د دغه کنوانسیون وروستی سمون په۱۹۵۵کال کې وو.

۳- د وارســا د ۱۹۱۹ د هوایی حمل او نقل کنوانســیون، دغه کنوانســیون په ۱۹۵۵کال کې په لاهه کې اصلاح شو.

۴- د توکیو د ځمکني لیږد رالیږد کنوانسیون، ۱۹۵۴کال ژنیو C.M.R

۵- د سمندري لیږد رالیږد کنوانسیون، هامبورګ ۱۹۷۸کال

د فرانســې د تجــارت په حقوقــو کې هم د حمل او نقــل قرارداد نه دی تعریف شــوی، خو فرانسوي حقوقپوهان د شیانو د حمل او نقل قرارداد داسې تعریفوي چې: د حمل او نقل قرارداد هغــه قــرارداد دی چې د هغو په وســیله یې د حمل او نقل متصدي متعهــدې بلل کیږي چې له لیږونکي څخه د اجرت په ترلاسه کولو سره معین توکي او سامان آلات ځای پرځای کړي.

په دغه تعریف کې څو ټکي د پام وړ دي:

- قرارداد د هغه چا په واسطه منعقد کیږي چې د حمل او نقل په کاروبار لګیا وي.
- د قرارداد اصلي موضوع د اجرت په بدل کی د معینو توکیو او وسائلو حمل دی.
- د حمل او نقل متصدي د توکیو د حمل په چارو کې د پوره واک او اختیار درلودونکی دی.

له پورتني تعریف څخه دا نتیجه اخیســتل کیدای شي چې، د حمل او نقل قرارداد د اجارې د خدماتو او اجارې د شیانو له قراردادونو سره توپیر لري، ځکه د حمل او نقل په قرارداد کې اړونده متصدي د شیانو په حمل یا خدماتو په وړاندې کولو کې د عمل پوره واک لري او خپل تعدات په مستقل ډول ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سر قفلي قرارداد

د هغــو موضوعاتو له ډلې څخه چې له نهمې هجرې پېړۍ راهیســې یې د څېړونکو ذهنونه ځان ته جلب کړی دي د سرقفلۍ موضوع ده، مصریانو او د سوریې خلکو سرقفلۍ ته خلوالرجل ویــل، د مغــرب عربانو مفتاح (زینه) یا جلســه ورته ویل، په عراق کې قفلیــه ورته ویل کیږي، د ســوریې ځینې خلک فروغینة ورته وایي، او پــه ځینې فقهي کتابونو کې له سرقفلۍ څخه په نقل القدم یا خلوالید سره تعبیر شوی دی.

هغو څېړونکو چې د سرقفلۍ په اړه یې مطالعې کړې او مقالې یې لیکلې دي، نه دي توانېدلي چې د دغې مسألې د واقعیت کامل تصویر وړاندې کړي، نو بې له شکه چې په دغه موضوع باندې د بحث لپاره لاهم ځای شته چې له یوې نوې زاویې باید وڅېړل شي، تر څو په دې برخه کې فقهي او حقوقي لیکنې او نظریات ترلاسه شي.

د اکتســاب حق چې په عرف کې سرقفلي ورته وایي کوم معین تعریف نه لري، خو ویلای شــو چې د اکتســاب حق د منقولو او غیر منقولو عواملو له مجموعې څخه عبارت دی، منقول عوامل لکه، اثاثیه، اولیه مواد، ابزار، آلات، تجارتی توکي، نغدې پیســې او غیر منقول عوامل لکه د اختراع حق په تر تجارتي نښــو او علامو پورې اړوند حقوق، د تجارتي محل د اجارې حق او ادبي یا هنري مالکیت او نورو... حقوق.

سرقفلي د اکتساب د حق د اجزاءو یو جزء ګڼل کیدای شي، دغه حق کیدای شي چې مالک یې په یوه محل یا موقعیت کې د کاروبار له امله د مشــتریانو د راجلبولو په علت خپل کړي. سرقفلي د موضوعــي تجارتي اعمالو له جملې څخــه یو عمل دی چې کله د یو لړ ظاهري ضوابطو په وجه شــکلي تجارتي عمل هم ورته ویل کیږي، د سرقفلۍ حق چې تاجر یا کســبګر یې د تجارتي محل یا یوې حرفې او کسب له مخې خپلوي، د دې کار حقوقي اثر له دې امله دی چې ولې نه شي کولای مستاجر (اجاره اخیستونکي) دې ته اړ باسي چې دغه محل او ځای ترک کړي.

په دې اســاس ویلای شــو چې د ځای په اجاره کې د مستاجر د تقدم حق، د مالک د مالکیت حق محدودوي.

سرقفلي د سرمایې او شــتمنۍ له مهمو عناصرو څخه یــوه ده، دغه سرمایه له هغو حقوقو او امتیازاتو څخه عبارت ده چې د یوه تجارتي فعالیت لپاره رامنځ ته کیږي، دغه سرمایه او شتمني د فرانسې په حقوقو کې په (Fond Conncerce de) سره یادیږي او دا په یوه تاجر یا کسبګر پورې د ټولو هغو حقوقو، اموالو او اثاثیې مجموعه ده چې تاجر یا کسبګر یې د خپلو اړونده فعالیتونو لپاره برابروي.

تجــارتي شــتمني کیدای شي چې پر سرقفلۍ یا په اجاره کــې د تقدم پر حق سربیره، په لاندې مادي او غیر مادي عناصرو کې شامله شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقعیت، مشـــتریان، نوم او تجارتي عنوان، تجارتي او صنعتي نښې او علایم، نقوش، رسمونه او موډلونه، د کارخانې نښه یا علایم، صنعتي جوایز، لومړني تجارتي مواد، تجارتي اثاثیه، تجارتي توکو او نور.

د سرقفلۍ او کسب د حق تر منځ د تفاوت په اړه ویل کیدای شي چې سرقفلي په ملک پورې اړه لري یعنې تر موقعیت، مرغوبیت مشتری والی، او د ساختمان تر ظاهر پورې مربوط حق دی.

ملــک کیــدای شي له اجارې مخکې د محل د چمتو کیدو او ښــه موقعیت او شـــهرت له امله د هغــه تاجر یا مســـتاجر ته زیات اهمیت ورکړي او د هغــه مرغوبیت او د جذب توان ته لا ډېر زیاتوالی ورکړي، چې دغه مسأله د سرقفلۍ د کچې په زیاتوالي کې هم مؤثره پریوتلای شي.

په دې اســـاس ښـــایي د ملکي سرقفلي کچه یـــوازې د موقعیت د تغییر له املــه چې له اجارې وروســـته پیداکېږي، ډېروالی وموميي البته د بیو تغییر او د پیســـو ارزښـــت هم په دې چاره کې بې اغېزې نه دی. په دې ترتیب باید وویل شي چې د ملکي سرقفلي د کچې په ټاکلو کې چې د لومړي ځل لپاره په اجاره ورکول کېږي، د کســـب یا ســـوداګرۍ حق مداخله نه لري او دا حق وروســـته د مستاجر لپاره رامنځ ته کېږي.

که چېرې څښـــتن یا مالك خپل ســـوداګریز ملك په اجاره ورکړي، کولی شي د سرقفلي تر عنوان لاندې له مســـتجار څخه مبلغ ترلاسه کړي. لکه څنګه چې مالي سرقفلي نه وي اخیستې او مستجار د ملك د سرقفلۍ په ترلاسه کولو سره ملك بل چاته ورکړي، نو د مستجار د اجارې د مودې تر پای ته رسېدو وروسته له مالك څخه د سرقفلۍ د غوښتلو حق نه لري.

## د سرقفلي تعریفونه

لومړی تعریف: سرقفلي د متعارف شرط پر بنسټ د کرایې د عقد یو ډول دی.

دویـــم تعریف: سرقفلي د کرایې په وړاندې پـــه دوکان کې د اقامت او جلوس د دایمي حق له اخیستلو عبارت ده، چې اصلي مالک ئې دبیرته ایستلو حق نه لري.

درېیم تعریف: سرقفلي له هغه منفعت څخه عبارت ده، چې شخص یې اصلي مالك ته د یوې اندازه پیسو د ورکړې په مقابل کې مستحق ګرځي، خو ملکیت له اصلي خاوند سره وي.

څلورم تعریف: سرقفلي یوازې د ګټې اخیســـتنې په موخه په یوه مکان کې د پېښـــې اېښودلو او ترلاســـه کولـــو څخه عبارت ده، چې د هغه مکان واقـــف یا ناظر ته د مبلغ ورکړه ده چې صرف تعمیر او بیارغونه موقوفه کړي.  په دکانونو کې مســـتعاره سرقفلي پر دې بنســـټ ده چې واقف یا متولي یا ملك د دوکان لپاره ټاکلی مبلغ ټاکي، د دوکان له ســـاکن څخه هغه مبلغ واخلي او  هغه د اسکان شرعي اجازه ورکړي.

پـــه دې صورت کـــې ددوکان خاوند حق نه لري هغـــه کرایه دار له دوکان څخه وباســـي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرقفلی ورته ثابته ده.اوتر هغه وخته پوری حق نلری دوکان بل کس ته په کرایه ورکړي ترڅو چې په لومړي سرکې اخستل مبلغ مسترد نکړي.

په کرایه ورکول د شـــیانو پر منفعت باندې تړون ته وايي. ټول فقیهان د اجارې کلمه د شـــیانو او اشخاصو پر اجارې اطلاقوي. یوازې مالکي فقیهان د اشخاصو او اشیاوو د اجارې ترمنځ توپیر کوي، له دې امله اجاره د انســـان د کار لپاره کاروي، اما د اشـــیاوو پر منفعت تړون یا عقد کرایه بولي. همداشان که چېرې مستجار د مالك په منافعو کې اخلال رامنځ ته کړي، مالك د اجارې د عقد د فسخه کولو حق لري.

د بېلګې په توګه مالك له مستجار سره د خپل دوکان د اجاره ورکولو پر سر هوکړې ته رسېدلی، چې مســـتجار پـــه دې دوکان کې زرګري یا خیاطـــي وکړي، له یوې مودې وروســـته د دوکان مالك ناڅاپه ویني چې مســـتجار په دوکان کې خپلسری کارکوي یا داســـې کار په کې کوي، چې دوکان ته زیان رســـېږي، مثلاً دېوالونه یې نړولي وي، په دې صورت کې مالك حق لري، چې مســـتجار له دوکانه وباسي.

## د سوداګریزې بیې قرارداد

سوداګریزه بیه مشخص تعریف نه لري، همداشان د افغانستان د سوداګرۍ په اصولنامه کې هم تعریف شـــوې نه ده. په بیه پورې اړوند ټول حقوقي او مدني مقررات په ټول ســـوداګریز پېر او پلور کې حاکم دي، خو د سوداګریزې بیې د ځینو برخو لپاره ځانګړي مقررات په پام کې نیول شوي دي.

په ټولیزه توګه ســـوداګري ازاده ده او ســـوداګر د هر ډول سوداګریزو مالونو د پېر او پلور حق لري، البته چې نامشروع نه وي او په غیر مجازو شیزونو لکه تریاکو او نشه یي توکو پورې تړلي نه وي. اوسمهال هغه محدودیتونه چې د سوداګرۍ لپاره د تطبیق وړ دي، په دوه ډوله دي:

یو یې د ځینو اجناســـو د پېر او پلور کلي ممنوعیت دی او بل یې له ټاکلو ســـازمانونو سره د معاملاتو محدودیت دی. د معاملې محدودیت په هغو مواردو پورې اړوند دی، چې د خرڅوونکي د واك له پلوه، د لېږد رالېږد، بانکوالۍ، بیمې، کارخونې تاسیس او هغو مواردو لپاره چې د دولت په ولکه کې دي، ټاکلي شرایط ولري.

لکه د بهرنۍ ســـوداګرۍ انحصـــار او دخانیات او بلاخره هغـــه محدودیتونه چې دولت یې د عمومـــي منابعو د ســـاتلو لپاره ټاکي، لکه لـــه احتکار څخه مخنیوی، د هغـــو خنډونو او رقابت پر وړانـــدې چې د تولیدوونکو او خرڅوونکو ترمنـــځ د بیو د لوړوالي لپاره موجود وي، د مصرفوونکو په ملاتړ پورې اړوند مقررات ټاکل.

د یادونې وړ ده چې د ممنوعه اجناســـو د پـــېر او پلور اړوند مقررات اغلب په جزایي قوانینو کې اټکل شوي او اصولاً د دې ډول شیزونو پېر او پلور منعه دی. سوداګریزه بیه ځانګړي سوداګریز

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشخصات لري چې د افغانستان د سوداګرۍ د اصولنامې په دريم څپرکي کې يې يادونه شوې ده.

د سـوداګرۍ د اصولنامـې ۶۲۹ ماده څرګندوي: ( د معينه او د انعقاد د قيمت په نسـبت د دواړو لوريـو رضـا، بيع ګڼل کېږي). جاريه قيمت او د کتلاك لېږل او د هغه خرڅلاو عرضه چې د اشياوو د قېمت، مقدار او ماهيت له ټاکلو پرته رامنځ ته شي، ايجاب نه بلل کېږي.

البتـه د يادونـې وړ ده چې بايع غير ( د بل چا ) مال نـه شي خرڅولی او په هغه صورت چې داسې وشي، پيرودونکی د هغه مال خاوند نه ګڼل کېږي، خو بايع مکلف دی يا مال وپيري او مشتري تـه يې تسـليم کړي او يا هغه زيانونه چې رامنځ ته شـوي جبران کـړي.  په هغه صورت کې چې خرڅلاو د سوداګر له خوا د بل شخص د منقوله اموالو په مورد کې ترسره شي او مشتري ته تسليم شي، په دې شرط يې مالك ګڼل کېږي، چې پر دې حقيقت خبر نه وي. د مشـتري مالکيت په هغه صورت کې سلبېږي چې دا ثابته شي چې پلورل شوي مالونه مفقود يا مسروقه دي.

همداشـان د يادونې ده چې که د عقد په وخت کې د سوداګريزو اموالو بيع موجوده نه وي، خو د تسـليم پر مهال د تدارك وړ وي، د اعتبار وړ ده. د هغو اموالو د بيعې په برخه کې چې د اتـلاف وړ دي، بايـد وويل شي چې که د عقد په موقعيت کې د دواړو لورو له خوا د مال د اتلاف احتمال په پام کې نيول شـوی وي، بيع يې جايزه ده او د احتمال په صورت کې د مشـتري د قېمت د استرداد حق نه لري.

سره له دې چې د سـوداګريزې بيعې په برخه کې د افغانسـتان د سـوداګرۍ په اصولنامه کې احکام شـتون لري، د سـوداګريزې بيعې ځينې ځانګړې ډولونه چې يوازې د سوداګريزې امتعې په ساحه او د کتلاك په لېږلو او يا د خرڅلاو په عرضه کې، چې د اشياوو د قيمت د مقدار او ماهيت له ټاکلو پرته ترسره کېږي، په سوداګرۍ کې مطرح دي.

لکه ( سيف ) بيع چې د هغې په اړه د افغانستان د سوداګرۍ په  اصولنامه کې داسې راغلي: ( هغه امتعه چې د سـيف په ډول پلورل کېږي، بايد د بايع له خوا د مقاوله شرايطو او د هغه د عدم په صورت کې د سيمه ييزو روانو دودنو او عرف له مخې په کښتۍ کې لېږدول کېږي، داسې محسوبېږي  چې عليحده پلورل شوې وي.)

د سيف په اړه بايد وويل شي چې CIF د (Insurance Fright Cost مخفف، قيمت، بيمه او نقليه مصرف دی. يانې هغه خرڅلاو چې په کښتۍ کې د مال د تسليم په شرط د نقليه مصرف او بيمې اجرااتو سربېره ترسره کېږي.

همداشان بايد وويل شي هغه امتعه چې د سيف په ډول پلورل کېږي، له يوه ښار يا يوه هېواد او يا يوه بندر څخه لېږل کېږي، هغه تاريخ چې ياده امتعه د لېږد د لومړنيو وسايلو په وسيله لېږل شوې، د حل د تاريخ په توګه قبلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي لنډيز

د افغانستان د تجارت د اصولنامې ۶۰۸ مادې د قراردادونو په تنظيم کې رضا او موافقت کافي بللی او داسې صراحت یې کړی دی: «د تجارتي عقودو لپاره د طرفينو رضا او موافقت کافي دی، د قرارداد تنظيم او نورو مراسمو پرځای کول لازم نه دي».

په تجارتي قراردادونو کې تر ډېره داسې اصطلاحات کارول کيږي چې کيدای شي وروسته يې تفسير او تعبير د اختلاف وړ و ګرځي لکه د F.O.B خرڅلاو، د C.I.F، خرڅلاو او د C and F خرڅلاو، له همدې امله د تجارت نړیوال اتاق چې په ۱۹۱۹ کال کې تأسیس شوی دی د حقوقو د علماؤو، سوداګرو، بانکونو او په دې برخه کې له نورو دخيلو او متخصصينو څخه د دا ډول اقتصادي تجارتي اصطلاحاتو د تعريف لپاره يو کميسيون تشکيل کړی دی او په ۱۹۵۳ کال کې یې په دې برخه کې د انکوټيرم (Incoterm) په نامه کتاب خپور کړ چې په نړیوال تجارت کې یې د عرف ځای خپل کړی او دلته څو اصطلاحګانو ته اشاره کېږي.

۱ - FOB خرڅلاو:

د دغه خرڅلاو لنډيز له (Free on Board) څخه اخيستل شوی چې معنی يې په بېړۍ باندې يا د بېړۍ له لارې ازاد تجارت دی، په دغه خرڅلاو (پلور) کې قيمت او بيه د ټولو هغو توکيو او اړونده مخارجو قيمت ته شامله ده چې د خرڅلاو له ځای څخه بيا تر بيړۍ پورې ورباندې راځي، په دې معنی چې پلورونکی مؤظف دی پلورل شوي توکي په خپل لګښت سره د خرڅلاو له ځای نه د بيړيو تر بندر پورې يوسي او په بيړۍ کې يې ځای پرځای کړي.

۲ - C&F خرڅلاو:

د دغه خرڅلاو لنډيز له (Cost and Freight) څخه اخيستل شوی دی، يعنې بيه او د حمل کرايه.

دا هغه خرڅلاو دی چې له مخې يې پلورونکی د توکيو سمندري حمل او انتقال په غاړه اخلي او د خرڅلاو قيمت تر مقصود بندر پورې د توکيو په ټولو اړونده لګښتونو او انتقال کې شامل وي.

۳ - CIF خرڅلاو

سي آی اف د (Cost insurance Freight) ترکيب لومړي توري دي، يعنې بيه، بيمه او د حمل او نقل کرايه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د داخلي تجارت قراردادونه

د حمل او نقل قرارداد

د تجارت د قانون په ۸۲۱مه ماده کې داسې ویل شوي دي« په وچه، اوبو یا فضاء کې د اجرت په مقابل کې د اموالو یا اشخاصو حمل او نقل د نقلیاتو د محاوله په نامه سره یادیږي».

## سرقفلي قرارداد

له هغې ګټې څخه عبارت دی، چې شخص یې اصلي مالك ته د یو مقدار پیسو په ورکړې سره مستحق کېږي، خو مالکیت د اصلي خاوند سره باقي وي.

## سوداګریزه بیه

پــه دې اړه د ســوداګرۍ اصولنامې په ۶۲۹ ماده کې راغــي: (( د مبیعې او د قېمت د انعقاد په نســبت د دواړو لوریو رضایت بیه بلل کېږي، د جاریه قېمت اطلاع او د کتلاك لېږل یا د هغه خرڅــلاو عرضــه چې د څیزونو د قیمت، مقدار او ماهیت له ټاکلــو پرته منځ ته راځي، ایجاب نه ګڼل کېږي. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې

۱ - عقود او سوداګریز قراردادونه د هېواد د سوداګرۍ د قانون له مخې تعریف کړئ؟

۲ – د نړیوالو سوداګریزو قراردادونه په اړه رڼا واچوئ؟

۳ – د FOB او Fand C او CIF خرڅلاو په لنډه توګه توضیح کړئ؟

۴ – د لېږد را لېږد د قرارداد په هکله د افغانستان د سوداګرۍ د قانون دریځ څه دی؟

۵ – د سرقفلي قرارداد څه دی، توضیح یې کړئ؟

۶ – سوداګریزه بیع زموږ د سوداګرۍ په قانون کې څه ډول توضیح شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم څپرکی

# سوداگریز اسناد

**ټولیزه موخه:**

د سوداگریزو اسنادو پېژندنه او له نورو اسنادو څخه د هغو تفکیك او نورو ته یې د لېږد ساده او اسانه لارې چارې.

**د زده کړې موخې:** محصلان به د دې څپرکي تر لوستلو وروسته پر لاندې معلوماتو پوه شي:

- سوداگریز اسناد به وپېژني.
- اسناد به له نورو اسنادو څخه تفکیك کړای شي..
- ظهر لیکنه یا Endorsemont د سوداگریزو اسنادو د لېږد غوره په توگه درك کړای شي.
- برات، چک او حجت د ځانگړو سوداگریزو اسنادو په توگه وپېژني.

سـوداگریز اسناد د سـوداگرۍ د حقوقو په برخه کې ځانگړی رول لري او په سوداگرۍ پورې د اړوند معاملاتو په وده او بشـپړتیا کې یې ډېرې اسـانتیاوې رامنځ ته کړې دي، چې حتا د پېر او پلور په معرض کې واقع دي. د سوداگریزو اسنادو اصطلاح د حقوقو په علم کې په خاصه او عامه مانا استعمال شوې ده.

عامه مانا یې د هغو اسـنادو له جملې څخه عبارت ده چې په سوداگرۍ کې معمول وي، خو په خاصه مانا سوداگریز اسناد یوازې برات، حجت او چك افاده کوي.

هغه تاریخي ماخذ چې د سوداگریزو اسنادو په اړه له پخوا زمانو څخه لاسته راغلي، ناڅیز او نامتیقن دی او یوازې ویلی شو په منځنۍ پېړۍ کې هغه مهال چې سوداگرۍ په اروپا کې د خپلې ودې پړاوونه وهل، د هېوادونو ترمنځ د لارو د امنیت نشـتوالي، د نقلیه توکو خرابۍ، د اسـعارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلابیلو ډولونو موجودیت او همداشان د قېمتي فلزونو د صدور ممانعت ګنې ستونزې پیدا کولې.

پر دې بنسټ د دې ډول ستونزو د هواري لپاره د دولتونو او سوداګرو ترمنځ تبادلوي مقاولات منځ ته راغلل او هغه سند چې مقاولات بـه یې ثابتول، د تبادلوي برایت په نامه ونومول شـو. نن ورځ د سـوداګرو د مالي اړتیاوو د پوره کولو او په سـوداګریزو چارو کې د اسانتیاوو درامنځته کولـو په موخه د سـوداګرۍ د حقوقو په برخه کې د بـرات، چك او حجت په نامه یادېږي. ددغه دري ډوله اسـنادو مقررات د حقوقو د تبادلې په نامـه هم یادوي او د هغو قوانینو له مجموعې څخـه عبـارت دی چې پر برات، حجت او چك او حقوقـي ارتباط چې د تدویر او انتقال پر مهال څرګندېږي، نافذ وي.

## د سوداګریزو اسنادو په اړه ټولیز معلومات

د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې په درېیم څپرکي کې د سوداګریزو اسنادو په هکله په برات، حجت او چك پورې اړوند مقررات بیان شوي دي. خو یاد اسناد یې د ټولیزو سوداګریزو اسنادو تر نامه لاندې نه دي ذکر کړي. د فرانسې د سوداګرۍ قانون هم دغو اسنادو ته د سوداګریزو اسنادو نوم نه دی ورکړي، بلکې د هره یوه لپاره یې بېل قواعد ټاکلي دي.

په حقوقي کتابونو کې پورتني اسـناد د سوداګریزو اسنادو تر نامه لاندې تر بحث لاندې نیول کېږي. که څه هم سـفته برات او چك د هغو اسـنادو له ډلې څخه دي، چې که د غیرسـوداګرو اشـخاصو ترمنځ هم رد و بدل شي، د سـوداګرۍ د اصولنامې تابع دي او هغو ته سوداګریز اسناد ویل کېږي.

ټولیز سوداګریز اسناد په برات، حجت او چك پورې نه محدودېږي او د سوداګرۍ دنیا له هغو اسـنادو ډکه ده، چې تر دې عنوان لاندې راځي، لکه د انبار قبضwarehause recipt، د حامل په درجه کې سند، بهالرونکې پاڼې، د پور پاڼې، ، د برات مشترکې څانګړنې، حجت او چك په دې ډول دي چې د هغو په هکله د سـوداګریزو اسنادو د عنوان پر ځای، کولی شو د براتي اسنادو له عنوان څخه استفاده وکړو.

دا اسناد ټول د ظهر لیکنې وړ دي، په جاري پیسو سره یې ارزښت په خپله په کې ذکر شوی او د یوه نقدي تعهد نماینده ګې کوي او په لنډه موده کې د ورکړې وړ وي. هغه څه چې دا اسناد له نورو سوداګریزو اسنادو څخه بېلوي، له هغو څخه د پیداکېدونکو تعهداتو د تجرید ځانګړتیا ده.

د بـرات، حجت او چك متعهد د دې اسـنادو د لاسـلیك په موجب نه شي کـولی د لرونکي پر وړاندې د سند له لېږدوونکي په خپلو مشخصو اړیکو استفاده وکړي. په بله وینا د برات متعهد نه شي کولی د هغه د درلودونکي پر وړاندې په هغو اراداتو پورې متوسل شي، چې کولی شي هغوی د لېږدوونکي په مقابل کې د هغې معاملې په لحاظ چې د هغه براتي سند په خاطر صادره شوې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پــه جريان کې وي، مطــرح کړي، ځکه د برات تعهدات د اصلي معاملې د حاصل له تعهد څخه بېل او مستقل وي.

د بحث وړ اسناد له اصلي معاملې څخه له حاصل شوي تعهد څخه جدا او مستقل دي. د بحث وړ اسناد د ورکړې د وسيلې په توګه د پيسو غوندې رول لري هغه هم په دې توپير چې د مديون د تعهــد د اســقاط لامل نه ګرځــي. په واقعيت کې د برات، حجت او چك لــه لارې مديون فوراً بري الزمه نه کوي. حال دا چې په پيســو سره ورکړه د متعهد د ذمې برائت کېږي. پر دې بنســټ کله چې د بيې غوندې معامله کې له پيســو څخه د ورکړې په توګه کار واخيســتل شي، د متعهد ( اخيستونکي ) تعهد چې له اصلي معاملې څخه دی د پيسو د مبلغ په تسليم سره ساقطېږي. خو که د پيسو پر ځای له يادو سوداګريزو اسنادو کار واخيستل شي، تر هغه مهاله چې د دې اسنادو وجه د پيسو د تسليم يا تحويل په بڼه د متعهد په حساب کې وانه چول شي، د متعهد تعهد همداسې باقي پاتېږي. د ســوداګريزو اســنادو بل خصوصيت دادی، چې که څه هم دا اســناد لکه په مدني قانون کې چې هم راغلي د عادي اسنادو په رديف کې په هغه مفهوم سره قرار لري، لېکن نسبت عادي اسنادو ته يو لړ ښېګڼې لري، چې درلودونکي ته د مندرج دين په حصول کې ډېر ډاډ ورکوي.

د سوداګريزو اسنادو د بشپړتيا پړاوونه:

د سوداګريزو اسنادو بشپړتيا په لاندې پنځو پړاوونو کې څېړلی شو:

## لرغونې ورځې

دا چــې ســوداګري خپله د انســانانو زېږنده ده او ډېــره پخوا موجوده وه، پر دې بنســټ د سوداګريزو اسنادو نمونې هم په لرغونو زمانو کې ليدل کېږي. يوازېنی توپير يې دادی، لکه څنګه چې له هغې زمانې څخه تر دې دمه بشري ټولنې کوم پرمخيون کړی، همداسې ورسره سوداګريزو اسنادو هم لوی بدلونونه کړي دي. له ميلاد څخه مخکې(۱۳۶۰-۱۸۵۰) د حمورابيانو په دوران کې قوانــين او مقررات موجود وو، بابليانو د لېــږد را لېږد، وام يا د شرکت د ګټې په برخه کې د کاري حق العمل اسناد پرېښې دي.

د فنيقيانــو په دوره کې د ســيند په هکله ډېر مقررات موجود وو، پــه لرغوني روم کې بانکي، حســابداري او ســوداګريز قرادادونــه موجود وو او د وکالت له لارې د ديــن انقال ترسره کېده او روميانو د سوداګرۍ د ودې او پراختيا په برخه کې پر خپلو سوداګريزو اسنادو ډېر ټينګار کاوه.

## اسلامي دوره

اسلام په داسې ځای کې ظهور وکړ، چې د ختيځ او لوېديځ ترمنځ سوداګريز کاروانونه له هغه ځايه تېرېدل، چې کولی شــو په دې دوره کې د قونســلي، دريايي او بانکي مقرراتو په هکله اســناد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وومومو، همداشان يو ډول شركتونه او يو ډول برات هم ليدلی شو، چې وروسته يې په اروپا كې په نوې بڼه ځان راڅرګند كړ.

## منځنۍ پېړۍ

په دې وخت كې ســوداګريزو اســنادو د پام وړ پراختيا او پرمختيا وكړه او د ننني سوداګريزو اســنادو د اهميت لامل شو. په دې زمانه كې د سوداګريزو محاكماتو اړوند اسناد، دريايي او بانكي اســناد ترســترګو كېدل او همداشــان د لومړي ځل لپاره د شركتونو برات او ډېوالي كېدو نوې بڼې مطرح شوې.

## نوې زمانه

پــه دې دوره كې چې ســوداګرۍ د اروپايانو په ژوندانه كې مهــم رول لوباوه، بهالرونكې پاڼو ( ســهام پاڼو او پور پاڼو ) د بلجيم، مســتردام، هاليند او فرانســې د تولوز ښــارونو كې د بورس په نامه چلند درلود. د دې دورې بله ځانګړنه دا وه، چې په ګڼو هېوادونو كې د ســوداګريزو اســنادو مقررات وضعه شول، همداشان په ۱۳۷۶ كال په فرانسه كې د كوليېر له خوا مقررات وضعه شول، چې وروسته د ۱۸۰۳ قوانينو په ډله او اصطلاحاتو كې شامل شول.

## اوسنۍ زمانه

اوســمهال د ســوداګرۍ په برخه كې په نړيوالــه كچه د پراختيا او پرمختيا شــاهدان يو، چې ځانګړي مقررات غوره كېږي او د هېوادونو په قوانينو كې شاملېږي. لكه څنګه چې د لومړي ځل لپاره په المان او انګليستان كې د ښه تامين په موخه د برات سند او د هغه د لېږد موارد مطرح شول.

په انګليســتان كې داسې قانون وضعه شو، چې د انګلوساكســون ټولو هېوادونو ومانه، اما تر ۱۹۱۰ كال وروســته د يادو هېوادونو په قوانينو كې د بدلونونو له امله له سره وكتل شــو، بلاخره د دې په لټه كې شول چې يو متحدالشكله قانون وضعه كړي. د ۱۹۳۰ كال د جون پر اوومه د برات او حجت په هكله درې قراردادونه په ژينوا كې وتړل شول، وروسته د چك په هكله درې قراردادونه لاسليك شول، بلاخره پر ۱۹۸۰ كال د برات او حجت كنوانسيون، چې د نړيوالې سوداګرۍ د حقونو د كمېسيون له خوا تنظيم شوی و، د ملګرو ملتونو په عمومي مجمع كې تصويب شو.

## د سوداګريزو اسنادو اوصاف او توپيرونه

سوداګريز اسناد هغه بهالرونكې پاڼې دي، چې د لاندې تبادلوي معاملاتو او اوصافو لرونكې وي.

ســوداګريز اســناد د معاملې وړ پاڼې دي، ياني د هر يوه د مالكيت انتقال په مازې ظهرليكنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره او حتا د ځينو هېوادونو د قوانينو له مخې يوازې د لاس په لاس تسـليم سره صورت مومي او د حقوقي شکلياتو تابع نه ګرځي.

د دې ډول شرطي او موکولو اسنادو د تاديې د موعد انقضا په يوه غيرمعينه زمانه کې نه شي کېداى، همداشان حامل يوازې د موعد د انقضا په ورځو کې حق لري، چې د تاديې په موخه سند وړاندې کړي.

قضات نه شي کولى مديون ته د تاديې د مهلت په هکله دا ډول اسناد ورکړي.

بـرات د پرداخت د موعد له غوښـتنې څخه مخکې، د قبولۍ په موخـه مخاطب ته وړاندې کېـدلى شي. د قبولـۍ په صورت کې مخاطب اصلي مديون ګڼل کېږي او د نکول په صورت هغه د صاردوونکې پر وړاندې حامل دى او ظهرليکونکي د دعوا د کولو حق د تاديې د موعد تر رسـېدو مخکې لرلاى شي.

کـه چېرې حامل، برات د ورکـړې يا پرداخت په موخه وړاندې کړي، خو د هغه مندرجه مبلغ ترلاسـه نه کړاى شي، ځينې شـکليات چې په قانون کې په الزامي ډول بيان شوي دي، رعايت کړي، له هغه پرته د سـوداګريزې محکمې پر وړاندې د خپلې دعوا د اقامې حق له لاسـه ورکوي، اما د هغه د دعوا د اقامې حق د غيرسوداګريزو محکمو پر وړاندې خوندي وي.

هغه اشخاص چې د برات، حجت او چك په وسيله د دين د ورکړې متکفل کېږي، په متضامن ډول د ورکـړې مسـوول دي، که له هغوى څخه يو هم د بـرات مندرجه مبلغ ورکړي، کولى شي د لاسليکوونکو او مخکېنيو ضمانت کوونکو پر وړاندې د دعوا اقامه وکړي.

هغـه حاملان چې قانوني شرايط يې پوره کـړي وي، نه شي کولى له هغې دعوا سره مواجه شي چې د لاسليکوونکو پر وړاندې اقامه شوې وي، مګر دا چې ياده دعوا له سند څخه منشاء اخيستې وي ( مثلاً جعلي سند).

د بـرات، حجـت او چك له حقوقي ادعا څخه د زمان مرور د خاصو احکامو په وسـيله تاًکل کېږي او د زمانو له نور مرور څخه لنډه وي.

## برات Draft

د افغانسـتان د سـوداګرۍ په اصولنامه کې برات تعريف شوى نه دى، خو د دې سند تعريف دا ډول دي: برات سـوداګريز سـند دى، چې د صادروونکي يا مبتکر له خوا پر مخاطب باندې د ترلاسه کوونکي په ګټه صادر شوى وي. په دې تعريف کې له مبتکر څخه موخه ( صادروونکى )، له مخاطب څخه ( هغه شخص چې د پيسو د ورکړې دستور ورکول کېږي) او له ترلاسه کوونکي څخه ( هغه شخص چې د برات حامل دى او پيسې ورته ورکول کېږي) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د برات حقوقي ماهیت

بـــرات معمـــولاً د توکو یا خدمت پر وړاندې صادرېږي او صادروونکي ته تســـلیمېږي. دا رابطه د برات د صدور لامل تشـــکیلوي، چې د اصل رابطې پـــه نامه یادېږي. د برات له صدور او د هغه د دوران له پیل وروســـته، هغه اشـــخاص لکه ظهرلیکونکي، ضامن او برات اخیســـتونکي په بېلابېلو عناوینو پر هغه لاســـلیك کوي، چې د هغو پر بنســـټ نوی تعهد رامنځ ته کېږي، چې براتي تعهد ورته وایي.

## په اقتصادي ژوندانه کې د برات رول

له اقتصادي پلوه برات د ورکړې او د باور د ترلاســـه کولو وســـیله ده. اوسمهال برات د ورکړې د وسیلې په توګه په کورنیو سوداګریزو اړیکو کې څرګند رول نه لري، ځکه په دې ډول اړیکو کې ورکړه په نقدي ډول یا د بانکي چك او یا حوالې په ډول ترسره کېږي او تر ډېره بریده د ډاډ وړ بلل کېږي. برعکس په نړیوالو اړیکو کې له برات څخه ګټه اخیستل معمول دي، ځکه هغه وسیله ده چې له یوه هېواده بل هېواد ته د پیســـو د نقد لېږد او همداشـــان د پیسو د تبادلې مخنیوی کوي او د خرڅوونکي یا پلورونکي لپاره تضمین دی.

## د برات له صدور وروسته انتقال

برات د لومړني درلودونکي په لاس کې قرار مومي. دا شخص کولی شي هغه له ځانه سره وساتي او یا د اړتیا له مخې د ظهرلیکنې له لارې یې بل شخص ته ورکړي.

## ظهر لیکنه

د برات د انتقال وســـیله ده، چې د لاســـلیك له لارې منتقل الیه ته تســـلیمېږي. د افغانستان د ســـوداګرۍ قانون په ۴۸۲ ماده کې راغي: ( ظهرلیکنه یا پخپله پر برات یا له برات سره په ملحقه پاڼه ظهرلیکنه لازمي ده او د ظهرلیکونکي له خوا باید لاسلیك شي. که په ظهرلیکنه کې د حامل نوم یاد شـــوی نه وي او یا ظهرلیکنه د برات په ظهر او یا په متصله پاڼه کې یې یوازې پر لاســـلیك اکتفا کړې وي، دا ظهرلیکنه سمه او معتبره ده ( سپینه ظهرلیکنه ).

## د برات ورکړه:

قبلوونکي شخص مسوولیت لري، چې د برات د موعد له رسېدو سره سم په برات کې مندرجه وجه ورکړي. د ځینو حقوقپوهانو په اند حتا په هغه صورت کې چې برات اخیستونکي شخص قبول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی نه وي او محل ( د تعهد قید ) هم ټاکل شوی نه وي، پر ورکړه مکلف دی. البته په دې صورت کې صادروونکي ته د مراجعې حق لرلی شي. په دې هکله د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې ۵۰۷ ماده څرګندوي: ( حامل اړ دی، په هغه ورځ چې برات ورکول کېږي او یا منتها تر دوو کاري ورځو وروسته مخاطب ته رجوع وکړي.)

پــه هغه صورت کې چــې درلودونکي د برات لومړنــۍ پانه ورکه کړې وي، هغــه ته ورکړه د وروســتۍ نسخې پر بنسټ ترسره کېږي، ځکه برات په متعددو نسخو کې چې یو له بل سره توپیر ونه لري، صادرېدلی شي.

## سوداګریز حجت (د دین فته یا سفته)

حجت له هغه ســند څخه عبارت دی، چې د هغه په وســیله لاسلیك کوونکی د دې پر ځای د وجه د ورکړې امر د موعد د پای ته رسېدو پر مهال دریېیم شخص ته ورکړي، پخپله د ورکړې متعهد کېږي یا په بله وینا ســوداګریز حجت هغه ســند دی، چې د هغه له امله لاسلیکوونکي ژمنه کوي، چې مبلغ به په ټاکلي یا عندالمطالبه موعد کې د حامل یا معین شخص په وجه کې یا د هغه حواله کوونکي شخص ته برابروي. په سوداګریز حجت کې برعکس دوه اشخاص مطرح دي:

۱- لاسلیکوونکی یا سند ورکوونکی.

۲- اخیستونکی یا سند ترلاسه کوونکی.

قانون د حجت لپاره ځانګړی شــکل نه دی ټاکلی، خو د هغه ارګان یې مشــخص کړی دی. د افغانستان د سوداګرۍ اصولنامې ۵۴۵ ماده د حجت شرایط په لاندې ډول بیانوي:

۱- د سند پر مخ د حجت د کلمې لیکل، په هره زمانه کې چې لیکل شوې وي

۲- د مبلغ شرط او بلاقصده ورکړه.

۳- د ورکړې موعد

۴- د ورکړې ځای

۵- د هغه شخص نوم چې د مبلغ ورکړه د هغه په وجه یا امر کېږي.

۶- د حجت د لیکنې نېټه او ځای

۷- د حجت د صادروونکي لاسلیك.

د افغانســتان د ســوداګرۍ اصولنامې ۵۴۵ ماده څرګندوي هغه سند چې یو له پورتنیو مواردو څخه ونه لري ( د لاندې مواردو په استثنا ) حجت نه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هغه حجت چې د ورکړې موعد يې ليکل شوی نه وي، د غوښتنې پر مهال يانې عندالمطالبه د ورکړې وړ دی.

– کــه پــه يوه حجت کې د ورکړې ځای ليکل شــوی نه وي، د هغه د صــدور ځای د هغه د ورکړې ځای او په عين وخت کې د صادروونکي اقامت ګڼل کېږي.

– که د حجت په متن کې د صدور ځای نه وي ليکل شوی، د صدور محل همدا محل بلل کېږي چې د لاسليکوونکي د نامه ترڅنګ ليکل شوی وي.

د برات او حجت ترمنځ ځينې مقررات مشــترك دي چې له ۴۸۰ تر ۵۳۹ مادو پورې بيان شــوي دي، چې دوه اصلي ارکان يا عناصر لري او په لاندې ډول دي:

۱- لاسليکوونکی، يا متعهد يا مديون،

۲- اخيستونکی، چې ممکن معين شخص وي او يا دا چې حامل وي.

حجت د عمومي قراردادونو او تعهدونو د بنســټيزو شرايطو تابع دی او دا چې له سوداګريزو اســنادو څخه ګڼل کېږي، د هغه په اړه په ســوداګريزو اســنادو پورې اړوند احکام او قواعد لکه، ظهرليکنــه، ضمانــت، د ورکړې موعد، د نه ورکړې په صورت کې د رجوع حق، باالواســطه ورکړه، جعل او تحريف، د وخت تېرېدل او د رســمي ورځو صورت حســاب، پر برات باندې د تطبيق وړ احکام د اعتبار وړ دي.

## د برات او حجت پرتلنه

برات او حجت دواړه سوداګريز سندونه دي، چې عمده توپيرونه يې لاندې دي:

**الــف:** په بــرات کې معمولاً درې تنه ګډون لري، يانې برات کــش، د برات درلودونکی او برات اخيســتونکی. د دې اشخاصو له شتون پرته برات منځ ته نه شي راتلی. په حجت کې دوه تنه ګډون لري يو يې تعهد کوي چې په سند کې مقرره وجه نورو ( متعهد له ) ته ورکړي.

**ب:** په حجت کې د قبولۍ موضوع شتون نه لري، ځکه حواله د بل کس پر غاړه نه ده.

**ج:** په برات کې د محال يا محال له اســم قيد الزامي دی، حال دا چې په حجت کې دا ډول الزام نه شته، له دې امله حجت په حامل وجه کې د اسنادو جز ګڼل کېږي.

**د:** د برات معاملات د ســوداګريزو معاملاتو جز دي، هغه که د ســوداګر يا غيرســوداګر ترمنځ صــورت ومومــي، امــا حجت که څه هــم د ضمانت او اصولو لــه پلوه د برات غونــدې دی، ذاتاً سوداګريز عمل نه دی او عموماً د عادي وګړو ترمنځ صورت مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## برات او حجت او بهرني قوانين

ممکــن برات او حجت په داســې هېوادونو کې تبادلــه شي، چې قوانين يې له يو بل سره توپير ولري، له دې امله د افغانســتان د ســوداګرۍ اصولنامه لکه د نورو هېوادونو د قوانينو غونډې د قوانينو په رابطه يا تعرض مقررات پيشــبيني کړي او په ۵۴۲ ماده کې يادونه شــوې ۀ( د برات په تعهداتو کې د اشخاصو اهليت د متبوع دولت د قوانينو له مخې تعهدکوونکي اشخاص تثبيتېږي. )

د افغانســتان د ســوداګرۍ د اصولنامې په ۵۴۳ ماده کې له صدور څخه وروســته د تعهد په هکلــه راغــي: ( د برات په معامله کې د هر ډول تعهدونو اجراکــول د هغه هېواد د قوانينو تابع دي، چې تعهد هلته رامنځ ته شوی وي.)

## چک

چك د برات او حجت غونډې تاريخي ســابقه نه لري، ظاهراً د بانکونو له پيدايښــت سره منځ ته راغلی. له سوداګريزه پلوه چك له معتبرو اسنادو څخه ګڼل کېږي او د وجه د ورکړې د موندلو لپاره د نقدو پيســو پر ځای کارول کېږي. خلك له چك څخه د توکو، مالونو او اجناســو د پېرودنې په معاملاتو کې کار اخلي او د نقدو پيسو په عوض يې بيې د چك په وسيله ورکوي. د يادونې ده چې چك له سوداګرو پرته عام خلك هم کاروي.

## د چك تعريف

د نــړۍ د ډېــری هېوادونو قوانينو او د افغانســتان، فرانســې، المان، ايټاليا، ســويس او نورو هېوادونــو د ســوداګرۍ اصولنامو د چك لپــاره تعريف نه دی وړاندې کړی، يــوازې د هغه اړين شرايط يې وړاندې کړي دي، خو د ايران د ســوداګرۍ اصولنامې په ۳۱۰ ماده کې يې چك داســې تعريف کړی دی:

چــك هغه ليکنه ده، چې له امله يې صادروونکی هغه وجوه چې د محال عليه سره وي ټول يا ځينې مسترد او يا بل ته ورکوي.

## د برات او چك ترمنځ توپيرونه دادي

الف: برات اصلاً د قرض وســيله ده، خو چك د وجه د اســترداد يا ورکړې وســيله ده، يانې چك عندالمطالبه حواله ده، خو برات حداکثر مهلتي حواله ده.

ب: هــر شــخص ( حکمي او حقيقي ) د برات مخاطب کېــدای شي، خو حتمي ده چې د چك مخاطب يو بانك وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: بــرات تر ذخيرې مخکې مخاطب ته ايســتل کېدای شي، خو د چك صدور د افغانســتان د سوداگرۍ اصولنامې د ۵۵۱ مادې له مخې او همداشان د نړۍ د يو شمېر هېوادونو د سوداگرۍ د اصولنامو له مخې په داسې حال کې صادرېدلی شي، چې صادروونکی د مخاطب پر وړاندې دارايي ولري.

د: د بــرات پــه ځينو ډولونو کې د پولي ټکټ شرط صريحاً درج کېدلی شي، خو د افغانســتان د ســوداگرۍ اصولنامې د ۵۵۲ مادې او د نړۍ د يو شــمېر هېوادونو د سوداگرۍ د قوانينو له مخې، که چېرې چك د پولي ټکټ په شرط صادر شوی وي، دا ډول شرط معتبر نه دی.

هـ: په برات کې پرته له دې چې صاردوونکی قبولي منع کړي، حامل حق لري په هره لحظه کې چــې وغواړي مخاطب وغواړي، خو د نړيوالو مقرراتو له مخې چك قبولي نه ايجابوي، ځکه ســند رويتي دی او عندلرويت د ورکړې وړ دی.

## د چک لېږد

چــك د برات او حجت غوندې د لېــږد وړ دی او د ظهر ليکنې له لارې يې لېږد ممکن دی. د افغانستان د سوداگرۍ د اصولنامې د ۵۵۹ مادې له مخې هر چك حامل ته د محرر چك په استثنا، د ظهرليکنې وړ دی، مگر دا چې صادروونکي په چك کې دا جمله ( د لېږد وړ نه دی ) ليکلې وي.

## د اووم څپرکي پوښتنې

۱ – سوداگريز اسناد څه ته وايي، د سوداگرۍ په برخه کې يې پر اهميت رڼا واچوئ؟

۲ – حجت يا سفته څه ته وايي او له برات سره يې توپير په څه کې دی؟

۳ – برات څه ډول سوداگريز سند دی او له چك سره څه توپير لري؟

۴ – ظهرليکنه کوم مفهوم لېږدوي؟

۵ – ايا برات، حجت او چك د ظهرليکنې په وسيله د لېږد وړ دي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

## دېوالي کېدل (افلاس)

**ټوليزه موخه:**

د دېوالي کېدو پېژندنه، له افلاس سره يې توپير او د دېوالي کېدو ډولونه.

**د زده کړې موخې:** محصلين به د دې څپرکي تر لوستلو وروسته لاندې څيزونه زده کړي:

- دېوالي کېدل به زده کړي.
- د دېوالي کېدو او افلاس ترمنځ توپيرونه به زده کړي.
- د دېوالي کېدو ډولونه به وپېژني.

کلــه چــې د دېوالي کېدو يا افلاس لــه اصطلاح سره مخ کېږو، زموږ په ذهن کې د ســوداګر يا سوداګريزو شرکتونو ناوړه او ناسم حالات خطور کوي، چې په ناوړه اقتصادي او حقوقي حالت کې قرار لري. البته د ســوداګر ناوړه اقتصادي حالت په دې مانا دی، چې د ســوداګر مالونه او شتمني له لاســه وتلې ده او د ســوداګريز فعاليت پر مخ بېول ورته ستونزمن شوي دي، خو ناوړه حقوقي وضعيت په دې مانا دی، چې ســوداګر يا ســوداګريز شرکت د حقوقي شــخصيت په توګه له ثالثو اشــخاصو يا وګړو سره معاملې ترسره کړي او يو لړ تعهدات او وجايب ئې پر غاړه اخيســتي، چې د دېوالي کېدو په صورت کې نشي کولی خپل تعيدات ايفا کړي.

چې په پايله کې يو شمېر نور کسان زيانمنېږي، چې دېوالي شوی سوداګر يا سوداګريز شرکت د داينينو او ثالثو اشخاصو پر وړاندې مسووليت لري. د دې لپاره هغه دين چې پر دېوالي شوي کس باندې دی ادا شي، موضوع عدلي او قضايي ارګانونو ته سپارل کېږي، ترڅو د وګړو د حقونو احقاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عدلي او قضايي ارگانونو په وسیله صورت ومومي. نو په دې توگه د دې ډول مسایلو په هکله د حقوقي مقرراتو او قواعدو شتون اړین گڼل کېږي او دا ډول قواعد او مقررات د ( دیوالي کېدو او افلاس د قواعدو ) په نامه یادېږي.

## د دېوالي کېدو ټولیز مفاهیم

په پخوا زمانو کې څوك چې د خپلو بدیهیو پر ورکړه قادر نه وو، هغه به مفلس بلل کېده او په دې زمینه کې حاکم مقررات به یې د افلاس د قواعدو په نامه یادول. هر وگړی که به هغه سوداگر و او کــه عــادي وگړی، چې خپل پورونه به یې ادا کولی نه شــوای د دې حکمونو تابع گڼل کېده. کله چې اقتصادي اړیکو پراختیا ومونده او سوداگریزو فعالیتونو له جغرافیایي محدودیې څخه سر وایســت، قانون پوهان دې چارې ته متوجه شــول چې د ســوداگرۍ کسب د هغه خصوصیت پر بنسټ چې لري یې، د ځانگړو مقرراتو وضع کولو ته اړتیا لري. پر دې بنسټ د خصوصي حقوقو په ساحه کې نوې څانگه رامنځ ته شوه، چې د سوداگرۍ د حقوقو په نامه ونومول شوه.

وروسته له دې چې د سوداگرۍ حقوقو له مدني حقوقو څخه خپله خپلواکي ترلاسه کړه، طبیعتاً مدني حقوقو پر ځای نوي مفاهیم ځای پر ځای شول، چې یو یې هم دیوالي کېدل (Bankruptcy) دی، چــې لــه افلاس سره مترادف گڼل کېږي. د یادونې وړ خبره ده، چې د دیوالي کېدو اصطلاح یو نوی مفهوم دی، چې په سوداگریزو معاملاتو کې یې د افلاس ځای نیولی دی. زموږ په هېواد کې دا مفهوم په بشپړه توگه له یو بل نه مجزا نه دی او دواړه اصطلاحگانې بعضاً یوه مانا افاده کوي او په یوه مانا کارول کېږي، حال دا چې په یو شــمېر نورو هېوادونو کې دا دواړه اصطلاح گانې ځان ځان ته د کارولو موارد لري. دلته تر ډېره بریده هڅه شوې چې دا دوې اصطلاح گانې سره تفکیك شي. دا دواړه ځینې وختونه یو د بل مترادف کارول شوي، چې د هېواد له حقوقي دریځ او په دې برخه کې له نافذو شویو قوانینو سرچینه اخلي.

## د افلاس یا دېوالي کېدو تعریف

افــلاس د فلــس له فصل څخه د ف او ل په فتحــه سره د مفلس صفت دی. مفلس هغه څوك دی، چې د هغه د افلاس حکم د واکمنې محکمې له خوا صادر شوی وي. د افلاس د حکم د صدور شرط دا دی، چې د پام وړ شــخصي دیونان ( پوروړوي ) د محکمو په نزد ثابت شــوي وي او اموال او مطالبــات یــې د هغه له دیون څخه لږ وي او لږترلږه یو تن له داینینو څخه له محاکمو څخه د هغه د حجر غوښتنه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دیــوالي کېدو او افلاس د اوصولنامې په لومړۍ مــاده کې د دیوالي کېدو او افلاس د تعریف په هکله راغلي دي: ( کله چې یو تاجر یا سوداګریز شرکت تر دې بریده بند یا یې په کار کې ځنډ راشي، چــې د پورونو او یا نورو نقــدي تعهداتو له ورکړې عاجز شي د دې ډول حالاتو په پایله کې دیوالي کېدل رامنځ ته کېږي.)

## پر دې بنسټ دېوالي کېدل تاجري حالت دی چې:

**لومړی**: د خپلو پورونو له ورکړې متوقف شي، یانې ونه شي کولی خپل سوداګریز تعهدات چې د ورکړې موعد یې پوره شــوی وي، عملي کړي. ممکن سوداګر مال او شتمني ولري، چې د پورونو د ورکړې لپاره کافي وي، خو په داسې وضعیت کې وي، چې فعلا خپل پورونه ادا نه شي کړای. مثلاً د هغه املاك د بل په ګرو کې وي، چې د مرتهن له غوښــتنې ډېر ارزښــت ولري او امکان ونه لري چې دا مالونه د نورو پوروړو پورونه ادا کړي.

**دویم**: یاد توقف د واکمنې محکمې له خوا اعلان شــوی وي، کله چې واکمنې محکمې د یوه سوداګر  د دیوالي کېدو حکم صادر کړی نه وي، د علاقې وړ اشخاص نه شي کولی د دیوالي سوداګر د سوداګریزو معاملاتو د ترسره کولو خنډ وګرځي، خو هغوی کولی شي له محکمې څخه د سوداګر یا ســوداګریز شرکت د دیوالي کېدو د حکم غوښتنه وکړي. د دې لپاره چې د دیوالي کېدو او افلاس تر منځ مو توپیر پېژندلی وي، نو لازمه ده چې را ویې سپړو.

د سوداګر په دیوالي کېدو کې دولتي چارواکي د پوروړو له پلاوي سره دخالت کوي او د شخص ټول اموال د پوروړو ترمنځ وېشي، خو د افلاس په هکله یوازې مدیون کولی شي د داین پر وړاندې دعوا وکړي.د ټولو داینینو په نســبت د دیوالي شــوي شــخص د دیوالي کېدو حکم موثر دی، خو د افلاس په دعوا کې یې پایلې نسبت هغه کس ته چې په دعوا کې دخالت لري، اثر لري.

**دریېــم:** دېــوالي کېدو کې ټول موجل دیون په معجل بدلېږي، حال دا چې په افلاس کې موجل په معجل نه بدلېږي.

**څلورم:** دیوالي خپل اعتبار له لاســه ورکوي او اعــاده یې هغو شرایطو ته اړتیا لري، چې قانون ټاکلي دي، حتا بعضاً دیوالي شــوی شــخص ممکن له ځینو ټولنیزو او اقتصادي حقونو څخه هم بې برخې شي، خو د مفلس شخص په هکله تل داسې نه وي.

**پنځم:** په دیوالي کېدو کې دیوالي شــوی شــخص په خپله شــتمنۍ او مال کې له تصرف څخه محرومېږي، حال دا چې په افلاس کې دا محدودیت نشته.

**شپږم:** تر دیوالي کېدو وروسته د تصفیې مقررات اجرا کېږي، خو په افلاس کې دا ډول مقررات نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم:** ديوالي کېدل او قواعد يې خاص سوداګر شخصيتونه دي، او په افلاس کې يې مقررات په غيرسوداګرو اشخاصو پورې اړه لري.

**اتــم:** ديوالي کېــدل ممکن په بېلابېلو ډولونو ( عادلي، تقصير، تقلب ) باندې وي، خو په افلاس کې دا ډول تفکيك او تشخيص شتون نه لري.

## ديوالي کېدل او حقوقي ماهيت

ديوالي کېدل په تاجر پورې تړلي، چې د هغه د پورونو په ورکړه کې ځنډ راغلی وي. د محکمې رول، د داينينــو وضعيت او د ديوالي کېدو مســئله پــه دې ډول ده، چې د ديوالي کېدو موضوع د خصوصي حقوقو د نورو ځانګو څخه بېله مشخصوي، په داسې ډول چې ځان ته حقوقي ماهيت ولري، چې په لاندې ډول به اشاره ورته وشي.

## الف- د محکمې رول:

په دې اړه چې محکمه د ديوالي کېدو په وضعيت کې څه رول لري، بايد ووايو چې يو سوداګر يا ســوداګريز شرکت تر هغه وخته له حقوقي پلــوه د ديوالي کېدو په وضعيت کې قرار نه مومي، چــې محکمــې دخالت نه وي کړی او د ديــوالي کېدو حکم يې نه وي صادر کــړی. که څه هم د ديوالي کېدو د حکم په صادرولو او د ناظر غړي په ټاکلو سره د محکمې د تصفيې مدير ظاهراً له رســيدګۍ څخه فارغېږي، ولې د محکې عاليه نظارت د ديوالي کېدو د امر په نســبت د شکايت د مرجــع په توګه د ديوالي کېدو د دورې تر پايه باقي پاتېږي. د محکمې دخالت حتا بعضاً د ديوالي کېدو د چارې تر پای ته رســېدو وروســته هم غځېږي او د اعتبار د اعادې د تقاضا لپاره د حکم د صادرېدو تر مهاله باقي پاتېږي.

د محکمې رول د داينينو د حقونو د ســاتلو لپاره اصولاً پيشــبيني شــوی او د ديوالي شــوي په مجازات کې په تقصير او تقلب سره ډېره محسوســېږي. د ديوالي کېدو له لارې د دولت نظارت د نظارت کوونکي د اهرام په څېر دی چې په دوامداره توګه د ديوالي کېدو د دعواوو د حل او فصل کولو په برخه کې بنسټيز رول لري.

## د داينينو وضعيت

داينــين د ديــوالي کېدو په چاره کې خاص حقوقي وضعيت لري، ځکه د محکمې تر دخالت او نظارت وروســته همدا داينين دي چې ديوالي شــخص ته د ارفاقي قرارداد د موافقې په ترڅ کې د فعاليت اجازه ورکوي، برعکس د ارفاقي قرارداد په وړانديز سره دا مجال له هغه څخه سلب کولی هم شي او په پايله کې د هغه اموال د داينينو ترمنځ د هر داين د حقوقو په نسبت وېشل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معهذا په دې زمینه کې داینینو اختیار مطلق نه دی، په داسې ډول که دیوالي شوی سوداګر د دیوالي کېدو له اړخه په تقلب مفهوم پیدا کړي، د هغه د کار په ادامه سره د داینینو موافقت موثر نه دی او د داینینو د تمایل سره سره یې مالونه وېشل کېږي. په دې ترتیب د قانون جوړوونکي په واسطه اټکل شوی مصلحت د داینینو تر تمایل مقدم دي.

په غیرسوداګریزو دعواوو کې معمولاً هغه څوك چې د مدعي په توګه دعوا پیلوي، د ضروري شرایطو د شتون په صورت کې په یوازې سر کولی شي د دعوا له نتیجې څخه د ځان په ګټه کار واخلي، اما د دیوالي کېدو په دعوا کې که څه هم د قانون له مخې یو له داینینو څخه کولی شي د مدعي په توګه د دیوالي کېدو د حکم د صدور غوښتنه کوکړي خو د حکم تر صدور وروسته متقاضي داینین له دې اړخه د نورو پر وړاندې کوم امتیاز نه تر ګوتو کوي او صادر شوی حکم د دیوالي شوي سوداګر ټولو داینینو ته رسېږي.

## د دېوالي په هکله

د حقوقو د نورو څانګو خلاف، دیوالي شوی سوداګر د دیوالي کېدو د حکم تر صادرېدو وروسته په مالي چارو کې له دخالت نه منع کېږي. هغه معاملې چې دیوالي شوي سوداګر د خپلو دیونو د ورکړې له نېټې مخکې یا وروسته ترسره کړي، ځینې یې د فسخې وړ او ځینې یې د بطلان وړ ګرځي. دا هغه خصوصیت دی چې د دیوالي معاملې لپاره په پام کې نیول شوی دی.

## د دېوالي کېدو شرایط

د دې لپاره چې د دیوالي کېدو احکام مو د سوداګر یا سوداګریز شرکت په اړوند تطبیق کړي وي، د یو لړ شرایطو شتون اړین دی. له هغو پرته لکه څنګه مو چې وویل د دیوالي کېدو احکام نسبت افلاس ته توپیر لري، نو ځکه نه شو کولی د سوداګر او یا سوداګریز شرکت د دیونو نه ورکړې ته دیوالي کېدل ووایو، ځکه د دیوالي کېدو اطلاق د اشخاصو په یوه مشخص صنف پورې مختص دی، چې نه شي کولی خپل دیون پر موقع سره ورکړي، سره له دې چې سوداګر یو مقدار پانګه او شتمني په واك کې ولري، چې دا پانګه د هغه له دیونو څخه لږه وي او دا چې بالفعل د هغه په واك کې نه وي. د موضوع د روښانیا لپاره لازمه ده دا شرایط د دیوالي کېدو د تعریف مطابق او د دیوالي کېدو او افلاس د اصولنامې سره سم چې مخکې مو یادونه وکړه، داسې را لنډ کړو.

۱ - د دې لپاره چې دیوالي کېدل تحقق ومومي، لازمه ده چې دیوالي شوی شخص سوداګر یا سوداګریز شرکت وي.

۲ - د سوداګریز اهلیت د شرط پوره کیدل، چې دا اهلیت د افغانستان د سوداګرۍ د اصولنامې له مخې د ۱۸ کلنۍ سن پوره کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ - دېوالي کېدل دسوداګريزو کړونو اومعاملو سره تړل دي.

۴ - د سـوداګر ديون په سـوداګريزو معاملاتو پورې تړلي وي، ياني د يوه سوداګر يا سوداګريز شرکت غېرسوداګريز ديون د ديوالي کېدو په احکامو پورې مستلزم نه دي.

۵ - پـر وخـت او موقع د دين يا ديون نه ورکړه د هغـه د ورکړې د ناتوانۍ له امله وي او له هغه پرته صرف نه ورکړه لکه نکول له برات څخه په ديوالي کېدو پورې مستلزم نه وي.

۶ - شتمنۍ ته نه لاسرسی لازم نه دی، د سوداګر شتمني د هغه تر ديون کمه وي، بلکې که ونه شي کولی خپل ديون ورکړي ديوالي دی، څکه ممکنه ده تاجر خپلې شـتمنۍ ته لاسرسی ونه لري يا کافي نقديه يا د خرڅلاو توکي ونه لري او ونه شي کولی خپل دين ادا کړي او يا په بله وينا د ديوالي کېدو په چاره کې توان او اسـتطاعت ونه لري، بلکې د هغه ملاك د ديون په ورکړه کې وقفه ده، که څه هم د تاجر له شتمنۍ کم نه وي.

لکه څنګه چې وليدل شـول کله چې پورتني شرايط  د يوه شـخص په هکله شـتون ولري او ياد شـخص د ديـون په ورکړه قادر او د محکمـې مخارج نه شي، د ديوالي کېـدو احکام ورباندې تطبيقېږي. د پورتينو شرايطو د نه شتون په صورت کې هغه شخص چې د ديونو د ورکړې توان ونه لري د افلاس احکام چې په مدني قانون کې راغليورباندې تطبيقېږي.

## د دېوالي کېدو حکم او آثار

د ديـوالي کېدو حکم: سـوداګريزې محکمې د ديوالي کېدو د اعلام تر وصول وروسـته تاجر يا سـوداګريز شرکت ته د موضوع د رسـېدنې لپاره وخت ټاکل کېـږي او محکمه د ديوالي شرکت يا سـوداګر په حضور يا غياب کې او د متقاضي شـخص په حضور کې موضوع ته رسـېدنه کوي او د ديون د ورکړې په برخه کې د توقف تر احراز وروسـته د تاجر د دېوالي کېدو حکم صادروي. ياد حکم د لاندې ټکو درلودونکی وي:

۱- د موضوع د جريان شرح او مقدمه.

۲- د محکمې له نظره په احزار سره د توقف اړوند دلايل

۳- د توقف نېټه د ورځې، مياشتې او کال په قيد سره.

۴- د تصفيې د مدير او ناظر غړي ټاکل.

۵- د مالونو او شـتمنۍ د مهر او موم امر، د شـتمنۍ  توقف او د غوښـتنې په صورت کې د تاجر توقيف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دېوالي کېدو اثرات

دیوالي کېدل لاندې اثرات لري:

الف- د داینینو ترمنځ د دیوالي شــویو مالونو وېشــل: د دیوالي کېدو د حکم تر اعلام وروسته، دیوالي شوي مالونه د تصفیه کوونکي پلاوي له خوا اداره او وروسته د داینینو ترمنځ د دین د تناسب پر بنسټ وېشل کېږي.

ب- د داینینو د غونډې جوړېدل: د داینینو لومړنۍ غونډه باید د افغانستان د دیوالي کېدو او افلاس د اصولنامې د ۴۲ مادې له مخې د دیوالي کېدو د حکم تر اعلان لږ ترلږه یوه اونۍ او حداکثر ۳۰ ورځې وروسته جوړه شي.

ج- د دیوالي شــوي په نسـبت د حکم اثرات: د دیوالي کېدو او افلاس د اصولنامې د ۱۶ مادې مطابق د ســوداګرۍ د کســب خلاف اعمالو ارتکاب، ناوړه اغېزې لکه د دیوالي شوي نیول، زنداني کول له ځانه سره درلودلی شي.

د دېوالي کېدو ډولونه: دیوالي کېدل ممکن له لاندې دریو ډولونو څخه وي:

۱- عادي دیوالي کېدل،

۲- په تقصیر سره دیوالي کېدل،

۳- په تقلب سره ډیولي کېدل.

## عادي دېوالي کېدل

عــادي دېوالي کېدل هغه دي، چې ســوداګر د بهرنیو عواملو او یا غیرمترقبه پېښــو له امله له تقصیر او تقلب پرته متوقف شي، په دې مانا چې یو ســوداګر خپلې ورځنۍ معاملې په ښــه توګه ترسره کړي او لګښــتونه یې هم د ســوداګریز عاید سره ســم وي، خو د ځینو غیرمترقبه پېښو یانې بهرنیو عواملو له امله دیوالي شي او دا عوامل د افغانســتان د دیوالي کېدو او افلاس د اصولنامې د ۱۳۹ مادې له مخې په اثبات رسېدلی شي. په دې ډول حالاتو کې د سوداګر دیوالي کېدل عادي دي او مجازات ورباندې د تطبیق وړ نه دي. سربېره پر دې د ارفاقي قرارداد د تړون تمه هم لري او دا داسې سوداګر په نسبت داینین د عمل له شدت څخه کار نه اخلي.

**۱- پــه تقصیــر سره دیوالي کېدل:** تقصیر هغه عمل ته وایي، چې شــخص یــې په تر سره کولو مکلف وي، خو له خپل توان سره سره هغه ترسره نه کړي. تقصیر د بې احتیاطۍ او غفلت په مانا هم دی. تقصیر یا خطا له حقوقي پلوه په عمل کې د ســوء نیت نشــتوالي ته وایي، چې له امله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثالث اشخاص زيانمنېږي. په جزايي قوانينو کې داسې موارد شته چې له عملي مجرمانه قصد او نيت پرته سر راپورته کوي، چې د جزا استحقاق لري.

دا ډول جرايم غير عمدي وي. د ســوداګرۍ په حقوقو کې دا ډول ديوالي کېدل د عادي افلاس برعکس، د ســوداګر اراده په خپل ديوالي کېدو کې په غيرمســتقيم ډول دخيله ده او د سوداګريزو اصولو د نه مراعاتولو او د نه پاملرنې له امله رامنځ ته شوي. مثلاً هغه سوداګر چې ورځني عوايد يې لږ اما برعکس ورځني لګښــتونه يې دوه چنده وي، په دې صورت کې که چېرې ياد ســوداګر له ديوالي کېدو سره مخ شي، ديوالي کېدل يې په تقصير سره دي، سر بېره د خپلو پورونو په ورکړه، پــه بله جزا هــم محکومېږي. د ديوالي کېدو او افلاس د اصولنامــې د ۴۰ مادې له مخې دې پايلې ته رســېږو چې په ديوالي کېدو کې څنګه چې ســوداګر يا شرکت سوداګريز اصول او ظوابط رعايت کړي نه دي او د ســوداګريزو معاملاتو په برخه يې ســهل انګاري کړې وي، نو سوداګر مقصر ګڼل کېږي او په هغه صورت کې چې تقصير مطرح شي، ورسره د موضوع جزايي اړخ هم مطرح کېږي.

۲- **پــه تقلــب سره ديوالي کېدل:** عملي تقلب دی، چې د فاعل مقصود د نورو حقونو يا ګټو ته زيان رسول يا د قانون نقض دی. تقلب يو جرم دی چې په ناوړه نيت باندې اړه لري. د سوداګرۍ په حقوقو کې په دې صورت کې ســوداګر واقعاً مفلس شــوی نه وي. د دې لپاره چې نور سوداګر چې خپل داينينو ته صدمه ورسوي، ځان مفلس ښيي. د اسنادو د جعل له لارې په خپلو سوداګريزو دفترونو کې هڅه کوي، خپله خبره ټينګه کړي. خو کله چې موضوع د محکمې له خوا وڅېړل شي، ليدل کېږي چې ياد سوداګر واقعاً ديوالي شوی نه دی، بلکې له چل او فرېب څخه يې کار اخيستی دی او غواړي له دې لارې د خپلو پورونو ورکړه وځنډوي. وروســته له دې چې ثابته شي، چې ياد ســوداګر په دې حالت کې ديوالي شــوی نه دی، محکمه په تقلــب سره د ديوالي کېدو خپل حکم صادروي، سوداګر د خسارې پر جبران سربېره د محکمې له خوا پر نورو جرايمو هم محکومېږي.

لکه څنګه چې وويل شــول، د ســوداګريزې اصولنامې له مخې هېڅکله ديوالي شــوی نه دی، بلکې ځان ديوالي ښيي، چې موخه يې هغه زيان او ضرر دی، چې نور يې بايد وګالي. که دا موضوع څرګنده شي چې سوداګر په تقلب سره عمل کړی دی، د زيان پر جبران سربېره د مجازاتو مستوجب هم ګڼل کېږي.

## د ديوالي شوي سوداګر د اعتبار اعاده

د ســوداګرۍ له عمده او بنســټيزو اصولو څخه يو هم اعتبار او اعتماد دی، اما د ســوداګر دا اعتبار او اعتماد د هغه د ديوالي کېدو له امله له منځه ځي. تر ديوالي کېدو وروســته، ســوداګر يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګريز شرکت او ثالث اشخاص نه شي کولی د هغه پر وړاندې باور وکړي او له هغه سره معاملې ته مخه کړي. په دې کې شك نشته چې ديوالي کېدل د سوداګر اعتماد له منځه وړي، په ځانګړې توګه دا امر په ديوالي کېدو کې د سوداګر د اعتماد د له منځه وړلو لامل کېږي، په ځانګړې توګه دا امر په ديوالي کېدو کې د ډېر تقلب په تقصير سره صدق کوي، د دې لپاره چې د ديوالي شوي اعتبار بېرته اعاده شي، د يو لړ شرايطو شتون اړين دی، چې په لاندې ډول اشاره ورته کېږي:

۱ – دېوالي شوی بايد خپل ټول پورونه (ديون) له مخارجي متفرقاتو سره چې له هغه سره اړه لري، ورکړي.

۲ – دېوالي شوی سوداګر په لاندې مواردو کې د عمل د صحت تر ثبات وروسته، د پنځو کلونو پــه موده کــې د ديوالي کېدو او افلاس د اصولنامې له مخې، د ديـــوالي کېدو له نېټې څخه کولی د اعتبار اعاده وکړي.

۳ – دېوالي شوي سوداګر چې د ارفاقي قرارداد تحصيل او ټولو وجوه چې د ارفاقي قرارداد په سبب يې پر غاړه اخيستي وي، ورکړي وي.

۴ – هغه دېوالي شـــوی ســـوداګر چې ټولو داينينو يې ذمه وهلې وي او يا د اعتبار په اعادې او رضايت ورکړي وي، له همدي امله اعاده په پنځو کلونو کې د عمل د صحت په اثبات پورې تړلې ده، اعاده د ديوالي شـــوي اعتبار او حيثيت په منوط تقلب سره د حيثيت په اعادې سره له جزايي پلوه ده.

د ديوالي کېدو د حکم د صدور لپاره واکمنه مرجع، د ســـوداګر د اوســـېدو د ځای محکمه ده، البته د ســـيمه ييز ســـوداګر د اوسېدو ځای دی، چې د ســـوداګر کړنې او حقوق هلته قرار لري. د منل شويو اصولو له مخې لاندې اشخاص کولی شي د ديوالي کېدو د حکم د صدور غوښتنه وکړي:

۱ – پخپله سوداګر يا سوداګريز شرکت.

۲ – داينين

۳ – ثالث اشخاص (څارنوال، محکمه او پوليس)

۱ – د ســـوداګر يا ســـوداګريز شرکت د اظهار له امله د ديوالي کېدو د حکم صادرېدل: سوداګر تر بل هر چا له اقتصادي ناوړه وضعې څخه ډېر خبر لري، له دې امله قانون هيله لري، چې پخپله هغه شخصاً محکمې ته خپل توقف اعلان کړي.

۲ – د يوه يا څو تنو داينينو په غوښتنه د ديوالي کېدو د حکم صادرېدل: لکه مخکې چې وويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــول، ځني وخت ســوداګر دې ته حاضر نه وي، څکه خپل ديوالي کېدل پټوي. په دې صورت کې داينين کولی شي چې د خپلو مطالباتو په ورکړه کې د ځنډ له امله، له محکمې څخه د ســوداګر د ديوالي کېدو غوښتنه وکړي.

۳ – د محکمــې، مدعــي العموم يا څارنوالۍ د غوښــتنې پر بنســټ د ديــوالي کېدو د حکم صادرېدل: د افلاس او ديوالي کېدو د اصولنامې د ۴ مادې له مخې يوازې ديوالي شــوی ســوداګر او داينــين کولی شي له محکمې څخه دا ډول غوښــتنه وکړي. د دې اختيــار دليل کولی شي د موضوع اقتصادي اهميت، د داينينو د حقونو ســاتنه او بلاخره عامه نظم پلي کېدل وي. له اقتصادي پلوه ديوالي کېدل کله کله پر بانکونو او نورو واحدونو باندې هم منفي اغېزې پرېباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اتم څپرکي لنډیز

د افلاس او دېوالي کېدو د اصولنامې لومړۍ ماده د دېوالي کېدو د تعریف په هکله وايي: کله چې د یوه سوداګر یا یوه سوداګریز شرکت کاري بندښت او ځنډ تر دې حده ورسېږي، چې د خپلو پورونــو او نورو نقدي تعهداتــو له ورکړې عاجز شي، د دې ډول حالت پــه څرګندېدو سره دیوالي کېدل رامنځ ته کېږي.

پر دې بنسټ دېوالي کېدل یو سوداګریز حالت دی، چې:

**لومړی،** د خپلو دیونو له ورکړې متوقف شي، یانې ونه شي کولی خپل سوداګریز تعهدات د هغو د ورکړې پر مهال پوره او عملي کړي.

**دویم،** یاد توقف د واکمنې محکمې له خوا اعلان شوی وي.

د دېوالي کېدو د تعریف په پام کې نیولو سره کولی شو د دیوالي کېدو شرایط داسې را لنډ کړو:

۱- د دېوالي کېدو د تحقق لپاره اړینه ده، دیوالي شــوی شــخص یا سوداګر او یا هم سوداګریز شرکت وي.

۲- د سوداګریز اهلیت لرلو شرط د ۱۸ کلنۍ د سن پوره کول دي.

۳- له سوداګریزو کړنو سره د دیوالي کېدو تړاو.

۴- پر خپل ټاکلي وخت د پورونو نه ورکړه.

**د دېوالي کېدو ډولونه:**

۱- عادي دېوالي کېدل،

۲- په تقصیر سره دېوالي کېدل،

۳- په تقلب سره دېوالي کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اتم څپرکي پوښتنې

۱- دېوالي کېدل څه ته وايي او له افلاس سره څه توپير لري؟

۲- د دې لپاره چې دېوالي کېدل تحقق ومومي، کوم شرايط لازم دي؟

۳- د دېوالي کېدو ډولونه کوم دي او ديوالي کېدل څه ډول ډلبندي شوی؟

۴- کوم اشخاص کولی شي، له محکمې څخه د دېوالي کېدو د حکم د صدور غوښتنه وکړي؟

۵- د دېوالي شوي سوداګر د اعتبار د اعادې شرايط کوم دي، شرحه يې کړئ؟

۶- څه وخت دېوالي شوی مديون د مجازات مستوجب پېژندل کېږي او ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

## بانکوالي

**ټولیزه موخه:**

د بانکوالۍ پېژندنه او د هېوادونو په وده کې د هغې رول.

**زده کړه ي موخې:** محصلان به د دې څپرکي تر لوستلو وروسته:

- بانکوالي یا بانکداري وپېژني.
- د هېواد د اقتصاد په وده کې به د بانکوالۍ رول توضېح کړای شي.
- د خصوصي بانکونو د تاسیس شرایط به وپېژني.

بانك د حکمي شــخصیت په توګه خپل قانوني حقوق او مکلفیتونه لري او د خپل شخصیت په پــام کــې نیولو سره په یوه یا څو هېوادونو کې په خپل ټاکلي قلمرو کې فعالیتونه ترسره کوي او د مرکزي بانك تر څارنې لاندې وي.

د افغانســتان د بانکوالــۍ قانون په یوولســو څپرکــو او ۱۰۱ مادو کــې د د بهرنۍ او کورنۍ پانګونې د ډېرې هڅونې او د اعتماد د راجلبولو د همغږۍ او همداشان په اقتصادي ژوندانه کې د هغه د غوره رول لوبولو په موخه د ۱۳۸۲ کال د وږي د میاشتې پر ۲۷ نېټه توشیح او نافذ شو. د قانون محتوا د سرمایوئي جوړښت د فعالیتونو د ډول او د بانکوالۍ د اداري جوړښت او تشکیل په برخه کې په افغانستان کې د بانکوالۍ د نورو قوانینو په رڼا کې د عطف او پاملرنې وړ ده.

د پورتنیو موضوعګانو په پام کې نیولو سره کولی شو بانك داسې تعریف کړو:

بانك حکمي شخص دی، چې د قانون له مخې د اعتبارونو یا پانګونې د رامنځ ته کولو په موخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر راکړه ورکړه، له خلکو څخه د پولي امانتونو اخیســتلو او یا د ورکړې وړ نورو وجوه اخیستلو پر چارو بوخت وي. د افغانســتان د بانکوالۍ قانون د یوه بانك د تاســیس لپاره عمومي او اختصاصي شرایــط پــه پام کې نیولي، ترڅو د هغو پــه رڼا کې شرکتونه خپل بانــکي فعالیتونه د بانك په توګه ترسره کړای شي.

## د بانك د تاسیس آرونه ( شرایط )

بانــك، د بانکوالــۍ د قانون د ۱۷ مادې په پام کې نیولو سره د یوه یا څو تنو حکمي یا حقیقي اشــخاصو په وسیله د موســس یا ونډه لرونکي په توګه تاسیسیږي. کله چې د موسسې غړي خپله لیکلې غوښتنه مرکزي بانك ته وړاندې کړي او خپل برخوال یا سهم لرونکي معرفي کړي، په حقیقت کــې مرکزي بانــك د بانکوالۍ چارو د قوانینــو په رڼا کې هغه د شرکت پــه ډول د بانك د قانوني جوړښت پر بنسټ د بانکونو د ثبت په دفتر کې ثبتوي او د بانك قانوني څرنګوالی د افغانستان بانك له خوا چې په دې زمینه کې مالي او پولي سیاستونه تصویب شوي، واضیح او روښانیږي.

**لومړی:** وروسته له دې چې بانك د بانکونو د ثبت په دفتر کې ثبت شي، موسسې نه شي کولی د افغانستان بانك له لیکلي اجازې پرته خپل قانوني جوړښت او تشکیل ته بدلون ورکړي. د پورتنیو طرحه شــویو ټکو په پام کې نیولو سره په ښــه توګه څرګندیږي، چې د افغانســتان بانك واك لري، چې د خصوصي بانکونو فعالیتونه وڅاري او له متني او شــکلي پلوه د بانکوالۍ په سیســتم کې د قواعدو نظم او همغږي وساتي.

**دویم:** د بانك د تاسیس لپاره د اساسنامې شتون حتمي او اړین دی. د بانك اساسنامه یو رسمي ســند دی، چې له مخې یې د بانك موخې، د فعالیتونو ډول، د مدیرانو د واك او مســوولیت حدود او سرمایوئي جوړښــت، په ځانګړې توګه واکمن یا اســتحقاقي سهام د یوه بانك د بانکي محصولاتو پــه پام کې نیولــو سره مجاز ګڼل کیږي. د مرکــزي بانك له خوا د خصوصي بانك د اساســنامې تر تصویب وروسته، خصوصي بانك نه شي کولی په هغه کې بدلونونه وارد کړي، ځکه امکان لري چې د تعدیلاتــو راوړل له هغو پولي او مالي سیاســتونو سره ټکر ولري، چې د افغانســتان بانك له خوا تصویب شوي وي.

**دریم:** د بانك له تاســیس سره په تړاو د هغه پانګوالي جوړښــت هم یوه حتمي او اړینه چاره ده. یانې د یوه بانك د تاسیس لپاره د بانکي مقرراتو په پام کې نیولو سره د پانګې شتون د تاسیس له ارکانو څخه یو رکن تشــکیلوي. مرکزي بانك د بانك د تاسیس پر مهال لړترلږه د هغه د اولیه او د ورکړې وړ پانګې د میزان د ټاکلو واك د بانك د پانګې له مخې درلودلی شي. بانك مکلف دی چې شتمنۍ یې د هغه د دین ( پور ) په نسبت د تاسیس پر مهال ډیره وي. بل ټکی چې د یادونې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دی، چــې پــه بانکونو کې الزامي زېرمې باید لږترلــږه ۸٪ د هغوی د ورځنیو عوایدو له سرجمع څخه تشــکیل کړي. خصوصي بانکونه نه شي کولی چې خپله سرمایه یا الزامي زېرمې د ســهامو یا د پانګې توزیع د مرکزي بانك( د افغانستان بانك ) له قبلي اجرا پرته کمې کړي.

د بانکونو د پانګې په اړه د واکمنو ســهامو یا اســتحقاق شتون د توجه وړ دی. واکمن سهم په یوه تثبت کې له هغه مســتقیم یا نامستقیم ســهم څخه عبارت دی، چې درلودونکی یې له پانګې یــا د توجــه وړ د نفوذ د اعمال له امکان څخه د ډېرې رایو درلودونکی کېږي. د یادونې ده چې په اداره کې یو تثبت چې ســهام په کې شــتون ولري، قانون قیودات او محدودیتونه وضعه کړي دي، چې د افغانستان د بانکوالۍ د قانون په ۲۱ ماده کې یې یادونه شوې ده.

**څلورم:** بل شرط چې د بانك د تاسیس لپاره اړین او مهم دی، هغه د بانك اداري جوړښت دی، یانې بانك باید یو قانوني تشــکیل ولري او د هغو اشــخاصو موجودیت ( اسناد ) چې په بانکي رتبو کې شامل شوي، د افغانستان بانك ته وړاندې شي. هر بانك باید لاندې تشکیلات ولري:

۱ – د ونډه والو یا سهم لرونکو عمومي مجمعه ( د بانك د تصمیم نیولو تر ټولو لوړه مرجع ).

۲ – د څارنې پلاوی، د ادارې او بانکي فعالیتونو د څارنې د مسوول په توګه.

۳ – عامل پلاوی، د بانك د اجرایوي چارو او بودیجې د مسوول په توګه.

۴ - د ارزونــې او څېړنــې کمېټه، د حســابوالۍ چــارو، او د عامل پلاوي د غــړو د انتصاب د څرنګوالي په اړوند کنټرول او داخلي ارزونې مســوولیت لري او د ارزونې کمېټه باید د غوښــتنې پرمهال د هغوی جواز مرکزي بانك ته پشنهاد او اجازه یې وغواړي.

د پورتنیو موضوعګانو په پام کې نیولو سره ویلی شو، چې د یادو شویو شرایطو په پام کې نیولو سره یو شرکت د بانکي فعالیتونو په موخه رامنځ ته او ثبتېږي. کله چې شرکت رامنځ ته او ثبت شي، د غوښتنې پړاو د بانکوالۍ د جواز د اخیستلو پر بنسټ رارسېږي.

## بانکي اجازه لیکونه یا جواز

د سوداګریزو شرکتونو لپاره چې دبانکې فعالیتونو د ترسره کولو غوښتنه لري دجواز دصدور په صورت کې یې دوه موضوعګانې په پام کې نیول کیږي، جدیدالتاســیس شرکت او موجودي شرکت. دې شرکتونو ته د جواز ورکړه د افغانســتان د بانکوالۍ د قانون د اتمې مادې په پام کې نیولو سره صورت مومي.

مرکــزي بانــك، د یوه بانــك، د هغه د فرعي دفترونــو او څانګو د لغوه کولــو او جواز ورکولو یوازېنۍ مرجع ده. په واقعیت کې د یوه شرکت ټول بانکي فعالیتونه د داســې سند له مخې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، چې د يوې واکمنې مرجع له خوا د بانکوالۍ د جواز په توګه ورکړل شــوی وي. په حقيقت کې د بانکوالۍ جواز هغه اجازه ليك دی چې د بانکي فعاليتونو او پانګوالۍ په موخه د افغانستان بانك له خوا يوه شرکت ته ورکول کېږي.

د يادونې دیادوني وړ ده دهغو شرکتونو دابتدائي بانک مجزا چې دقانون له مخې ثبت اورامنځته شوي بايد تر۲۵۰ مليونه افغانيواوياهغه مفادی کمه نوي چې دافغانستان بانک له لاری ټاکل شوي وي. لــړ نــه وي، د بانکوالۍ جواز د افغانســتان بانك له خوا صادرېــږي. د بانکوالۍ د جواز له تر لاســه کولو وروســته د نافذو قوانينو په پام کې نيولو سره د هېواد د بانکوالۍ په ســاحه کې کولی شي فرعــي دفترونه او څانګې پرانيزي. له فرعي دفترونــو څخه موخه هغه ځای دی، چې په هغه کې بانکي قانوني راکړه ورکړه ترسره کېږي او يا هم ټولې يا ځينې د بانکوالۍ چارې مخ ته وړي.

داخــلي بانك نه شي کولی د افغانســتان بانك له موافقې پرته فرعــي داخلي دفترونه يا څانګې ولري. همداشان جوازونه او اجازه ليکونه د افغانستان بانك له خوا د يوې نامحدودې مودې لپاره د اعتبــار وړ او د انتقــال وړ نه دي او د هغو الزاميت او مرعي الاجرا توب د صدور له نېټې څخه نافذ دی.

بلــه موضوع چې د يوه خصوصي بانك او د هغه د فعاليتونو په اړه مطرح کېږي داده، چې پر داخــلي بانکونو سربېره غیرمقيم بانکونه هم کولی شي پــه يوه هېواد کې فرعي دفترونه او څانګې ولــري. پــه دواړو حالتونو کې د دې ډول څانګو رامنځ ته کــول  د هېواد د نافذو قوانينو له مخې ارزول کېږي، د مديرانو وړتيا، د داخلي ارزونې مناسبوالی، د اټکل شويو مالي فعاليتونو مناسبوالی او د مرکزي بانك هر قناعت د يادو فعاليتونو د تضمين پر بنسټ د افغانستان بانك له خوا صورت مومي.

## د بانکوالۍ فعاليتونه

د نافــذو قوانينو په رڼــا کې د بانکونو د فعاليتونو ډول او څرنګولی د افغانســتان د بانکوالۍ قانون په ۳۳ ماده کې بيان شوی دی. د بانکي فعاليتونو په پام کې نيولو سره چې يو  بانك يې ترسره کوي، نه شي کولی له نورو بانکي فعالينو سره د عامل، اســتازي، په عمده او پرچون ســوداګرۍ  يا صنعتي، حمل و نقل، کرنې، کب نيولو، کانونو، ودانيو کې شريك شي، چې ممانعت د قانون له خوا الزامي نه وي او ياد فعاليت موقتي وي او د موخو د ترلاسه کولو لپاره يې لازم وي، بانك د مرکزي بانك د قناعت تر ترلاسه کولو وروسته کولی شي  د دوام د ميعاد په ټاکلو فعاليت ترسره کړي.

## په بانك کې متوليت

کــه چېــرې د خصوصي بانکونو د فعاليتونــو په جريان او اداره کې د افغانســتان بانك له خوا نيمګړتيــاوې ومونــدل شي، د بانکوالۍ د قانون د ۵۳ مادې له مخې د مرکزي بانك له خوا ياد بانك

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته متولي ټاكل كېږي. متولي په حقيقت كې د يوې ټاكلې مودې لپاره ټاكل كېږي، بياځلي احيا كول او د بانك چارې په لاس كې اخلي او د بانك له شـتمنيو، دفترونو، اسـنادو او زېرمو څخه مواظبت او كنټرول كوي.

كـه چېـرې د بانك مالي وضعيت په داسـې حالـت كې وي چې د بانـك د انحلال موضوع په اجبـاري يـا اختياري ډول مطرح شي، د متولي په انتصـاب سره د بانك د مديرانو واك او صلاحيت ځنډول كېږي. متولي د بانك د مجددې احيا په موخه كولى شي د خپل واك يوه برخه د شرايطو وړ كاركوونكو او مديراتو ته وركړي. هغه شخص چې د بانك د متولي په توګه انتصاب كېږي د بانك د بياځلي احيا په اړوند د خپلو دندو د ترسره كولو په برخه كې يوازې د افغانسـتان بانك پر وړاندې مسـوول دى. كه چېرې د افغانسـتان بانك وګوري چې د متولي له انتصاب سره سره د مركزي بانك لپاره د بانك اداره او فعاليتونه مطلوبې او د ډاډ وړ پايلې نه لري، په دې حالت كې د بانك انحلال مطرح كېږي.

## د بانك انحلال

د بانكوالۍ د قانون د منځپانګې له مخې د بانك انحلال په دوو صوتونو كې مطرح كېږي. يو اختياري انحلال او بل اجباري انحلال.

**الف- د بانك اختياري انحلال:** اختياري انحلال په هغه حالت كې مطرح كېږي چې د مالېكينو د تصميم پر بنسټ د بانكي اجازه ليك او جواز د لغوې پر بنسټ د غوښتنې په وړاندې كولو سره، د بانك دفترونه، څانګې او نمايندګۍ له مركزي بانك څخه غوښتنه وكړي. په دې حالت كې د بانك د انحلال پروسـه د افغانسـتان بانك تر څارنې لاندې صورت مومي، بانك مكلف دى خپل مدارك، اسناد او دفترونه د مركزي بانك په واك كې وركړي او د تصفيې عمليه د هغه له مخې ترسره كېږي. د بانـكي اجـازه ليك او جواز د لغوه كولو په تړاو د ديوالي كېدو كړنې او بلاخره انحلال د بانكوالۍ د قانون له مخې صورت مومي.

**ب- د بانك اجباري انحلال:** اجباري انحلال د افغانسـتان بانك د تصميم له امله صورت مومي او دا تصميم په يوه ډېره خوربدونكې رسمي ورځپاڼه كې خپرېږي او يا د بانك د داينينو د عريضې د وړاندې كولو له امله صورت مومي. په دې موخه د افغانسـتان بانك له خوا د پام وړ بانك لپاره يـو متولي انتصابېږي او د بانك ټوله شـتمني، مدارك، مصادرې او امـلاك خوندي كېږي. د انحلال او تصفيې نور موارد د بانكوالۍ د قانون په ۶۳ ماده كې څرګند شـوي دي. د بانكونو په هكله د انحلال د پروسـې ترسره كول او ديوالي كېدو كړنې د خاصو قواعدو او شـكلياتو تابع دي، چې د لاندې دلايلو پر بنسټ پيلېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – بانك چې مالي مسوولیتونه ( پورونه ) د وخت د پوره کېدو پر مهال ور نه کړي.

۲ – د بانك پانگه له هغې پانگې څخه چې الزامي گڼل کېږي، ۷۵ سلنه کمه وي.

۳ – د بانك د شتمنیو ارزښت د هغه د  پورونو تر ارزښت لږ وي.

له پورتنیو دلایلو اســتنباطېږي، چې د بانکونو د دیوالي کېدو په اړوند، د دیوالي کېدو قانون او نور اړوند تقنیني اســناد د پلي کېدو وړ نه دي. کله چې د پام وړ بانك د دیوالي کېدو غوښــتنه د مرکــزي بانــك له خوا ومنل شي، بانك دیوالي اعلانېږي او د بانــك د تصفیې مدیر او متولي د دیوالي کېدو کړنې عملاً پیلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نهم څپرکي لنډيز

بانك له حکمي شـخصيت څخه عبارت دی، چې اکثره د سـهامي شرکت پــه ډول بانکي کړنې ترسره کوي. په بانکي کړنو کې لاندې کړنې شـاملېږي: د پانګونو منل، د جاري حسـابونو افتتاح، د پورونو ورکول، د اسـنادو له مخې د معاملاتو ترسره کول، په سهامو پورې اړوندې کړنې او د پيسو لېږد رالېږد، پولي معاملات او د نجيبه فلزاتو پر بنسـټ معاملې، د اماناتو په حسـاب کې د پيسـو اېښودل او نور.

د بانك د تاسيس آړونه ( شرايط )

بانــك، د بانکوالــۍ د قانون د ۱۷ مادې په پام کې نيولو سره د يوه يا څو تنو حکمي يا حقيقي اشخاصو په وسيله د موسس يا سهام لرونکي په توګه تاسيسېږي.

وروسته له دې چې بانك د بانکونو د ثبت په دفتر کې ثبت شي، موسسې نه شي کولی د مرکزي بانك له قبلي او کتبي اجازې پرته د بانك جوړښت او تشکيل ته بدولون ورکړي.

د بانك د تاسيس لپاره د يوې اساسنامې شتون اړين دی او همداشان د بانکي مقرراتو په پام کې نيولو سره د بانك د پانګې شـتون بنسـټيز رکن دی. د بانك د تاسيس لپاره بل شرط قانوني تشکيل دی، چې کارکوونکي يې د افغانستان بانك د رتبو پر بنسټ ټاکل کېږي.

کله چې د موسسـې غړي خپله ليکلي غوښـتنه مرکزي بانك ته وړاندې کړي او خپل برخوال يا سـهم لرونکي معرفي کړي، په حقيقت کې مرکزي بانــك د بانکوالۍ چارو د قوانينو په رڼا کې او د شرکت په ډول د بانك د قانوني جوړښــت پر بنســټ هغه د بانکونو د ثبت په دفتر کې ثبتوي او د بانك قانوني څرنګوالی د افغانستان بانك له خوا چې په دې زمينه کې مالي او پولي سياستونه تصويب شوي، واضيح او روښانېږي.

د افغانستان بانك د بانکونو د لغوه کولو او جواز ورکولو لومړنۍ مرجع ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نهم څپرکي پوښتنې

۱- بانک څه شی دی او د بانك کړنې یا عملیات څه ډول دي؟

۲- د یوه بانك د تاسیس لپاره کوم شرایط لازم دي؟

۳- کومه مرجع د بانك د جواز د صدور یا لغوه کولو صلاحیت لري؟

۴- متولي څوك دی او په کومو حالاتو کې د مرکزي بانك له خوا ټاکل کېږي؟

۵- د بانك انحلال څه مفهوم لري او د بانك انحلال په څو ډوله دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

## د سوداګریزو شخړو حل

**تولیزه موخه:**

د سوداګریزو شخړو د هواري بېلابېلې لارې، د سوداګریز حاکمیت پېژندنه، په دې برخه کې له قوانینو سره بلدتیا او منځګړیتوب.

**د زده کړې موخې:** محصلان به د دې څپرکي تر لوستلو وروسته پر لاندې موضوعګانو پوه شي:

- د سوداګریزو شخړو هوارول.
- د سوداګریزو شخړو د هواري لارې چارې.
- سوداګریز حاکمیت.
- منځګړیتوب.

سوداګریزې شخړې له دوو لارو هوارېږي، یوه قضایي حل لاره ده چې په محکمه پورې اړوندېږي او بله یې ناقضایي حل لاره ده، چې د جوړجاړي او یا دې قضیې له اړخونو څخه د اشخاصو په غوره کولو سره هوارېږي.

### قضايي حل لارې

په هر هېواد کې د سوداګریزو شخړو د هواري او څېړلو په موخه سوداګریزې محکمې جوړې شوي، چې یوازې د یوه قضایي ارګان په توګه سوداګریزې شخړې هواروي. البته سوداګریزې محکمې د هر هېواد د قضایي نظام پر بنسټ جوړېږي. د بېلګې په توګه په مصر کې سوداګریزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمې له قضات څخه تشکیلېږي. حال دا چې په تونس، فرانسه او ځینو نورو هېوادونو کې، پر قضات سربېره، سوداګر هم په سوداګریزو محکمو کې شاملېږي. د فرانسې په اوسني قانون کې په سوداګریزو محکمو کې یوازې سوداګر شاملېږي. د افغانستان قانون د سوداګریزو محکمو تشکیل له ۳۰۴ تر ۳۰۹ مادو پورې بیانوي چې د لومړي څپرکي اړوند دي او سوداګریزو محاکمو د اصولو د قانون په شپږم باب کې سوداګریزه دعوا د ابتدایه سوداګریزو محکمو اړونده وي. دغه محکمې له رییس او دوو غړو څخه چې د قضات له جملې څخه دي، تشـــکیلېږي. د قضایي شروطو په هکله چې په غړیتوب یا ریاســـت باندې ګومارل کېږي، د افغانستان قانون د اداري او وظیفه یي اړتیاوو له مخې ځینې شرایط وړاندې کړي دي. د بېلګې په توګه هغه قاضي چې په کابل کې د سوداګریزې ابتدایه محکمې د رییس په توګه وړاندیز کېږي، باید د رتبې له پلوه لومړۍ رتبه وي. هغه کســـان چې له کابله بهر پر یاد بست ګومارل کېږي، که دویمه رتبه هم وي، کولی شي پر یاد پوست باندې وټاکل شي. همداشـــان په کابل کې د دې محکمو غړي باید دویمه رتبه وي او تر کابل بهر درېیمه رتبـــه هم کېدای شي. البته د کابل او ولایتونو ترمنـــځ دغه توپیر چې قانون ټاکلی دی، د توجیه وړ دی، ځکه عموماً په پلازمېنه کې د سوداګریزو فعالیتونو حجم او اندازه ډېر وي، دا پخپله ایجابوي، چې په پلازمېنه کې قضات باید ډېره تجربه ولري.

### د حکم په وسیله د شخړو حل

د دې پروســـې پر بنســـټ د قضیې دواړه لوري د شخړو د پېښېدو په صورت کې د دې پر ځای چـــې قضـــا او محاکمو ته مراجعه وکړي، د اړخونو په توافق یو یا څو تنه د حکم په توګه ټاکي او د شـــخړو د هوارې ټول واک ورکوي، چې دا پروسه د تحکیم په نامه هم یادېږي. احیاناً عقد کوونکي د ستونزو د حل دا کړنلاره د عقد په متن کې ځای  پر ځای کوي، په دې مانا چې په عقد کې لیکي، چې (د ســـتونزو د پېښـــېدو په صور کې د هغو حل د حکم د ټاکلو او د هغه د پرېکړې له لارې مومو) په دې ډول حالت کې، هره ستونزه چې رامنځ ته کېږي، د تحکیم په وسیله هوارېږي. هغه شرط چې په عقد کې ځای پر ځای کېږي، د ( تحکیم د شرط) په نامه یادېږي.

احیانـــاً که عقـــد کوونکي دا ډول شرط په قرارداد کې ذکر نه کړي، خو د شـــخړې تر پېښـــېدو وروسته، په خپل منځ کې خاص تفاهم لاسلیك کړي او دې ته متعهد شي، چې شخړه به یې د حکم ټاکلو او پرېکړې له لارې هوارېږي، دغه تفاهم چې د شخړې تر پېښېدو وروسته ترسره شوی وي، د (تحکیم د وثیقې) په نامه یادېږي.

د تحکیم شرط عموماً د عقد په متن کې درج وي او کله هم د بېل عقد په ترڅ کې د شـــخړو تر پېښـــېدو مخکې په هغه تعهد ترسره کېږي. بناً هغه عنصر چې د تحکیم د شرط او د تحکیم د وثیقـــې ترمنـــځ تمیز رامنځ ته کوي، په اصلي عقد کې لیکل او یا په هغه کې نه لیکل دي. د تحکیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرط دادی، چې د شخړو تر پېښېدو مخکې پر هغه تعهد شوی وي، خو د تحکیم وثیقه هغه ده، چې دواړه لوري د شخړې تر پېښېدو وروسته مخ ور اړوي.

د یادونــې وړ ده چــې د تحکیم شرط که هر څومره د عقد په متن کې ذکر شــوی وي، د یوه مســتقل عنصر پــه توګه پېژندل کېږي او له هغه سره تعامل صــورت مومي. نو له دې امله حتا د عقد د بطلان په صورت کې، دا شرط د خپل اســتقلالیت له نظره، صحیح شمېرل کېږي او له مخې یې عمل ترسره کېږي. خو دا چې د بطلان سبب دې شرط ته هم راجع شي، د بېلګې په توګه عقد د اهلیت د ناقض شــخص له خوا لاســلیك شــوی وي، په دې حالت کې عقد د دواړو د تحکیم په شرط سره باطل ګڼل کېږي، لازمه د تحکیم او د شخړو د نورو ډولونو ترمنځ تفکیك وشي. د بېلګې په توګه کله چې یو شــخص د قضیې له یوه لوري څخه، د یوه داســې عنصر د ټاکلو په موخه چې قانــوني تــصرف یې هغه ته احتیاج لري، وټاکل شي، هغه په تحکیم کې نه شــو ویلی، مثلاً د پیر او پلــور پــه عقد کې که دواړه لوري د جنس ده چې د بیې لپاره دریېیم شــخص وټاکي، دا ډول تفاهم تحکیم نه ګڼل کېږي.

## د حکمونو شرطونه

حکم کېدای شي یو یا تر یوه ډېر اشــخاص وي، په دې شرط چې شــمېر یې جفت نه وي، له دې پرته به تحکیم باطل وي. د هغوی د ټاکلو په هکله باید ووایو: ممکن د اصلي عقد په وســیله صورت ومومي او یا د مســتقل عقد په واســطه، په دې شرط چې د هغه خلاف خاص قانون شتون ونــه لــري. . هر وګړی کېدای شي د حکم په توګه وګومارل شي، که هغه ډاکتر وي، که انجنیر وي او که بل څه، خو په دې شرط چې بشــپړ مدني اهلیت ولري. د اهلیت ناقصان لکه، محجور او هغه څــوك چې د جنایت له امله له مدني حقونو بــې برخې وي، مفلس تر هغه وخته چې خپل اعتبار ترلاسه کوي، پر دې پوست باندې ټاکل کېدای نه شي.

د بهرنیــو اتباعو په اړه بېلابېل لیدلوري شــتون لري، مثلاً د ایټالیا پــه قانون کې حکم باید له ســیاسي حقونو لــه هغې جملې د انتخاب د حق لرونکی وي، هغــه شرط چې حکم توب د بهرنیو اتباعو لپاره هم کېدای شي حکم وي. بل شرط چې د حکمانو لپاره وړاندې شــوی، دا دی چې دغه پوســت ته نوماند شــخص باید قانوناً د دې دندې له احراز څخه منعه شوی نه وي، ځکه احیاناً د ځینو هېوادونو قانون، ځینې اشــخاص د دې دندې له ترسره کولو څخه منعه کړي دي. لکه څنګه چې د مصر قضایي قانون د هرې رتبې لرونکي قضات له حکمیت څخه منعه کړي دي.

کــه څــه هم لــه مزاحمت پرته وي، مګر دا چــې د قضایي پلاوي له عالي شــورا څخه په دې برخه کې اجازه ترلاسه کړي. بل شرط دادی حکم په هغه شخړه کې چې پرېکړه یې پر غاړه اخلي مصلحت ونه لري. د حکم د اختیاري او اجباري ټاکل وجود لري. د حکم ټاکل هغه وخت اختیاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، چې هغه ته مراجعه د خلکو په اراده وي او په سمه مانا حکم هم همدغه دی. کله کله قانون اجباري حکم تنظیموي، د دعوا لورو ته لازمه ده، د شخړې د حل لپاره له حکم څخه مرسته وغواړي. که څه هم موږ پر دې باور یو، چې د اجباري تحکیم نظریه، حکم د هغه له اصلي مانا څخه خارجوي.

## د حکم له خوا د حکم صادرېدل

د حکمو له خوا حکم تر پټې مداولې وروسته صادرېږي، دا جواز نه لري چې په هغه کې له دوی سره څوك ګډون وکړي او قرار یې د رایو په اکثریت صادرېږي. که اکثریت شتون ونه لري، ډله( ګروه ) لږترلږه له دوو ګروپونو څخه په یوه پورې تړل کېږي. حکمان مکلف دي چې په ټاکلي وخت کې حکم صادر کړي، چې دا موده غالباً په قرارداد کې ذکر کېږي. که چېرې د قرارداد حد ذکر نه وي، ټاکلې موده د تحکیم تر منلو وروسته دوې میاشتې ده. که د حکمانو حُکم تر ټاکلي میعاد وروسته صادر شي، باطل دی. خو د دعوا لوري کولی شي د مودې پر تمدید باندې په ښکاره ډول اتفاق وکړي. د حکم صدور باید د شخړې د موضوع د ښکاره دلایلو پر بنسټ وي.

## حکم د افغانستان په قانون کې

په حکم پورې اړوندې موضوعګانې د سوداګریزو محاکماتود اصولنامې په ۲۰۸ او ۲۳۰ مادو کې د شرط پر بنسټ ذکر شوي دي، چې په عقد کې راغلې او د شخړې تر پېښېدو وروسته پر هغه توافق صورت مومي. البته د تفاهم په صورت کې حکم یا حکمان د دواړو لورویو له خوا غوره کېږي. د یادونې ده چې د حکمیت او منځګړیتوب په هکله پر ۱۳۸۶ کال دوه بېل بېل قوانین د ولسمشر د تقنیني فرمان په وسیله نافذ او مرعی الاجرا شول، چې د ۱۳۸۵ کال په ۹۱۳ ګڼه رسمي جریده کې خپاره شوي او د تصویب په موخه ملي شورا ته وړاندې شوي دي.

## د حکمیت د حُکم د نه اعتبار حالتونه

۱ – کله چې د حکم حُکم د هېواد د قانون خلاف وي،

۲ - کله چې د حکم حُکم د دعوا له موضوع څخه انحراف کړی وي او له موضوع سره اړه ونه لري،

۳ – په هغه صورت کې چې د حکم حُکم تر ټاکلې مودې وروسته اصدار شوی وي.

۴ – کله چې د حکم حُکم په سوداګریزه محکمه کې له موجودو رسمي اسنادو سره په مخالفت کې صادر شوی وي.

## منځګړیتوب

منځګړیتوب د سوداګریزو شخړو د غیرقضایي هواري یوه بله لار ګڼل کېږي. د منځګړیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخــه لکــه د حکمیت غونډې ده. تر څو د دعوا لوریو ته د چټکې، عادلانه او بې طرفه حل لارې زمینه برابره کړي. د یادونې ده چې د سوداګریزو شخړو په غیرقضایي حل لارو کې، د قضیې لوري د دعوا پر چټك هوارېدو سربېره ټمه لري، چې هوارول یا حل و فصل کول په بې طرفه او عادلانه ډول تــرسره شي او همداشــان د هغوی دعوا د امکان تر بریــده د هغوی د روابطو په حدودو کې پاتــې شي او ثالث اشــخاص له هغې څخه خبر نه شي، ترڅــو د هغوی اعتبار او اعتماد د هغوی د معامله کوونکو او مشتریانو پر وړاندې زیانمن نه شي.

## د منځګړي تعریف(۱)

منځګړی له یوه یا څو حقیقي اشــخاصو څخه عبارت دی، چې د ســوداګریزې شخړې د دواړو لوریو په موافقه، د شخړې د هواري په موخه ټاکل کېږي. له یاد تعریف څخه دې پایلې ته رسېږو، چې یو حکمي شخص د منځګړي په توګه نه شي غوره کېدلی.

## د منځګړیتوب تعریف(۲)

منځګړیتــوب هغه عملیه ده، چې د هغې پر بنســټ منځګړی د دواړو لوریو په غوښــتنه او توافق، د سوداګریزې او اقتصادي شخړې د چټك، بې طرفه او عادلانه حل لپاره اقدام کوي.

## د حکمیت او منځګړیتوب ترمنځ توپیر

د حکــم د حُکــم خلاف، په حکمیت کې چې تر قانوني پړاوونو وروســته پــه ځانګړې توګه د واکمنــې محکمې له قراره د شــخړې پر لوریو الزامیت لري، د شــخړې وړاندیز شــوې حل لاره د منځګــړي له خوا پر دواړو لوریو باندې له دوه اړخیز موافقت پرته د تحمیل وړ نه وي. د یادونې ده، چې دا توپیر کولی شــو په کارول شــویو اصطلاحاتو کې ومومو. په حکمیت کې د حکم د حُکم خبره مهمه ده، حال دا چې په منځګړیتوب کې د وړاندیز شــویو حل لارو په اړه خبرې کېږي. له بله اړخه ویلی شــو چې منځګړیتوب ډېر مســوولیت لري، ځکه پر منځګړي باندې د بې طرفه او عادلانه حل لارې او هڅو اعتماد کېږي، چې وروسته حل لار د دواړو لوریو د تایید وړ ګرځي.

البتــه په حکمت کې هم حکم باید بې طرفي رعایت کړي، خو امکان لري د هغه حُکم چې پر قانوني او حقوقي دلایلو ولاړ وي، د شخړې د یوه لوري لپاره غیرعادلانه وبرېښي.

## د منځګړي ټاکل

منځګــړی اصــولاً د دعوا د دواړو لوریو له خوا ټاکل کېږي، لــه دې پرته او په ځانګړې توګه د طرفینــو د نــه توافق په صورت کې د ټاکلو په هکله یا په ټــاکلي موعد کې د ټاکلو د مکلفیت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مراعاتول، کېدای شي محکمې ته د مراجعې له لارې د منځګړي د ټاکلو موضوع هواره شي. خو په عمــل کــې ډېر لږ واقع کېږي، چې طرفین د موافقې په صــورت کې منځګړي ته د رجوع په اړه، د منځګړي دټاکلو په هکله خپل مکلفیت رعایت نه کړي.

### د منځګړیتوب پیل، له دواړو لوریو سره کتنه او د طرحې وړاندې کول

د منځګړیتــوب عملیه هغه مهال پیلېږي، چې د شــخړې لــوري د منځګړي د حضور او ګډون پــه اړه توافــق وکړي. منځګړی کولی شي له طرفینو سره یو ځای او یا په بېله توګه کتنه وکړي او یا اړیکې ورسره ونیسي. منځګړی کولی شي، د منځګړیتوب د عملیې په هر پړاو کې د شخړې د هوارې پــه اړه یــادو لوریو ته طرحې وړاندې کړي. دا امکان د دې زمینــه برابروي، چې منځګړی د خپلو طرحو په هکله د شــخړې د طرفینو ملاحظات ترلاســه او په دې پوه شي، چې ایا مطروحه طرحه کولی شي د طرفینو د تفاهم وړ وګرځي یا دا چې بهتره ده، چې د نورو طرحو د لټولو اقدام وکړي.

پــه ټولــو حالاتو کې منځګړی مکلف دی، چې د منځګړیتــوب د عملیې په ترسره کولو کې له طرفینــو سره منصفانــه چلند وکړي، یانې دا چې د هغوی حقونه د مســاواتو پــه رعایتولو سره د طرفیتو هر یوه طرف ته د خبرو کولو او په غونډو کې د لازمو کتنو حق ورکړي.

### د ګتې اخیستنې وړ مدارك

هغه مدارك چې د شخړې د طرفینو له خوا د یوې محکمې، یا حکم یا حکمیت بورډ پر وړاندې د منلو وړ وي، د منځګړیتوب په عملیه کې هم د وړاندې کولو وړ وي او منځګړی کولی شي د حل د لارو د وړاندیز په موخه له هغو څخه ګټه واخلي.

### د منځګړیتوب پای

منځګړیتوب په لاندې حالاتو کې د عقد له نېټې یا اعلام وروسته پای ته رسېږي:

**الف:** د طرفینو له خوا د شخړې د هوارې هوکړه لیك د عقد یا لاسلیك په صورت کې.

**ب:** په هغه صورت کې چې منځګړی اعلان کړي، چې د منځګړیتوب په عملیه کې تر دې ډېره مساعي د توجیه وړ نه ده.

**ج:** په هغه صورت کې چې طرفین د منځګړیتوب عملیه منځګړي ته اعلان کړي.

**د:** پــه هغــه صورت کــې چې یو له طرفینو څخــه په طرف یا نورو طرفونــو او منځګړي ته د منځګړیتوب د عملیې پای اعلان کړي ( د منځګړیتوب د قانون ۱۶ ماده، د ۱۳۸۵ کال په ۹۱۳ ګڼه رسمي جریده کې خپره شوې).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لسم څپرکي لنډيز

سوداګريزې شخړې کېدای شي له دوو لارو حل شي، لومړی قضايي حل لارې چې د سوداګريزې محکمې له لارې حل کېږي او بل غيرقضايي حل لارې لکه ( حکميت او منځګړيتوب ) له لارې.

د حکم د ټاکلو په وسيله د شخړو هوارول داسې دي، چې د قضيې دواړه لوري د شخړو د پيښېدو پر مهال د دې پر ځای چې قضا او محکمو ته مراجعه وکړي، د دواړو لوريو په توافق يو يا څو تنه د حکم په توګه ټاکي، د شخړې د هوارولو واک او صلاحيت ورکوي او دا پروسه د تحکيم په نامه يادېږي. عقد کوونکي د هواري دا کړنلاره د يوه عقد په متن کې ليکي.

حکميت د افغانستان په قانون کې يا د شرط پر بنسټ دی چې په عقد کې ذکر کېږي او يا د اختلافاتو تر پيښېدو وروسته د هغه په هکله توافق کېږي.

منځګړيتوب هغه عمليه ده، چې د هغې پر بنسټ منځګړی د دواړو لوريو په غوښتنه او توافق، د سوداګريزې او اقتصادي شخړې د چټک، بې طرفه او عادلانه حل لپاره اقدام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لسم څپرکي پوښتنې

۱ – سوداګریزې شخړې په څټکه او بې طرفانه توګه د کومو لارو په وسیله هوارېدای شي؟

۲ – د سوداګریزو شخړو د مناسبو حل لارو په اړه رڼا واچوئ؟

۳ – سوداګریز حکمیت څه ته وايي؟

۴ – منځګړیتوب څه شی دی؟

۵ – د منځګړیتوب او حکمیت ترمنځ توپیر څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچينې او اخځليکونه


۱ – سکني، ډاکتر ربيعا، حقوق تجارت، تهران، سنت، دريم چاپ، ۱۳۸۲.

۲ – ستوده، دوکتور حسن، حقوق تجارت، تهران، ځلورم چاپ، ۱۳۸۰.

۳ – ستانکزی پوهندوی نصرالله، ناصح، پوهنمل ولي محمد، حقوق تجارت، کابل پوهنتون، ۱۳۸۷.

۴ – قایم مقام فرهانی، محمد حسین، حقوق تجارت ورشکستگی و تصفیه، تهران پوهنتون، ۱۳۸۶.

۵ – عدليې وزارت، اصولنامه افلاس و ورشکست، کابل، ۱۳۲۹.

۶ – عدليې وزارت، اصولنامه تجارت افغانستان، ۱۳۸۴.

۷ – عدليې وزارت، قانون بانکداری، رسمي جريده، پرلپسې ګڼه، ۸۱۹، ۱۳۸۲ کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا رياست
د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library